# الصَّرف المُسَهَّل

## پښـــتـــو

تاليف

استاذ الحدیث **حضرت مولانا عبد الحلیم** (صاحب حق) صاحب

خلیفہ مجاز:

شفیق الامۃ حضرت پیر **عزیز الرحمٰن ھزاروی** نوراللہ مرقدہٗ

مدرسہ امام اعظم ابو حنیفہؒ ملحقہ انغاپور تورورسک بونیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

# اول سبق

پیژنگلو او اشنایئ- مونږ د علم الصرف نه نا اشنا یو نو اول د علم الصرف پیژنگلوضروری ده ځکه چه څوک پیژنیےنه او ته یئ ګورے نو دیته نامعلومه طلب وایئ دا بی فائدے دے- نوتاته څوک وایئ ته څه وائے ته واپے چه څه علم الصرف وایم نو ستا نه به هغو تپوس کوی چه داکوم علم دی نو تا سره به جواب نه وی نو ځکه اول د علم الصرف پیژنگلو پکار ده-

**د علم الصرف پیژنگلو-** دا هغه علم دے چه په دی علم سره دلفظونوګردان،د صیغوعلم یعنی د کلمه دخاص شکل وصورت علم او د یوی صیغه نه بله صیغه جوړولوطریقه یعنی کلمه د یو صورت او شکل نه بل صورت او شکل جوړولو طریقه معلومه شی- نو د وړومبی سبق خلاصه دا ده چه د دریوؤ خبرو معلومولوته علم الصرف وایئ- اول د صیغو پیژندل، دویم د کلماتو د ګردانولو طریقه او دریم د یوی صیغه نه بله صیغه جوړولو قاعده-

# دویم سبق

**موضوع او غرض-** موضوع د علم پیژندل هم ضروری دی چه مقصدی خبره او بے مقصده خبره معلومه شی- نو مقصدی خبری ته به قصد کوے او بے مقصده خبره به پریږدے- نو موضوع د علم الصرف کلمه ده چه دا کومه صیغه ده- یعنی کوم یو خاص شکل دے اوکوم صورت دے نو موضوع هغه شی ته وایئ چه د کوم یو شی د احوالو بیان کولے کیږی- لکه جلسه د سیرت النبی صلی الله علیه وسلم یعنی دا جلسه د سیرت په

موضوع ده- نو علم الصرف د کلمه په موضوع دے- د کلمه احوال، شکل و صورت پکښ بیانیږی نو خلاصه دری خبری شوی-

اول موضوع څه ته وایئ ؟ دوئم موضوع پیژندل ولی ضروری دی ؟ دریئم موضوع د علم الصرف څه ده ؟ جوابونه یئ واضح شو که دویم سبق په غور سره بیا ؤلولے-

**غرض د علم الصرف-** غرض پیژندل ځکه ضروری دی چه عمل ضائع نشی- فضول او عبث کښ مشغول نشی اویا فاسد غرض په نیت کښ رانشی مثلا علم دین ځله حاصلوے نو ته جواب کوے چه الله رانه رضا شی نو علم الصرف ځله حاصلوے ته جواب کوی چه کلمه غلطه اوخطا اونه لولم یعنی ضَرَبَ چرته ضَرِبَ او یَضرِبُ چرته یُضْرِبُ اونه وائم لکه صحیح اِشْرَبْ دی او ته اِشْرِبْ وایئ-

# څلورم سبق

تیر شوی دریواړوسبقونو په عربئ کښ خلاصه او د هغه ترجمه ذکر کیږی دا په یادو یاد کړئ-

**تعریف یعنی پیژنګلو د علم الصرف-** اَلصَّرْفُ عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُّعْرَفُ بِهَااَحْوالُ صِيَغِ الْكَلِمِ- اَلصَّرْفُ علم الصرف عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ د داسی قوانین پیژندلو نوم دی يُعْرَفُ بِهَااَحْوالُ صِيَغِ الْكَلِمِ چه د دغه قوانین په ذریعه یوه کلمه د بله کلمه نه د جوړولو طریقه معلومه شی-

**موضوع د علم الصرف-** مَوْضُوْعُ عِلْمِ الصَرْفِ اَلْكَلِمَةُ مِنْ حَيْثُ الصِيْغَةِ

مَوْضُوْعُ عِلْمِ الصَرْفِ موضوع د علم الصرف اَلْكَلِمَةُ کلمه ده مِنْ حَيْثُ الصِيْغَةِ چه د دی کلمه صیغه څه ده یعنی کوم خاص شکل یئ دے-

**غرض د علم الصرف-** غَرَضُ عِلْمِ الصَّرْفِ صِيَا نَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفظِيِّ فِي الصِّيْغَةِ

غَرَضُ عِلْمِ الصَرْفِ غرض د علم الصرف صِيَا نَةُ الْذِّهْنِ ذهن بچ کول عَنِ الْخَطَاءِ د خطا کیدو نه اَلْلَفْظِیِّ د لفظ د غلط ویئلونه فِی الصِیْغَةِ په صیغه کښ-

نکته- زرګر ته صیاغ وايئ دی د زرو نه یو شکل جوړوی هغه ته کالی وايئ د بنګړی، امیل او والئ په شکل کښ – د علم الصرف غرض د کلمه خاص شکل پیژندل دغه خاص شکل وصورت ته صیغه وايئ-

نو معلومه شوه چه صیغه لفظ ته وايئ چه هغه لفظ په یوخاص شکل وصورت کښ جوړ کړے شوے وی-

## پنځم سبق

دے سبق کښ یو څو بنیادی اصطلاحات ذکر کیږی-

**ضمه** ُ **پیښ ته وايئ،فتحه**زور َ **او کسره** ِ **زیر ته وايئ-**

مضموم پیښ والا حرف، مفتوح زوروالا حرف او مکسور زیروالا حرف ته وايئ-

**تنوین-** دوه زورونه،دوه زیرونه او دوه پیښونو ته وايئ – لکه: (ً ، ٍ ، ٌ )

**حرکت- زور،زیر او پیښ ته وايئ-**

**متحرک- هغه حرف دے چه حرکت والا يئ-**

**سکون او جزم- د حرکت نیش والی ته وايئ-**

**ساکن- هغه حرف دے چه په هغې حرکت نه وی-**

**تشدید-** یو حرف دوه ویئل لکه رَبٌّ کښ ب لیکلو کښ یوه ده ویئلو کښ دوه رَبْ بُ نْ او دا حرف مشدّد دے-علامت د حرف مشدّد ( ّ )دا دے

**نکته:** تنوین اصل کښ نون ساکن ته وايۍ آواز کښ دوه حرکته پيداشی لکه زَيْدٌ زَيْدُنْ ويئل کيږی۔

**حروف علت-** واؤ،الف،يا ته حروف علت وايۍ مجموعه يۍ (وای) ده- علت بيمارۍ ته وايۍ دا حروف بيمارۍ والا دی او بيمار په بيمارۍ کښ وائ وائ کوی-

**حروف لين-** واؤ ساکن وی مخکښ ترينه زور وی لکه خَوْفٌ او يا ساکن وی مخکښ ترينه زور وی لکه صَيْفٌ يا لکه لاَرَيْبَ / دے قسم واؤ او يا ته لين وايۍ-

**حروف مده-** حرف علت ساکن وی مخکښ ترينه حرکت موافق وی يعنی واؤ ساکن مخکښ ترينه پيښ ،الف ساکن مخکښ ترينه زور او يا ساکن مخکښ ترينه زير وی- نو دے واؤ ،يا او الف ته مده وايۍ لکه سُوْءٌ،جِيْء، شآء چه مجموعه په نُوْحِيْهَاَ کښ ده – دے مجموعه کښ واؤ مده يائے مده او الف مده دريواړه دی-

حرکت موافق- الف سره زور موافق دے-

واؤ سره پيښ موافق دے-

ياء سره زير موافق دے-

ځکه چه الف د دوؤ زورونو نه جوړ دے واؤ د دوؤ پيښونو نه جوړ دے او يا د دوؤ زيرونو نه جوړه ده بَ چه زور ولاړ کښ نو با الف به ترينه جوړ شی- بُ چه پيښ اُلټه کښ بُوواؤ به ترينه جوړ شی- بِ چه زير ولاړ کښ نو بِي يا ساکن به ترينه جوړ شی-

# شپږم سبق

**لفظ-** چه د انسان د خلے نه څه ګفت او وينا راوؤزی هغے ته لفظ وايۍ-

**مفرد-** چه لفظ يووی او معنی ے يوه وی دی ته مفردوايۍ- لفظ مفرد ته کلمه وايۍ او د دے درے قسمه دی- اول اسم دويم فعل او دريم حرف-

**اسم-** اسم هغه مفرد لفظ دے چه یوه معنی خایئ او په خپله معنی خودلو کښ بله کلمه ته محتاجه نه وی او په دریوؤ زمانو(ماضی،حال،مستقبل) کښ پکښ یوه هم نه وی- لکه قَلَمٌ، حَامِدٌ، زَیْدٌ، هُوَ، آنَا، آنتَ-

**فعل-** فعل هغه لفظ مفرد دے چه د یو کارکولومعنی ترینه فهم شی او په دریوؤ زمانو کښ پکښ یوه زمانه هم وی- لکه سَمِعَ ،حَمِدَ، ضَرَبَ، کَرُمَ، یَسْمَعُ، یَحْمَدُ، یَضْرِبُ، یَکْرُمُ-

**حرف-** حرف هغه لفظ مفرد دے چه هغه په خپله معنی خودلو کښ د بله کلمه ، اسم او یا فعل ملاویدوته محتاجه وی یعنی د اسم یا فعل سره یوځائے راشی نو هله خپله معنی ورکوی- لکه مِنْ چه د ابتداء معنی خایئ خو پخپله څه معنی نشی خودلے تر څو چه ورسره هغه شے ذکر نه شی د کوم نه چه ابتداء کیږی- لکه مِنَ الْبَیْت – إِلٰی د انتها معنی خایئ خو چه کوم شی پورے چه انتها وی هغه ورسره ذکر شی- لکه إِلٰی الْمَسْجِدْ –

مِنَ الْبَیْت( د کور نه) إِلَی الْمَسْجِدِ (جومات ته)

# اوؤم سبق

زمانه- زمانه وخت ته وایئ او زمانے درے دی-

اول ماضی- تیره شوی زمانه

دویم حال- موجوده زمانه

دریم مستقبل- راتلونکے زمانه

فعل- فعل کارته وایئ- فاعل- فاعل کارکونکی ته وایئ-

فعل ماضی- هغه فعل دے چه تیره شوے زمانه خایئ لکه ضَرَبَ (هغه وهل کړیدی) تیره شوے زمانه کښ-

فعل مضارع-هغه فعل دے چه موجوده یا ائینده زمانه خایئ لکه یَضْرِبُ هغه فی الحال وهل کوی یا ائینده زمانه کښ به وهل کوی-

فعل امر- هغه فعل چه په هغې سره د يو کار حکم اوکړے شی لکه اِضْرِبْ اووهه ته –

فعل نهی- هغه فعل دے چه په هغې سره د يو کارنه د منع کولو حکم وی لکه لاَتَضْرِبْ وهل مه کوه ته-

فعل معروف- هغه فعل دے چه فاعل ئے معلوم وی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ زيد وهل کړيدی-

فعل مجهول- هغه فعل دے چه فاعل ئے معلوم نه وی لکه ضُرِبَ زَيْدٌ زيدوهلے شويدو ے-

فعل مثبت- هغه فعل دے چه د کار کولو خبر پکښ وی- لکه ضَرَبَ هغه وهل کړی دی-

فعل منفی- هغه فعل دے چه د کارنه کولو خبروی پکښ لکه مَا ضَرَبَ هغه وهل نه دی کړی-

# اتم سبق

اشخاص درے دی غائب ، حاضر او متکلم

غائب- هغه شخص دے چه د خبره کولو په وخت کښ موجود نه وی-

حاضر- هغه شخص دے چه د هغه سره خبره کولے شی ده ته مخاطب هم وايئ-

متکلم- هغه شخص دے چه خبره کوی او دا اشخاص د شمار په صورت کښ هم درے دی- واحد، تثنيه او جمع- واحد يو شخص ته تثنيه دوؤ ته او جمع دوؤ نه زياتو ته وايئ-

**اشخاص د جنس په اعتبار-**

اشخاص د جنس/ذات په صورت کښ دوه دی-

**١ مذکر ٢ مؤنث**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| واحد مذکرغائب | تثنیه مذکرغائب | جمع مذکرغائب | واحد مؤنث غائب | تثنیه مؤنث غائب | جمع مؤنث غائب | واحد مذکرحاضر |
| تثنیه مذکرحاضر | جمع مذکرحاضر | واحد مؤنث حاضر | تثنیه مؤنث حاضر | جمع مؤنث حاضر | واحد متکلم مذکر و مؤنث | جمع متکلم مذکر و مؤنث |

دماضی او مضارع صیغې- دماضی او مضارع څوارلس صیغې دی- درې د مذکر غائب، درې د مؤنث غائب، درې د مذکرحاضر، درې د مؤنث حاضراو دوه د متکلم دی-

# نهم سبق

دمذکر غائب ړومبۍ صیغه واحد دپاره،دوئمه تثنیه د پاره او دریمه د جمع د پاره دغه شانې مؤنث غائب،مذکر حاضر اومؤنث حاضر صیغې فهم کړه-او دمتکلم ړومبۍ صیغه واحد مذکر او واحد مؤنث دواړو دپاره ده او دویمه صیغه د څلورو د پاره ده یعنی تثنیه مذکر،تثنیه مؤنث جمع مذکر او جمع مؤنث د پاره ده-

# لسم سبق

د ماضی معروف مثبت د غائب شپږ صیغې دا دی-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَعَلَ | فَعَلَا | فَعَلُوْا | فَعَلَتْ | فَعَلَتَا | فَعَلْنَ |

یا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ضَرَبَ | ضَرَبَا | ضَرَبُوْا | ضَرَبَتْ | ضَرَبَتَا | ضَرَبْنَ |

یا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نَصَرَ | نَصَرَا | نَصَرُوا | نَصَرَتْ | نَصَرَتَا | نَصَرنَ |

د فعل ماضی معروف مثبت صرف کبیر څوارلس صیغې دی – مونږ به يئ په دوؤ سبقونو کښې جدا جدا ذکر کوؤ– دلته شپږ صیغېذکر شوې- باقی اته صیغې به بل سبق کښې ذکر شی –

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | ړومبۍ | فَعَلَ یا لکه ضَرَبَ یا لکه نَصَرَ | صیغه د واحد مذکرغائب |
| ۲ | دوئم | فَعَلَا یا ضَرَبَا یا نَصَرَا | صیغه د تثنیه مذکرغائب |
| ۳ | درئم | فَعَلُوْا یا ضَرَبُوْا یا نَصَرُوْا | صیغه د جمع مذکرغائب |
| ۴ | څلورم | فَعَلَتْ یا ضَرَبَتْ یا نَصَرَتْ | صیغه د واحد مؤنث غائب |
| ۵ | پنځم | فَعَلَتَا یا ضَرَبَتَا یا نَصَرَتَا | صیغه د تثنیه مؤنث غائب |
| ۶ | شپږم | فَعَلْنَ یا ضَرَبْنَ یا نَصَرْنَ | صیغه د جمع مؤنث غائب |

اول دا شپږ واړه صیغې بغیر ترجمه کلکې یادے کړے شی او بیا د مشق سوالونه حل شی نو یوؤلسم سبق به ؤروستو ویئل شی -

## سوالات-

س ۱ - د ماضی معروف مثبت شپږ صیغې ګردان ؤکړۍ-

س ۲ – ضَرَبْنَ د څه صیغه ده- س ۳ – ضَرَبُوْا د څه صیغه ده-

س ۴- تثنیه مؤنث غائب صیغه جوړه کړۍ ؟جواب پنځم نمبر صیغه ده-

س ۵ – هغې دوؤ سړو وهل کړی دی دد ے عربی جوړه کړۍ- جواب ئے د ضرب نه ورکړۍ تثنیه مذکرغائب دوئم نمبر صیغه-

س ۶ – هغې یو ے ښځے مدد کړ ے د ے د د ے عربی جوړه کړۍ – جواب یۍ د نَصَرَ د ګردان نه ورکړۍ واحد مؤنث غائب څلورم نمبر صیغه –

كَتَبَ- قَتَلَ- شَغَلَ- فَتَحَ- ظَهَرَ- شَكَرَ- ذَكَرَ- دَخَلَ- خَرَجَ- طَلَعَ- مَنَعَ-

دد ے شپږو صیغو دغائبګردان اوکړۍ- (مثلًا كَتَبَ كَتَبَا كَتَبُوا كَتَبَتْ كَتَبَتَا كَتَبْنَ دغه شان ددی نورو هم ګردان وکړۍ!

هغې یو ے ښځے قرآن اولوستو- د قَرَءَ نه څلورم نمبر صیغه دد ے عربی ده-جوړه ئې کړه-

هغې دوؤ ښځو خوراک اوکو- د اَكَلَ نه پنځم نمبر صیغه دد ے عربی ده- جوړه ئې کړه-

هغې دوؤسړو لیکل کړیدی - د کَتَبَ نه دوئم نمبر صیغه دد ے عربی ده- جوړه ئی کړه۔

هغې ټولو ښځو کهولاؤ کړو - د فَتَحَ نه شپږم نمبر صیغه دد ے عربی ده- جوړه ئی کړه۔

# یؤلسم سبق

د ماضی معروف مثبت د حاضر شپږ صیغې-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَعَلْتَ | فَعَلْتُمَا | فَعَلْتُمْ | فَعَلْتِ | فَعَلْتُمَا | فَعَلْتُنَّ |

یا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ضَرَبْتَ | ضَرَبْتُمَا | ضَرَبْتُمْ | ضَرَبْتِ | ضَرَبْتُمَا | ضَرَبْتُنَّ |

یا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نَصَرْتَ | نَصَرْتُمَا | نَصَرْتُمْ | نَصَرْتِ | نَصَرْتُمَا | نَصَرْتُنَّ |

د فعل ماضی مثبت صرف کبیر څوارلس صیغې دی- شپږ په لسم سبق کښ تیری شوی او شپږ دلته ذکر کولے شی -

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | اووم | فَعَلْتَ یا لکه ضَرَبْتَ یا لکه نَصَرْتَ | صیغه واحد مذکر حاضر |
| ۸ | اتم | فَعَلْتُمَا یا لکه ضَرَبْتُمَا یا لکه نَصَرْتُمَا | صیغه تثنیه مذکر حاضر |
| ۹ | نهم | فَعَلْتُمْ یا لکه ضَرَبْتُمْ یا لکه نَصَرْتُمْ | صیغه جمع مذکر حاضر |
| ۱۰ | لسم | فَعَلْتِ یا لکه ضَرَبْتِ یا لکه نَصَرْتِ | صیغه واحد مؤنث حاضر |
| ۱۱ | یولسم | فَعَلْتُمَا یا لکه ضَرَبْتُما یا لکه نَصَرْتُمَا | صیغه تثنیه مؤنث حاضر |
| ۱۲ | دولسم | فَعَلْتُنَّ یا لکه ضَرَبْتُنَّ یا لکه نَصَرْتُنَّ | صیغه جمع مؤنث حاضر |

اوس دا شپږ واړه صیغې بغیر ترجمے نه یادے کړئ بیا سوالات حل کړئ-

# سوالات

س ۱ – دماضی حاضر شپږ صیغې بغیر ترجمې ګردان کړئ؟

س ۲ – د غائب او حاضر دولس واړه صیغې ګردان کړئ؟

س ۳ - فَعَلْتِ یا ضَرَبْتِ یا نَصَرْتِ د څه صیغه ده؟

س ۴- تاسو دوؤ سړو وهل کړیدی – عربي يئ څه ده – جواب يئ د ضَرَبَ نه ورکړئ تثنیه مذکر حاضر اتم نمبر صیغه ده- د فَعَلْتُمَا په شکل کښ-

س۵- فَعَلْتُم یا ضَرَبْتُم یا نَصَرْتُم د څه صیغه ده ؟

س ۶- تا یوے ښځے وهل کړیدی – دا عربئ ته نقل کړئ - جواب يئ د ضَرَبَ نه ورکړئ واحد مؤنث حاضر لسم نمبر صیغه ده –

س ۷- ضَرَبْتُنَّ د څه صیغه ده او ترجمه ئې څه ده ؟ جواب کښ وهل ترجمه کوه – تیره زمانه کښ ټولو زنانؤ مؤنث حاضر ترجمه کښ اووایه – نو جواب دا شو چه تاسو ټولو ښځو وهل کړیدی-

س ۸- تاسو دوؤ ښځو مدد کړید ے ،عربي يئ څه ده ؟ جواب يئ د نَصَرَ ګردان نه ورکه صیغه تثنیه مؤنث حاضریوؤلسم نمبر صیغه-د فَعَلْتُمَا په شکل۔

س ۹- تَرَکَ، وَجَدَ، غَسَلَ، بَلَغَ، کَسَبَ، طَلَبَ، رَفَعَ، خَدَمَ، قَصَدَ، قَطَعَ، ظَلَمَ-

دد ے ټولو نه د ماضی حاضر شپږصیغې اووایه- جواب يئ مثلاً تَرَکْتَ، تَرَکْتُمَا، تَرَکْتُمْ، تَرَکْتِ، تَرَکْتُمَا، تَرَکْتُنَّ- دغه شان دا نور ے جوړ ے کئ-

<u>س ۱۰- د دی جملو عربي جوړه کئ-</u>

۱- تا یو ے ښځے پریخود ے د ے- د تَرَکَ نه واحد مؤنث حاضر صیغه لکه تَرَکْتِ دد ے عربي ده-د فَعَلْتِ په شکل۔

۲- تاسو ټول سړی اورسیدئ- عربئ جواب کښ د بَلَغَ نه جمع مذکر حاضر صیغه-د فَعَلْتُمْ په شکل۔

۳- تاسو دواړو ظلم کړيدے- عربي جواب کښ د ظَلَمَ نه تثنيه مخاطب صيغه-د فَعَلْتُمَا په شکل۔

۴- ته يو سړے داخل شوے- جواب يې عربئ کښ فَعَلْتَ د دَخَلَ نه ورکه- فَعَلْتَ په وزن دَخَلْتَ راغے نو دائے عربي شوه چه ته يو سړے داخل شوے-

۵- تاسو ټولو سړو قصد کړے دے. فَعَلْتُم په شکل۔ د قَصَدَ نه جواب ورکه دغه بيئ عربي شی يعنی قَصَدْتُم-

# دولسم سبق

د متکلم دوه صيغے د فعل ماضی معروف مثبت-

| | |
|---|---|
| فَعَلْتُ | فَعَلْناَ |

يا

| | |
|---|---|
| ضَرَبْتُ | ضَرَبْناَ |

يا

| | |
|---|---|
| نَصَرْتُ | نَصَرْناَ |

د فعل ماضی معروف مثبت صرف کبير څوارلس صيغے پوره شوے -

ديارلسم - فَعَلْتُ يا لکه ضَرَبْتُ يا لکه نَصَرْتُ صيغه واحد متکلم-

څوارلسم – فَعَلْناَ يا لکه ضَرَبْناَ يا لکه نَصَرْناَ صيغه تثنيه ،جمع متکلم-

اوس دا دوه صيغه غور سره يادے کړئ-

**سوالات**

س ۱ د فعل ماضی معروف مثبت څوارلس واړه صيغو ګردان اوکړئ ؟

س ۲ د غائب څو صيغے دی ؟ د حاضر څو صيغے دی؟ د متکلم څو صيغے دی ؟

س۳ ما وهل کړیدی د دی عربی جوړه کۀ ،جواب یۀ د ضَرَبَ نه ور کړۀ- د صیغه واحد متکلم د فَعَلْتُ په شکل کښ-

ما یو ے ښځے وهل کړیدی د دی عربی جوړه کۀ ؟جواب یۀ یو دے-دا هم د فَعَلْتُ په شکل د ضَرَبَ نه جوړ که۔

مونږ دوؤ سړو وهل کړیدی- مونږ دوؤ ښځو وهل کړیدی-

مونږ ډیرو سړو وهل کړیدی- مونږ ډیرو ښځو وهل کړیدی-

جواب یۀ یو دے د ضَرَبَ نه یۀ جوړ کۀ د فَعَلْنا په شکل- صیغه تثنیه ،جمع متکلم-

ما یو ے ښځے پریخودل کړیدی- ما یو سړی پریخودل کړیدی- ددی عربی جوړه کۀ- جواب یۀ یو دے د تَرَکَ نه د فَعَلْتُ په شکل جوړ کۀ صیغه واحد متکلم فعل ماضی معروف مثبت-

مونږ ټولو سړو وینځلی دی- مونږ ټولو ښځو وینځلی دی-

مونږ دوؤ سړو وینځلی دی- مونږ ټولوښځو وینځلی دی- جواب یۀ یو دے د غَسَلَ نه د فَعَلْناَ په شکل جوړ کۀ څوارلسمه صیغه ده-

مونږ دوه سړی خارج شوی یو - مونږ دوه ښځی خارج شوی یو- مونږ ټول سړی خارج شوی یو - مونږ ټولے ښځے وتلی یو-د دے عربی څه ده ؟ جواب یۀ یو دے د خَرَجَ نه د فَعَلْناَ په شکل جوړ که څوارلسمه صیغه ده-

څه یو سړے داخل شوے یم- څه یوه ښځه داخل شوے یم- د دی عربی جوړه که؟

جواب یۀ یو دے د دَخَلَ نه د فَعَلْتُ په شکل جوړ که دیارلسمه صیغه ده-

مونږ مدد کړیدے دوؤ سړو یا دوؤ ښځو یا ډیرو سړو یا ډیرو ښځو د دے عربی جوړه که؟ جواب یۀ یو دے د نَصَرَ نه د فَعَلْنَا په شکل جوړ که څوارلسمه صیغه جمع متکلم-

# دیارلسم سبق

ماضی معروف کښ عین دریواړه حرکته َ ، ِ ، ُ راتلے شی – نو د ماضی معروف وزنونه درے دی- فَعَلَ ، فَعِلَ او فَعُلَ لکه نَصَرَ ، سَمِعَ ، کَرُمَ چه په عین زور یۓ دغه ګردان تیرشو یعنی د فَعَلَ ، نَصَرَ ، ضَرَبَ وغیره څوارلس صیغے تیرے شوے – اوس فَعِلَ ګردان دا دے-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فَعِلَ | فَعِلَا | فَعِلوُا | فَعِلَتْ | فَعِلَتاَ | فَعِلنَ | فَعِلْتَ |
| فَعِلْتُمَا | فَعِلْتُمْ | فَعِلْتِ | فَعِلْتُمَا | فَعِلْتُنَّ | فَعِلْتُ | فَعِلْناَ |

یا لکه

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سَمِعَ | سَمِعَا | سَمِعُوْا | سَمِعَتْ | سَمِعَتاَ | سَمِعْنَ | سَمِعْتَ |
| سَمِعْتُمَا | سَمِعْتُمْ | سَمِعْتِ | سَمِعْتُمَا | سَمِعْتُنَّ | سَمِعْتُ | سَمِعْناَ |

یا لکه

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شَرِبَ | شَرِبَا | شَرِبُوْا | شَرِبَتْ | شَرِبَتَا | شَرِبْنَ | شَرِبْتَ |
| شَرِبْتُمَا | شَرِبْتُمْ | شَرِبْتِ | شَرِبْتُمَا | شَرِبْتُنَّ | شَرِبْتُ | شَرِبْنَا |

دغه شان حَفِظَ، رَحِمَ، حَمِدَ، قَرِبَ، عَمِلَ ماضی مکسورالعین دے یعنی عین باندی زیر دے د

فَعِلَ په شکل دی-

د فَعِلَ ګردان اوشو اوس د فَعُلَ ګردان-

ماضی معروف مضموم العین چه په عین یۓ پیښ وی-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فَعُلَ | فَعُلَا | فَعُلُوْا | فَعُلَتْ | فَعُلَتَا | فَعُلْنَ | فَعُلْتَ |
| فَعُلْتُمَا | فَعُلْتُمْ | فَعُلْتِ | فَعُلْتُمَا | فَعُلْتُنَّ | فَعُلْتُ | فَعُلْنَا |

یا لکه

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کَرُمَ | کَرُمَا | کَرُمُوْا | کَرُمَتْ | کَرُمَتَا | کَرُمْنَ | کَرُمْتَ |
| کَرُمْتُمَا | کَرُمْتُمْ | کَرُمْتِ | کَرُمْتُمَا | کَرُمْتُنَّ | کَرُمْتُ | کَرُمْنَا |

یا لکه

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شَرُفَ | شَرُفَا | شَرُفُوْا | شَرُفَتْ | شَرُفَتَا | شَرُفْنَ | شَرُفْتَ |
| شَرُفْتُمَا | شَرُفْتُمْ | شَرُفْتِ | شَرُفْتُمَا | شَرُفْتُنَّ | شَرُفْتُ | شَرُفْنَا |

دغه شان كَثُرَ - قَرُبَ – بَعُدَ –عَظُمَ - صَعُبَ - بَصُرَ –

د ماضی معروف عین درے قسمه راغے- فَعَلَ، فَعِلَ، فَعُلَ خو معنی کښ یۓ فرق نشته او صیغے یۓ هم یوشان دی-

مثلاً اوریدلی هغے یوی ښځے د دے عربی جوړه که نو جواب یۓ سَمِعَ نه جوړ که د فَعِلَتْ په شکل-

څکلی دی تا یو سړی- دد ے عربی جوړه که نو جواب یۓ شَرِبَ نه جوړ که د فَعِلْتَ په شکل-

نزدے شویدی هغه ټول سړی- دد ے عربی جوړه که نو جواب یۓ د قَرُبَ نه جوړ که د فَعُلُوْا په شکل-

# څوارلسم سبق

د فعل ماضی پوره ګردان د ترجمه او صیغه بیان- صرف کبیر فعل ماضی معروف مثبت-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | فَعَلَ | هغه یو سړی کار کړیدے | صیغه واحد مذکر غائب |
| ۲ | فَعَلَا | هغه دوؤ سړو کار کړیدے | صیغه تثنیه مذکر غائب |
| ۳ | فَعَلُوا | هغه ټولو سړو کار کړیدے | صیغه جمع مذکرغائب |
| ۴ | فَعَلَتْ | هغے یو ے ښځے کار کړیدے | صیغه واحد مؤنث غائب |
| ۵ | فَعَلَتَا | هغے دوؤ ښځو کار کړیدے | صیغه تثنیه مؤنث غائب |
| ۶ | فَعَلْنَ | هغے ټولو ښځو کار کړیدے | صیغه جمع مؤنث غائب |
| ۷ | فَعَلْتَ | تا یو سړی کار کړیدے | صیغه واحد مذکر حاضر |
| ۸ | فَعَلْتُمَا | تاسودوؤ سړو کار کړیدے | صیغه تثنیه مذکرحاضر |
| ۹ | فَعَلْتُمْ | تاسو ټولو سړو کار کړیدے | صیغه جمع مذکر حاضر |
| ۱۰ | فَعَلْتِ | تا یو ے ښځے کار کړیدے | صیغه واحد مؤنث حاضر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | فَعَلْتُمَا | تاسو دوؤ ښځو کار کړیدے | صیغه تثنیه مؤنث حاضر |
| ۱۲ | فَعَلْتُنَّ | تاسو ټولو ښځو کار کړیدے | صیغه جمع مؤنث حاضر |
| ۱۳ | فَعَلْتُ | ما یو سړی او یا ما یوے ښځے کار کړیدے | صیغه واحد متکلم |
| ۱۴ | فَعَلْنَا | مونږ دوؤ سړو یا دوؤ ښځو یا مونږ ټولو سړو یا ټولو ښځو کار کړیدے | صیغه جمع متکلم |

دغه شان څوارلس صیغے د ضَرَبَ ،ضَرَبَا ،ضَرَبُوْا اخیر پورے – نَصَرَ ،نَصَرَا ،نَصَرُوْا ..............

كَتَبَ ،كَتَبَا ، كَتَبُوْا............ حَمِدَ ،حَمِدَا،حَمِدُوْا......... فَعِلَ ،فَعِلَا، فَعِلُوْا ......... شَرِبَ ، شَرِبَا ،شَرِبُوْا ........

عَمِلَ ، عَمِلَا ، عَمِلُوْا ......... دغه شان څوارلس صیغے د فَعُلَ ، فَعُلَا ،فَعُلُوْا ........ شَرُفَ ،شَرُفَا ، شَرُفُوْا ...... تر اخراپورے سره د ترجمه او صیغے اووایه-

ماضی معروف کښ فَعَلْتُمَا صیغه دوه پیرے راغلیده دا شریکه ده صیغه تثنیه مذکر حاضر هم ده او صیغه تثنیه مؤنث حاضر هم ده- که څوک تاته وایئ چه تاسو دوؤ سړو وهل کړیدی او یا تاسو دوؤښځو وهل کړیدی د دے عربی څه ده نوجواب یئ یو دے د فَعَلْتُمَا په شکل – د ضَرَبَ نه یئ جواب ورکه وایه ضَرَبْتُمَا-

تاسو دوؤ سړو حمد کړیدے یا تاسو دوؤ ښځو حمد کړیدے د دے عربی یو شان ده د فَعِلْتُمَا په شکل د عین زیر وایه د حَمِدَ نه یئ عربی جوړه که وایه حَمِدْتُمَا-

تاسو دوه سړی شرافت والا شوی یئ – تاسو دوه ښځےشریفانے شوے یئ- د دے عربی یو شان ده د فَعُلْتُمَا په شکل دشَرُفَ نه جوړه که او عین له پیښ ورکه وایه شَرُفْتُمَا-

تاسو ټولو سړو حفظ کړیدے عربی یئ څه ده ؟ صیغه جمع مذکر حاضر د فَعِلْتُم په شکل د حَفِظَ نه جوړ که وایه حَفِظْتُمْ-

دغه شان تاسو ټولو ښځو حفظ کړیدے- صیغه جمع مؤنث حاضر ماضی معروف د فَعِلْتُنَّ په شکل د حَفِظَ نه جوړ که وایه حَفِظْتُنَّ-

## سوالات

س۱- سسَمِعَ نه پوره ګردان اوکړئ ؟  س۲- د حَسُنَ نه پوره ګردان اوکړئ ؟

س۳- حَسِبْتُمْ د څه صیغه ده ؟ س ۴- د ذَکَرُوْا ترجمه اوکړئ ؟

س ۵- رَبِحَتْ د څه صیغه ده ؟ س ۶- د رَبِحُوا ترجمه اوکړئ ؟

س ۷- خَسِرُوْا د څه صیغه ده ؟ ترجمه يې اوکړئ – س۸- حَسُنَتْ د څه صیغه ده ؟
س۹- ظَلَمْتُمَا ،ظَلَمْتُمْ ، ظَلَمُوْا د څه صیغې دی ترجمه يې اوکړئ؟

س ۱۰- كَسَبَتْ ، كَسَبْتُمْ ، كَسَبْنَا ، قَتَلُوا ، قَتَلْتُمْ ترجمه اوکړئ-

س۱۱- عربئ کښ ترجمه اوکړئ مونږ ټولو سړو حمد ؤکو- مونږ ټولو ښځو حمد ؤکه - جواب يې يو دے د فَعِلْنَا په شکل دے-

مونږ دواړو سړو حمد ؤکه- مونږ دواړو ښځو حمد ؤکه- جواب يې يو دے د فَعِلْنَا په شکل دے- د حَمِدَ نه-

ما يوسړی اوبه اوڅښلے- ما يوے ښځے اوبه اوڅښلے- جواب يې يو دے د فَعِلْتُ په شکل د شَرِبَ نه-

تاسو ټولو سړو قتل کړیدے- شکل: فَعَلْتُم۔

تاسو ټولو ښځو قتل کړیدے-شکل: فَعَلْتُنَّ۔

هغو دوؤ سړو ظلم کړیدے- شکل :فَعَلَا۔

هغو دوؤ ښځو ظلم کړیدے- شکل :فَعَلَتَا۔

تاسو دوؤ سړو حفظ کړیدے- شکل :فَعِلْتُما۔

تاسو دوؤ ښځو حفظ کړیدے-شکل :فَعِلْتُما۔

هغه يوسړے لرے شویدے- شکل :فَعُلَ د بَعُدَ نه۔

هغه يوه ښځه لرے شوی ده-شکل :فَعُلَتْ د بَعُدَ نه۔

ته یوسړے لرے شوے يئ-شکل :فَعُلْتَ د بعُدَ نه۔

ته یوه ښځه لرے شوے يئ- فَعُلْتِ د بعُدَ نه۔

# پنځلسم سبق

د ماضی مجهول جوړولو طریقه – دماضی معروف آخری حرف پخپل حال پرېږده او د

اخر نه مخکښ زیر ورکړه – که زیر نه وؤ باقی حرکت والا حرف که وی هغه له پیښ ورکه نو ماضی مجهول به جوړ شی- لکه ضَرَبَ نه ضُرِبَ سَمِعَ نه سُمِعَ گردان فعل ماضی مثبت مجهول-

| | | |
|---|---|---|
| فُعِلَ | ؤکړےشوهغه یوسړے- | صیغه واحد مذکرغائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلَا | کړی شویدی هغه دوه سړی | صیغه تثنیه مذکر غائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلُوْا | کړی شویدی هغوی ټول سړی | صیغه جمع مذکر غائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلَتْ | کولے شویده هغه یوه ښځه | صیغه واحد مؤنث غائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلَتَا | کولے شویدی هغه دوه ښځے | صیغه تثنیه مؤنث غائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْنَ | کولے شویدی هغه ټولے ښځے | صیغه جمع مؤنث غائب فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتَ | ته یوسړے کولے شوے يئ | صیغه واحد مذکر حاضرفعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتُمَا | تاسو دوه سړی کولے شوے يئ | صیغه تثنیه مذکر حاضر فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتُمْ | تاسو ټول سړی کولے شوے يئ | صیغه جمع مذکر حاضر فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتِ | ته یوه ښځه کولے شوے يئ | صیغه واحد مؤنث حاض فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتُنَا | تاسو دوه ښځے کولے شوے يئ | صیغه تثنیه مؤنث حاض فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْتُنَّ | تاسو ټولے ښځےکولے شوے يئ | صیغه جمع مؤنث حاضر فعل ماضی مثبت مجهول |

| | | |
|---|---|---|
| فُعِلْتُ | څه کولے شوے یم یا ځه کولے شوی یمه | صیغه واحد متکلم مذکرومؤنث فعل ماضی مثبت مجهول |
| فُعِلْنَا | مونږ کولےشوے یو | صیغه تثنیه جمع متکلم مذکرومؤنث فعل ماضی مثبت مجهول |

نُصِرَ ، ضُرِبَ ، سُمِعَ ،فُتِحَ ،کُتِبَ ،قُتِلَ نه پوره پوره گردان ،ترجمه او صیغه فعل ماضی مثبت

مجهول لره ذکر کړئ-

مثلاً نُصِرَ مدد کړے شویدے هغه یو سړے - صیغه واحد مذکرغائب - فعل ماضی مثبت مجهول-

نُصِرَا مدد کړےشویدی هغه دوه سړی- صیغه تثنیه مذکر غائب - فعل ماضی مثبت مجهول- دغه شان اخر پورے-

**سوالات-**

س ۱- فعل ماضی مجهول مثبت گردان ؤکه-

س۲- ته یوسړے وهلے یئ د دے عربی څه ده؟ فُعِلْتَ په شکل یئ د ضُرِبَ نه جواب جوړ کئ-

س۳- ضُرِبْنَ د څه صیغه ده ؟ هغه ډیرے ښځے وهلے شوی دی د دے عربی څه ده ؟جواب یئ د فُعِلْنَ په شکل جوړکه دغه به یئ عربی شی-

س۴- قُتِلَ ،ذُکِرَ،حُمِدَ ،حُفِظَ ،اُمِرَ نه صرف کبیر اووایه د فعل ماضی مجهول مثبت څوارلس صیغے د ټولو گردان اوکئ-

س۵- طَلَبَ ،عَلِمَ ،مُنِعَ ،سُمِعَ، عَرَفَ ، تُرِکَ ،وَجَدَ ،نَصَرَ ، قُرِءَ ،کَتَبَ ،حَفِظَ د دے صیغو که معروف ے مجهول ے جوړ کئ که مجهول یئ معروف یئ جوړ کئ-

س۶-مَنَعْنَ ،مُنِعْنَ د څه صیغے دی کوم معروف کوم مجهول ده؟

س۷- هغه ټولے ښځے منع کړے شوی دی – عربی څه ده ؟ جواب یئ ده فُعِلْنَ په شکل جوړ کئ دغه به یئ عربی شی –

هغه دوه سړی پیژندلے شویدی – عربی یٸ څه ده ؟ جواب یٸ د فُعِلَا په شکل دے د عُرِفَ نه-

هغه ښولے ښځے پیژندلے شویدی- عربی ده فُعِلْنَ په شکل ده څه ده؟

تاسو دوه سړی طلب کړی شوی یٸ- تاسو دوه ښځے طلب کړی شوی یٸ- جواب یٸ عربیٸ کښ یو دے فُعِلْتُمَا په شکل د طَلَبَ نه څه دے ؟

تاسو ټول سړی مدد کړی شوی ئٸ– څه عربی ده؟ فُعِلْتُمْ شکل دے- د نَصَرَ نه۔

تاسو ټولی ښځے مدد کړی شوی ئٸ- څه عربی ده؟ فُعِلْتُنَّ شکل دے- د نَصَرَ نه۔

مونږ ټول سړی لیکل شوی یو- مونږ ټولے ښځے لیکل شوی یو-

مونږ دوه سړی لیکل شوی یو- مونږ دوه ښځے لیکل شوی یو- عربی جوړه که جواب ئٸ یو دے د فُعِلْنَا شکل دے د کُتِبَ نه-

تاسوسړو وهل کړیدی- تاسو ټول سړی وهلی شوی ئٸ- عربی ئٸ یوه ده صرف وزن کښ فرق دے جوړه که-د یَو وزن د فَعَلُوا دے د بل د فُعِلُوا دے د ضَرَبَ نه ۔

تاسو قتل کړیدے- تاسو وژلی شوی ئٸ-

فَعَلْتُمْ د قَتَلَ نه- فُعِلْتُمْ د قُتِلَ نه اووایه دغه به ئی عربی شی ۔

هغوئ ټولے ښځے وهلے شوی دی- عربی څه ده؟ فُعِلْنَ د ضُرِبَ نه جوړه که!

هغوئ ټولو ښځو وهل کړیدی- عربی څه ده؟ فَعَلْنَ د ضَرَبَ نه – جواب ۓ یو دے فرق په معروف او په مجهول کښ دے- صیغه د جمع مؤنث غائب ده-

هغه دوه ښځے طلب کړی شوی دی- هغه دوؤ ښځو طلب کړیدے-

فُعِلَتَا د طُلِبَ نه فَعَلَتَا د طَلَبَ نه د دے عربی یو شان ده فرق په معروف او په مجهول کښ دے- عربی ئٸ جوړکه-

عُرِفَا، عُرِفَتَا، عَرَفَ، عَرَفَتَا ترجمه اوکئ-

سُئِلَتْ ، سُطِحَتْ ، رُفِعَتْ ، نُصِبَتْ ترجمه اوکئ-

ظَلَمْنَا، ظُلِمْنَا، غَفَرَ، غُفِرَ، رُحِمَ، ظَلَمْنَ، ظُلِمْنَ، غَفَرْتُ، غُفِرْتُ، رَحِمَ ترجمه اوکړئ-

# شپاړسم سبق

فعل ماضی منفی معروف- فعل ماضی منفی مجهول- فعل ماضی منفی جوړولو طریقه دا ده چه د هرے صیغے نه مخکښ مَا اولږوه- دیته مانا فیه وائ فعل ماضی معروف فعل ماضی مجهول مثبت ټولو صیغو نه مخکښ مانا فیه راشی- فعل ماضی منفی معروف او فعل ماضی منفی مجهول به جوړ شی- ترجمه کښی به ئ ندے لفظ سیواشی- چه کار نه دے شوے- مدد نه دے کړے- یا کار نه دے کړے شوے یا مدد نه دے کړےشوے-

مثلاً فَعَلَ سره مَا اولږی نو مَا فَعَلَ به شی-

فُعِلَ سره مَا اولږی نو مَافُعِلَ به شی-

نَصَرَ سره مَا اولږی نو مَانَصَرَ به شی-

نُصِرَ سره مَا اولږی نو مَانُصِرَ به شی-

دغه شان معلوم څوارلسو او مجهول څوارلسو صیغو کښ به اول مَا اولږی ماضی معروف منفی او ماضی مجهول منفی به جوړ شی – دا خواری د طالب علم ده چی تیر شوی د مثبت گردانونو باندی بیا واپس شی اود هرے صیغے سره مَا نا فیه اولږئ او ترجمه کښ د ندے اضافه اوکړی-

مثلاً فَعَلَ دے ترجمه ئ داده چه هغے یو سړی کار کړیدے – مَافَعَلَ ترجمه هم دغه ده چه هغے یو سړی کارندے کړیدے –صرف د ندے اضافه اوشوه- او بیا به ئ هم هغه شان وائ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی منفی معلوم یعنی اخر کښ به فعل ماضی مثبت په ځائے منفی وائی -

<u>سوالات-</u>

س۱- فعل ماضی منفی معلوم گردان اوکه؟

س۲- فعل ماضی منفی مجهول گردان اوکه- جواب ئے اسان دے فَعَلَ ،فَعَلَا ، فَعَلُوْا اخیره پورے- اووایه سره د مَا نه مَافَعَلَ، مَافَعَلَا، مَافَعَلُوْا اخیره پورے-

دوئم جواب هم اسان دے فُعِلَ، فُعِلَا، فُعِلُوْا ټول گردان اوکئ مخکښ ترینه مَا لږوه مَافُعِلَ، مَافُعِلَا، مَافُعِلُوْا اخیره پورے-

س۳- نَصَرَ ، سَمِعَ ، مَنَعَ ، مَرِضَ ، حَسَدَ ټولو نه منفی معلوم جوړ که- جواب ئے آسان دے- دهرے صیغے نه د گردان څوارلس صیغے پوره کړئ او دهرے صیغے سره مَانَا فیه وائی -

س۴- هغه حسد ندے کړے- تا حسد نه دےکړے عربی څه ده؟

جواب یئ مَافَعَلَ د حَسَدَ نه - جواب یئ مَافَعَلْتَ د حَسَدَ نه-

ما حسد ندے کړے- مونږ حسد ندے کړے- عربی یئ څه ده ؟

جواب یئ مَافَعَلْتُ د حَسَدَ نه- جواب یئ مَافَعَلْنَا د حَسَدَ نه-جوړ که!

س۵- هغه سره حسد ندے کړے شوے- عربی څه دهٔ؟ جواب یئ مَافُعِلَ دے د حُسِدَ نه -
تاسره حسد ندے کړے شوے- عربی څه ده؟ جواب یئ مّافُعِلْتَ دے د مَاحُسِدَ نه-

تاسو ښځو حسد ندےکړے- عربی ئۓ د حَسَدَ نه جوړه که مَافَعَلْتُنَّ په شکل-

تاسو ښځو سره حسد ندےکړےشوے - عربی ئۓ د حُسِدَ نه مَافُعِلْتُنَّ په شکل جوړه که -

هغه ټولو ښځو سره حسد ندے کړےشوے- عربی یئ مَا فُعِلْنَ د حُسِدَ نه-

هغے ټولو ښځو حسد ندے کړے – عربی یئ مَافَعَلْنَ د حَسَدَ نه-

تاسو دواړه نه ئۓ ناجوړه شوی عربی څه ده ؟ جواب یئے مَافَعِلْتُمَا د مَرِضَ نه یعنی مَامَرِضْتُمَا-

اولسم سبق-

دفعل مضارع معروف مثبت گردان-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَفْعَلُ | يَفْعَلَانِ | يَفْعَلُونَ | تَفْعَلُ | تَفْعَلَانِ | يَفْعَلْنَ |

دفعل مضارع معروف مثبت لوئ گردان کښ هم ځوارلس صيغې دی خومونږ دلته ړومبئ شپږ صيغې راؤړی او باقی اته صيغې به بل سبق کښ راؤړو-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | يَفْعَلُ | هغه يو سړے اوس کار کوی يا به ايئنده زمانه کښ کوی | صيغه واحد مذکرغائب فعل مضارع معلوم |
| ٢ | يَفْعَلَانِ | هغه دوه سړی اوس کار کوئ يا به ايئنده زمانه کښ کوئ | صيغه تثنيه مذکرغائب فعل مضارع معلوم |
| ٣ | يَفْعَلونَ | هغه ټول سړی اوس کار کوئ يا به ايئنده زمانه کښ کوئ | صيغه جمع مذکرغائب فعل مضارع معلوم |
| ۴ | تَفْعَلُ | هغه يوه ښځه اوس کار کوی يا به ايئنده زمانه کښ کوی | صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع معلوم |
| ۵ | تَفْعَلَانِ | هغه دوه ښځے اوس کار کوئ يا به ايئنده زمانه کښ کوئ | صيغه تثنيه مؤنث غائب فعل مضارع معلوم |
| ۶ | يَفْعَلْنَ | هغه ټولے ښځے اوس کار کوئ يا به ايئنده زمانه کښ کوئ | صيغه جمع مؤنث غائب فعل مضارع معلوم |

دا شپږواړه صيغې اول بغير ترجمې نه پخې کړه بيا سره د ترجمه اوسره د صيغې د بيان نه په ښه شان سره حل کوئ اوروستو به سوالات حل کړئ-

هم دغه شانِ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَفْتَحُ | يَفْتَحَانِ | يَفْتَحُوْنَ | تَفْتَحُ | تَفْتَحَانِ | يَفْتَحْنَ |
| يَمْنَعُ | يَمْنَعَانِ | يَمْنَعُوْنَ | تَمْنَعُ | تَمْنَعَانِ | يَمْنَعْنَ |
| يَحْمَدُ | يَحْمَدَانِ | يَحْمَدُوْنَ | تَحْمَدُ | تَحْمَدَانِ | يَحْمَدْنَ |

**سوالات-**

س١-فعل مضارع مثبت معلوم شپږ صيغې بغير د معنی نه اووايه؟

س٢- د فعل مضارع جمع مذکرغائب صيغه څه ده؟

س٣- يَفْتَحنَ د څه صيغه ده معنی ئې څه ده؟

س۴- د مضارع غائب دکومو صيغو نه مخکښ ی راغلے ده؟

س۵- دکومو صيغو په اول کښ ت راغلے ده ؟

س۶- هغه دوه ښځے اوس مَنَعَ کوی- د دی عربی جوړه که؟ جواب ئے د تَفْعَلَانِ په شکل د منع نه جوړ که-

س۷- يَمْنَعَانِ د څه صيغه ده؟ تَسْمَعُ څه ترجمه ده؟ يَسْمَعُوْنَ ترجمه؟ يَحْمَدْنَ ترجمه ؟

هغه يوه ښځه به قرآن اوری- عربی ئې څه ده ؟ د تَفْعَلُ په وزن د يَسْمَعُ نه جواب جوړکه وايه تَسْمَعُ الْقُرْآنَ-

هغه يو سړے اوس قرآن اوری عربی ئې څه ده ؟ د يَفْعَلُ په وزن د سَمِعَ نه جواب جوړکه-

هغه ټولے ښځے دروازه کھولاوئ عربي ئی څه ده؟ د يَفْعَلْنَ په وزن د فَتَحَ نه جواب ؤکه وايه يَفْتَحْنَ الْبَابَ-

هغه يو سړے دروازه کھولاوئ - جواب يَفْعَلُ کښ د فَتَحَ نه-

هغه دوه سړی دروازه کھولاوئ - جواب يَفْعَلَانِ کښ د فَتَحَ نه-

هغه ټول سړی دروازه کھولاوئ - جواب يَفْعَلُوْنَ کښ د فَتَحَ نه-

هغه ټولے ښځے مدح کوی- جواب يَفْعَلُنَ کښ د مَدَحَ نه-

هغه دوه ښځے حمد کوی- جواب تَفْعَلَانِ کښ د حَمِدَ نه-

# اتلسم سبق

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تَفْعَلُ | تَفْعَلَانِ | تَفْعَلُوْنَ | تَفْعَلِيْنَ | تَفْعَلَانِ | تَفْعَلْنَ |

د فعل مضارع مثبت معلوم لوئے گردان کښ ټولے څوارلس صيغے دی- شپږ د غائب تيرے شوے او شپږ د حاضر ذکر دی دا ټولے دولس شوے دوه د متکلم پاتيے دی-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | تَفْعَلُ | ته یو سړے اوس کار کوی یا به ائینده زمانه کښ کوی | صیغه واحد مذکرحاضر فعل مضارع معلوم |
| ۸ | تَفْعَلَانِ | تاسو دوه سړی اوس کار کوئ یا به ائینده زمانه کښ کوئ | صیغه تثنیه مذکرحاضر فعل مضارع معلوم |
| ۹ | تَفْعَلُوْنَ | تاسو ټول سړی اوس کار کوئ یا به ائینده زمانه کښ کوئ | صیغه جمع مذکرحاضر فعل مضارع معلوم |
| ۱۰ | تَفْعَلِیْنَ | ته یوه ښځه اوس کار کوی یا به ائینده زمانه کښ کوی | صیغه واحد مؤنث حاضر فعل مضارع معلوم |
| ۱۱ | تَفْعَلَانِ | تاسو دوه ښځےاوس کار کوئ یا به ائینده زمانه کښ کوئ | صیغه تثنیه مؤنث حاضر فعل مضارع معلوم |
| ۱۲ | تَفْعَلْنَ | تاسو ټولے ښځے اوس کار کوئ یا به ائینده زمانه کښ کوئ | صیغه جمع مؤنث حاضر فعل مضارع معلوم |

فعل مضارع کښ تَفْعَلُ – تَفْعَلُ دوه ځله راغے –غائب کښ هم تیر شو۔ دلته هم ذکر شو - دا شریکه شوه د واحد مؤنث غائب د پاره هم راغله اود واحد مذکر د پاره هم راغله – نو ددے عربی یوه ده چه هغه یوه ښځه کارکوی اوته یو سړے کارکوے ددواړو عربی تَفْعَلُ رازی-

دغه شان فعل مضارع کښ تَفْعَلَانِ ، تَفْعَلَانِ ، تَفْعَلَانِ درے ځله راغے یو غائب کښ تثنیه مؤنث غائب ، دوئم حاضرکښ تثنیه مذکر حاضر او دریم حاضرکښ تثنیه مؤنث حاضرنودادرے ځایه شریکه شوه- ځکه تاته څوک وائ چه هغه دوه ښځے کار کوی- یا تاسو دوه سړی کار کوئ- یا تاسے دوه ښځے کار کوئ- عربی څه ده؟ تَفْعَلَانِ، تَفْعَلَانِ، تَفْعَلَانِ-

**سوالات-**

س۱- د فعل مضارع حاضر شپږ صیغے اووایه؟

س۲- د فعل مضارع غائب،حاضر دولس واړه صیغے اووایه؟

س۳- تَسْمَعُوْنَ د څه صیغه ده ؟ یَسْمَعُوْنَ د څه صیغه ده؟

س۴- د مضارع حاضر په اول کښ ی رازی که ت رازی؟

س۵- یَمْنَعُ نه مضارع جمع حاضر مؤنث جوړ که- یَفْعَلْنَ په شکل ئے جواب دے-

س۶- یَمْنَعُ نه مضارع جمع غائب مؤنث جوړ که- تَفْعَلْنَ په شکل ئے جواب دے-

س۷- ته یوه ښځه حمد کوے- عربی څه ده ؟تَفْعَلِیْنَ ئے جواب دے دحمد نه-

س۸- ته یو سړے اوبه څښے- هغه یوه ښځه اوبه څښی عربی ئی څه ده؟ جواب ئے یو دے تَفْعَلُ د شَرِبَ نه تَشْرَبُ الْمَاءَ-

س۹- تاسو دوه سړی قراٰن لولئ- تاسو دوه ښځے قراٰن لولئ- هغه دوه ښځے قراٰن لولی –عربی څه ده جواب ئې دے تَفْعَلَانِ د قَرَأَ نه-

س۱۰- ته یوه ښځه اوری یا به واؤرے- جواب ئې دے تَفْعَلِیْنَ د سَمِعَ نه-

س۱۱- تاسو ټول سړی قراٰن اورئ- جواب ئې دے تَفْعَلُوْنَ د سَمِعَ نه-

س۱۲- تاسو ټولے ښځے دروازه کولاؤ وئ- جواب ئې دے تَفْعَلْنَ د فَتَحَ نه-

س۱۳- تاسو دوه ښځے خبره اورئ- جواب ئې دے تَفْعَلَانِ د سَمِعَ نه- كَلَامًا خبره-

س۱۴- تاسو دوه سړی قراٰن اورئ- جواب ئې دے تَفْعَلَانِ (دسَمِعَ نه) قُرْاٰنًا-

# نولسم سبق

د مضارع متکلم دوه صیغے-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | اَفْعَلُ | **څه یو سړے یا یوه ښځه کار کؤم یا به کومه** | صیغه واحد متکلم مذکر و مؤنث فعل مضارع معلوم |
| ۱۴ | نَفْعَلُ | مونږ کار کوؤ یا به اوکو | صیغه تثنیه وجمع متکلم مذکر و مؤنث فعل مضارع معلوم |

دغه شان - اَمْنَعُ ، نَمْنَعُ ، اَحْمَدُ ، نَحْمَدُ ، اَشْرَبُ ، نَشْرَبُ

**سوالات-**

س۱- د غائب ، حاضر او متکلم صیغے یوڅا ئے اووایه؟

س۲- څه يو سړے مدح کؤم؟

س۳- څه يوه ښځه مدح کؤم ؟ جواب ئے يو دے اَفْعَلُ د مَدَحَ نه-

س۴- مونږ دوه ښځے حمد کوؤ- مونږ دوه سړی حمد کوؤ-

مونږ ټولے ښځے حمد کوؤ- مونږ ټول سړی حمد کوؤ-

مونږ دوه ښځےبه حمد کوؤ- مونږ دوه سړی به حمد کوؤ-

مونږ ټولے ښځےبه حمد کوؤ- مونږ ټول سړی به حمد کوؤ- عربی څه ده ؟ جواب يے يو دے – نَفْعَلُ د حَمِدَ نه يعنی نَحْمَدُ –

س۵- مضارع واحد متکلم کښ اول حرف څه دے؟ او جمع متکلم مضارع کښ اول حرف څه دے؟

س۶- د مضارع په اول کښ کم کم حرفونه رازی؟ جواب ی- ت- أ- ن-

أ يوځائ أَفْعَلُ، ن هم يو ځائ نَفْعَلُ، ی څلور ځايه يَفْعَلُ، يَفْعَلَانِ، يَفْعَلُونَ او يَفْعَلْنَ او تا اته ځايه تَفْعَلُ، تَفْعَلُ، تَفْعَلاَنِ، تَفْعَلاَنِ، تَفْعَلاَنِ، تَفْعَلُوْنَ، تَفْعَلِيْنَ او تَفْعَلْنَ-

واحد متکلم کښ أ- جمع متکلم کښ ن- واحد مذکرغائب کښ ی، تثنيه مذکر غائب کښ ی، تثنيه مؤنث غائب کښ ی او جمع مذکر غائب کښ هم ی-

واحد مذکرحاضر کښ ت، واحد مؤنث غائب کښ ت، تثنيه مذکر حاضرتثنيه مؤنث حاضرکښ ت، جمع مذکر حاضر کښ ت، واحد مؤنث حاضر کښ ت او جمع مؤنث حاضر کښ هم ت-

س۷- د مضارع مشترکه صيغے بيان کړ ؟ په يَفْعَلْنَ- تَفْعَلْنَ کښ نون ته نون د جمع مؤنث وائ- دا دوه ځايه راغلے دے – باقی صيغو اخر کښ نون ته نون اعرابی وائ او

نون اعرابی اووه ځايه دے-

س۸- نون اعرابی اووه ځايه بيان کره؟ جواب ئے آسان دے- څلور ځايه څلور واړه تثنيه يَفْعَلَانِ – درے پيرے تَفْعَلَانِ دوه جمع مذکر،غائب حاضرکښ يَفْعَلُونَ – تَفْعَلُوْنَ او بل مؤنث حاضر تَفْعَلِينَ کښ دا ټول اووه ځايه نون اعرابی شو-

س۹- نَسْمَعُ، أَشْرَبُ، أَمْنَعُ، نَفْتَحُ ترجمه اوکه-

س ۱۰- څه یوه ښځه دروازه کولاؤم - څه یوسړے دروازه کولاؤم-

څه یوه ښځه به دروازه کولاؤم - څه یوسړے به دروازه کولاؤم- جواب ئے یو دے- أَفْعَلُ الْبَابَ د فَتَحَ نه د أَفْعَلُ شکل جوړ که نو د أَفْعَلُ په ځائے أَفْتَحُ اولړوه نو أَفْتَحُ البَاَبَ شو-

مونږ دوه ښځے قرآن اورو- مونږ دوه سړی قرآن اورو-

مونږ ټولے ښځے قرآن اورو- مونږ ټول سړی قرآن اورو-

مونږ دوه ښځے به قرآن اورو- مونږ دوه سړی به قرآن اورو-

مونږ ټولے ښځے به قرآن اورو- مونږ ټول سړی به قرآن اورو- ددے عربی څه ده؟ جواب ئې یو دے نَفْعَلُ الْقُرآنَ د نَفْعَلُ په ځائے د سَمِعَ نه د نَفْعَلُ په وزن اولړوه نو نَسْمَعُ الْقُرْآنَ-

دفعل مضارع معروف مثبت پوره گردان-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| يَفْعَلُ | يَفْعَلَانِ | يَفْعَلُونَ | تَفْعَلُ | تَفْعَلَانِ | يَفْعَلْنَ | تَفْعَلُ |
| تَفْعَلَانِ | تَفْعَلُوْنَ | تَفْعَلِيْنَ | تَفْعَلَانِ | تَفْعَلْنَ | أَفْعَلُ | نَفْعَلُ |

# شلم سبق

**د فعل مضارع د جوړولو قاعده-** د ماضی معروف شروع کښې علامت د مضارع اولګوه (ی- ت – أ – ن) اخری حرف له ئې پیښ ورکړئ او داوؤه صیغو په آخرکښې نون اعرابی اولګوئ او د دوؤ صیغو په آخر کښې نون د جمع مؤنث کوم نون چه په ماضئ کښې په فَعَلْنَ کښې وو هغه به دلته باقی پریږدئ نو د فعل مضارع معروف تمامے صیغے به جوړې شی-

ی- څلور ځایه لګی واحد مذکر غائب – تثنیه مذکر غائب – جمع مذکر غائب –

جمع مؤنث غائب-

ت- اته ځایه لګی واحد مؤنث غائب- تثنیه مؤنث غائب- او شپږ صیغے د حاضر-

أ-یو ځاې لګی واحد متکلم کښ او ن هم یو ځاې لګی جمع متکلم کښ-

هغه پنځه صیغې چه په اخر کښ پیښ ورکړ هغه دا دی-

۱-واحد مذکرغائب-۲- واحد مؤنث غائب- ۳- واحد مذکرحاضر-۴- واحد متکلم-۵-جمع متکلم- یعنی **یَفْعَلُ - تَفْعَلُ – تَفْعَلُ - اَفْعَلُ – نَفْعَلُ -**

هغه اووه صیغې چه په اخر کښ نون اعرابی رازی - څلور تثنیه صیغې د دوئ نون اعرابی مکسور وی او دوه صیغې د جمع مذکر غائب وحاضر اویوه مؤنث حاضر د دوی نون اعرابی مفتوح وی-یَفْعَلانِ، درے پیرے تَفْعَلانِ،یَفْعَلُونَ،تَفْعَلُونَ،تَفْعَلِینَ۔

هغه دوه صیغې چه په هغه کښ نون د جمع مؤنث (نون فاعلی)باقی دےهغه دا دجمع مؤنث غائب- او جمع مؤنث حاضر ،یَفْعَلْنَ، تَفْعَلْنَ۔

# یویشتم سبق

د مضارع مجهول د جوړولوقاعده- علامت د مضارع له پیښ ورکه که پیښ نه وؤاوداخر نه مخکښ حرف له زور ورکه – که زور پری نه وؤ نو باقی حروف پخپل حال پریږده مضارع مجهول به جوړ شی-

د فعل مضارع مجهول ګردان

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| یُفْعَلُ | یُفْعَلَانِ | یُفْعَلُوْنَ | تُفْعَلُ | تُفْعَلَانِ | یُفْعَلْنَ | تُفْعَلُ |
| تُفْعَلَانِ | تُفْعَلُوْنَ | تُفْعَلِیْنَ | تُفْعَلَانِ | تُفْعَلْنَ | أُفْعَلُ | نُفْعَلُ |

**د فعل مضارع منفی جوړولو قاعده-** مضارع مثبت باندی لا شروع کښ راوړه نو مضارع منفی به جوړ شی-

فعل مضارع منفی معلوم-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لاَیَفْعَلُ | لاَیَفْعَلَانِ | لاَیَفْعَلُوْنَ | لاَتَفْعَلُ | لاَتَفْعَلَانِ | لاَیَفْعَلْنَ | لاَتَفْعَلُ |
| لاَتَفْعَلَانِ | لاَتَفْعَلُوْنَ | لاَتَفْعَلِیْنَ | لاَتَفْعَلَانِ | لاَتَفْعَلْنَ | لاَأَفْعَلُ | لاَنَفْعَلُ |

فعل مضارع منفی مجهول-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لاَیُفْعَلُ | لاَیُفْعَلاَنِ | لاَیُفْعَلُوْنَ | لاَتُفْعَلُ | لاَتُفْعَلاَنِ | لاَیُفْعَلْنَ | لاَتُفْعَلُ |
| لاَتُفْعَلاَنِ | لاَتُفْعَلُوْنَ | لاَتُفْعَلِیْنَ | لاَتُفْعَلاَنِ | لاَتُفْعَلْنَ | لاَأُفْعَلُ | لاَنُفْعَلُ |

منفی معلوم ترجمه نه کړ یا به اونه کی هغه یو سړے-

منفی مجهول ترجمه نه کولے کیږی یا به اونه کړےشی هغه یو سړے-

**قاعده-** د مضارع معروف عین هم د ماضی د عین په شان درے قسمه دے-ِ ُ َ -

| | | |
|---|---|---|
| یَفْعَلُ | یَفْعِلُ | یَفْعُلُ |
| یَفْتَحُ | یَضْرِبُ | یَنْصُرُ |
| یَشرَبُ | یَحْمِلُ | یَنْقُلُ |
| یَحْمَدُ | یَنْزِلُ | یَکْرُمُ |
| یَقْرَبُ یَحْزَنُ | یَعْدِلُ | یَحْسُدُ یَشْکُرُ یَکْفُرُ |

**سوالات-**

یَضْرِبُ، یَنصُرُ، یَسْمَعُ، یَفْتَحُ، یَأْکُلُ، یَکْتُبُ دمضارع خلور واړه گردانه دد ے نه جوړ کړ مثلاً یَضْرِبُ، یَضْرِبَانِ، یَضْرِیُوْنَ اخر اپورے-

یُضْرَبُ، یُضْرَبَانِ، یُضْرَبُوْنَ اخر اپورے-

لَایَضْرِبُ، لَایَضْرِبَانِ، لَایَضْرِبُوْنَ اخر اپورے-

لَایُضْرَبُ، لَایُضْرَبَانِ، لَایُضْرَبُوْنَ اخر اپورے- دغه شان د یَسْمَعُ، یَفْتَحُ، یَأْکُلُ، یَکْتُبُ نه جوړ کړ-

# دوویشتم سبق

بیان د نفی تاکید به لن- لَنْ چه په فعل مضارع داخل شی نو مضارع منفی جوړه شی-

لفظی تبدیلی- دلَنْ د وجه نه د فعل مضارع هغه پنځه صیغې منصوبِ کرځی په کوم چه پیښ وؤ نو د لَنْ د وجه نه به پری زبر راشی دے ته لَنْ ناصبه هم وایئ-او د اوؤ صیغو نه نون اعرابی غورزئ او په دوؤ صیغو کښ یَفْعَلْنَ او تَفْعَلْنَ کوم کښ چه نون د جمع مؤنث دے لفظ کښ څه عمل نه کوی دیته لفظی تبدیلی وائ-

معنوی تبدیلی- معنوی تبدیلی داده چه لَن فعل مضارع لره مثبت نه منفی ته اړوی- او د حال معنی ترینه ختموی صرف مستقبل منفی به وی او په نفی د لَنْ د وجه نه تاکید پیداکیږی-

ګردان نفی تاکید به لَنْ در فعل مضارع معروف-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَنْ يَّفْعَلَ | لَنْ يَّفْعَلَا | لَنْ يَّفْعَلُوْا | لَنْ تَفْعَلَ | لَنْ تَفْعَلَا | لَنْ يَّفْعَلْنَ | لَنْ تَفْعَلَ |
| لَنْ تَفْعَلَا | لَنْ تَفْعَلُوْا | لَنْ تَفْعَلِىْ | لَنْ تَفْعَلَا | لَنْ تَفْعَلْنَ | لَنْ اَفْعَلَ | لَنْ نَّفْعَلَ |

ترجمه- هرګز نه به کړئ هغه یو سړے - یا هیچرے به نکوی هغه یو سړے-

ګردان نفی تاکید به لَنْ در فعل مضارع مجهول-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَنْ يُّفْعَلَ | لَنْ يُّفْعَلَا | لَنْ يُّفْعَلُوْا | لَنْ تُفْعَلَ | لَنْ تُفْعَلَا | لَنْ يُّفْعَلْنَ | لَنْ تُفْعَلَ |
| لَنْ تُفْعَلَا | لَنْ تُفْعَلُوْا | لَنْ تُفْعَلِىْ | لَنْ تُفْعَلَا | لَنْ تُفْعَلْنَ | لَنْ اُفْعَلَ | لَنْ نُّفْعَلَ |

ترجمه- هرګز به نهکولےکیږی هغه یو سړے - یا هیچرے به نه کولےکیږی هغه یوسړے-د باقی صیغو ترجمه د طالب علم په ذمه ده۔

# دریشتم سبق

نفی جحد بلم جوړولو قاعده- مضارع مثبت نه منفی جوړولو دریمه طریقه داده چه لَمْ د فعل مضارع نه مخکښ راؤړے نو مضارع منفی به جوړ شی - لَمْ فعل مضارع لفظ کښ هم تبدیلی راولی او معنی کښ هم-

لفظی تبدیلی-لَمْ د مضار ع هغه پنځه صیغو له جزم ورکړئ چه په کومو باندے پیښ ؤو

او که په دغه پنځؤ صیغو په اخر کښ حرفِ علت ؤو نو بیا به هغه غورزئ او د اوؤ صیغو نه به نون اعرابی غورزئ او دوؤ صیغو کښ په لفظ کښ تبدیلی نه رازی-

معنوی تبدیلی- لَمْ فعل مضارع مثبت له ماضی منفی معنی ته ګرزئ اوس په دی کښ به د حال او استقبال معنی نه وی بلکه په تیره شوے زمانه کښ د کار نه کولو

خبر ورکۍ- یعنی کومه ترجمه چه د مَا فَعَلَ، مَا فَعَلَا، مَافَعَلُوْا ده هم دغه ترجمه د لَمْ یَفْعَلْ، لَمْ یَفْعَلَا، لَمْ یَفْعَلُوْا ده-

گردان نفی جحد به لَمْ در فعل مضارع معروف-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَمْ یَفْعَلْ | لَمْ یَفْعَلَا | لَمْ یَفْعَلُوْا | لَمْ تَفْعَلْ | لَمْ تَفْعَلَا | لَمْ یَفْعَلْنَ | لَمْ تَفْعَلْ |
| لَمْ تَفْعَلَا | لَمْ تَفْعَلُوْا | لَمْ تَفْعَلِیْ | لَمْ تَفْعَلَا | لَمْ تَفْعَلْنَ | لَمْ اَفعَلْ | لَمْ نَفْعَلْ |

ترجمه- کار نه دےکړے هغه یو سړی تیره زمانه کښ صیغه فعل مضارع نفی جحد معلوم-

گردان نفی جحد به لَمْ در فعل مضارع مجهول-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَمْ یُفْعَلْ | لَمْ یُفْعَلَا | لَمْ یُفْعَلُوْا | لَمْ تُفْعَلْ | لَمْ تُفْعَلَا | لَمْ یُفْعَلْنَ | لَمْ تُفْعَلْ |
| لَمْ تُفْعَلَا | لَمْ تُفْعَلُوْا | لَمْ تُفْعَلِیْ | لَمْ تُفْعَلَا | لَمْ تُفْعَلْنَ | لَمْ اُفعَلْ | لَمْ نُفْعَلْ |

ترجمه- نه دے کړےشوے هغه یو سړے – صیغه واحد مذکرغائب نفی جحد فعل مضارع مجهول-

# خلوریشتم سبق

**لام تاکید با نون تاکید ثقیله وخفیفه**-دمضارع په معنی کښ تاکید اوکلکوالے پیدا کولو دپاره په شروع کښ لام تاکید مفتوح او په اخر کښ نون تاکید ثقیله راؤړه- لَیَفْعَلَنَّ (خوامخوا به کۍ هغه یو سړے) – یا په شروع کښ لام تاکید مفتوح او په اخر کښ نون تاکید خفیفه راؤړه لکه لَیَفْعَلَنْ (ضروربالضروربه کوی هغه یو سړے)- نون تاکید ثقیله په ټولو صیغو کښ لګی او نون تاکید خفیفه صرف په اته صیغو کښ لګی - د تثنیه په خلورو واړو صیغو کښ او جمع مؤنث غائب، حاضر په صیغو کښ نه لګی او ده دواړه مضارع له د مستقبل د معنی سره خاص کۍ یعنی ترجمه کښ به کۍ یا اوبه کی نه وائۍ- د حال معنی به ختمه شی-

**<u>گردان لام تاکید با نون تاکید ثقیله در فعل مضارع معروف-</u>**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَيَفْعَلَنَّ | لَيَفْعَلَانِّ | لَيَفْعَلُنَّ | لَتَفْعَلَنَّ | لَتَفْعَلَانِّ | لَيَفْعَلْنَانِّ | لَتَفْعَلَنَّ |
| لَتَفْعَلَانِّ | لَتَفْعَلُنَّ | لَتَفْعَلِنَّ | لَتَفْعَلَانِّ | لَتَفْعَلْنَانِّ | لَاَفْعَلَنَّ | لَنَفْعَلَنَّ |

دفعل مضارع كومو پنځه صيغوچه په اخركښ پيښ وؤ اوس په هغې فتح وی-

**گردان لام تاكيد با نون تاكيد ثقيله در فعل مضارع مجهول-**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَيُفْعَ لَنَّ | لَيُفْعَلَا نِّ | لَيُفْعَلُنَّ | لَتُفْعَلَنَّ | لَتُفْعَلَانِّ | لَيُفْعَلْنَانِّ | لَتُفْعَلَنَّ |
| لَتُفْعَ لَانِّ | لَتُفْعَلُ نَّ | لَتُفْعَلِنَّ | لَتُفْعَلَانِّ | لَتُفْعَلْنَانِّ | لَاُفْعَلَنَّ | لَنُفْعَلَنَّ |

قاعده- نون تاكيد او نون اعرابی دواړه نه جمع كيږی-نون اعرابی اووه واړه ځايه اوغورزيدو- واؤ د جمع مذكر غائب حاضر هم اوغورزيدو- ن تاكيد ثقيله نه چه مخكښ الف راشی نو نون به مكسور مشدد وی باقی به نون مفتوح مشدد وی-
گردان لام تاكيد با نون تاكيد خفيفه در فعل مضارع معروف-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَيَفْعَلَنْ | ------ | لَيَفْعَلُنْ | لَتَفْعَلَنْ | --------- | -------- | لَتَفْعَلَنْ |
| ------ | لَتَفْعَلُنْ | لَتَفْعَلِنْ | -------- | -------- | لَاَفْعَلَنْ | لَنَفْعَلَنْ |

گردان لام تاكيد . با نون تاكيد خفيفه در فعل مضارع مجهول-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَيُفْعَلَنْ | ------- | لَيُفْعَلُنْ | لَتُفْعَلَنْ | -------- | -------- | لَتُفْعَلَنْ |
| ------- | لَتُفْعَلُنْ | لَتُفْعَلِنْ | -------- | ------- | لَاُفْعَلَنْ | لَنُفْعَلَنْ |

# پنځيشتم سبق

گردان امر حاضر معروف-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | اِفْعَلْ | ؤوكه ته يو سړے | صيغه واحدمذكرحاضر،امرحاضرمعروف |
| ٢ | اِفْعَلَا | ؤوكئ تاسو دوه سړی | صيغه تثنيه مذكرحاضر،امرحاضرمعروف |
| ٣ | اِفْعَلُوْا | ؤوكئ تاسو ټول سړی | صيغه جمع مذكرحاضر،امرحاضرمعروف |
| ۴ | اِفْعَلِیْ | ؤوكه ته يوه ښځه | صيغه واحدمؤنث حاضر،امرحاضرمعروف |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | اِفْعَلَا | ؤوکۍ تاسو دوه ښځے | **صیغه تثنیه مؤنث حاضر،امرحاضرمعروف** |
| ۶ | اِفْعَلْنَ | ؤوکۍ تاسو ټولی ښځے | **صیغه جمع مؤنث حاضر۔امرحاضرمعروف** |

اِفْعَلَا په کښ دوه پیرے راغے دا صیغه مشترکه ده تثنیه مذکرحاضراو تثنیه مؤنث حاضرکښ۔

**د امر معروف د جوړولو قاعده۔** د مضارع صیغه واحدمذکر حاضر نه علامت د مضارع ت لرے کړه بیا اوګوره چه اوس ت پسے حرف ساکن پاتے شو که متحرک – که متحرک وی نو اول کښ هیڅ مه لګوه او که ساکن وی نو عین کلمه حرکت اوګوره چه په هغے فتح یا کسره وی نو اول کښ همزه مکسور اولګوه او که ضمه وی نو همزه مضموم اولګوه اوکه په اخر کښ حرف علت وی نو هغه اوغورزوه او که نه وی نو اخر ئے ساکن که۔

لکه تَضْرِبُ نه اِضْرِبْ – تَسْمَعُ نه اِسْمَعْ – تَنْصُرُ نه اُنْصُرْ – تَعِدُ نه عِدْ –تَرمِیْ نه اِرْمِ - تَدْعُوْا نه اُدْعُ – تَخْشیٰ نه اِخْشَ او تَرْضٰی نه اِرْضَ –

قاعده- په امر کښ نون د جمع مؤنث (نون فاعلی) باقی وی نه غورزیږی او نون اعرابی غورزیږی۔

قاعده- په امر کښ چه کوم همزه په اول کښ مکسور یا مضموم سواکولے کیږی دیته همزه وصل وائۍ – یعنی د کلام درمیان کښ نه ویئل کیږی البته لیکلےشی په اول کښ خو ویئل نه شی۔

لکه فَاطْلُبْ - وَادْعُ – فَاضْرِبْ۔

**<u>سوالات۔</u>**

س۱- ذیل کلماتو عربی څه ده ؟ ۱- اولیکه ۲- مدد اوکه ۳- اوسښه ۴- دننه شه ۵- ؤوزه ۶- سجده اوکه ۷- رکوع اوکه ۸- عبادت اوکه ۹- شکر اوکه ۱۰- ذکر اوکه جواب ئۍ اسان دے دفعل مضارع حاضر صیغه معلومه که او امر ئے جوړ که۔

س۲- تَکْتُبُ، تَسْلَمُ، تَحْفَظُ، تَمْنَعُ او تَنْزِلُ نه امر جوړ که۔

س۳- تَکْتُبَانِ، تَکْتُبُوْنَ، تَمْنَعْنَ، تَنْصُرَانِ، تَشْکُرُاو تَذْکُرُ نه امر جوړ که۔

س۴- تَحْمَدُ نه امر جوړ که او ګردان ئې اوکه-

# شپږیشتم سبق

**امر حاضرمجهول او امرغائب، متکلم معروف ومجهول**-دد ے ګردانونه جدا نشته د مضارع ګردانونه هم دد ے ګردانونه دی- بس صرف دومره تبدیلی غواړی چه د مضارع په شروع کښ لِ مکسور لامِ امر راوړی او په اخر کښ هغه عمل کولےشی کوم عمل چه د نفی جحد بلم په ګردان کښ کیدو – یعنی که په اخر کښ حرف علت وی نوغورزولے به شی – ورنه اخری حرف له به هم جزم ورکولے شی اونون اعرابی به غورزولے شی اونون فاعلی به باقی وی-

**ګردان امر حاضر مجهول-**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِتُفْعَلْ | لِتُفْعَلَا | لِتُفْعَلُوْا | لِتُفْعَلِیْ | لِتُفْعَلَا | لِتُفْعَلْنَ |

ترجمه- پکاردئ چه اوکړ ے شی ته –

**ګردان امر غائب، متکلم معروف-**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِيَفْعَلْ | لِيَفْعَلَا | لِيَفْعَلُوْا | لِتَفْعَلْ | لِتَفْعَلَا | لِيَفْعَلْنَ | لِاَفْعَلْ | لِنَفْعَلْ |

ترجمه - پکاردئ چه هغوؤ اوکی-

**ګردان امر غائب، متکلم مجهول-**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِيُفْعَلْ | لِيُفْعَلَا | لِيُفْعَلُوْا | لِتُفْعَلْ | لِتُفْعَلَا | لِيُفْعَلْنَ | لِاُفْعَلْ | لِنُفْعَلْ |

ترجمه - پکاردئ چه هغه اوکړےشی-

# اوویشتم سبق

د امر په معنی کښ تاکید او زور پیداکولو دپاره دد ے په اخر کښ هم نون تاکید ثقیله خفیفه لګی- په شروع کښ لام تاکید نه لګی ځکه چه د امر په شروع کښ لام امر مکسور د مخکښ نه لګیدلے دے- او دوه حرفه جمع کیدے نشی او امر حاضر معروف د دواړو لامونونه خالی وی-

**گردان امر حاضر معروف بانون تاکید ثقیله۔**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أِفْعَلَنَّ | أِفْعَلَانِّ | أِفْعَلُنَّ | أِفْعَلِنَّ | أِفْعَلَانِّ | أِفْعَلْنَانِّ |

ترجمه۔ ضروربالضرور ؤکه۔

**گردان امر حاضر مجهول بانون تاکید ثقیله۔**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِتُفْعَلَنَّ | لِتُفْعَلَانِّ | لِتُفْعَلُنَّ | لِتُفْعَلِنَّ | لِتُفْعَلَانِّ | لِتُفْعَلْنَانِّ |

ترجمه۔ ضرور پکار دی چه ته اوکړے شی۔

**گردان امرغائب ومتکلم معروف بانون تاکید ثقیله۔**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِيَفْعَلَنَّ | لِيَفْعَلَانِّ | لِيَفْعَلُنَّ | لِتَفْعَلَنَّ | لِتَفْعَلَانِّ | لِيَفْعَلْنَانِّ | لِاَفْعَلَنَّ | لِنَفْعَلَنَّ |

ترجمه۔ هغه له پکار دی چه ضرور ؤکی۔

**گردان امرغائب و متکلم مجهول بانون تاکید ثقیله۔**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِيُفْعَلَنَّ | لِيُفْعَلَانِّ | لِيُفْعَلُنَّ | لِتُفْعَلَنَّ | لِتُفْعَلَانِّ | لِيُفْعَلْنَانِّ | لِاُفْعَلَنَّ | لِنُفْعَلَنَّ |

**گردان امر حاضر معروف بانون تاکیدخفیفه۔**

| | | |
|---|---|---|
| اِفْعَلَنْ | اِفْعَلُنْ | اِفْعَلِنْ |

**گردان امر حاضر مجهول بانون تاکیدخفیفه۔**

| | | |
|---|---|---|
| لِتُفْعَلَنْ | لِتُفْعَلُنْ | لِتُفْعَلِنْ |

**گردان امرغائب ومتکلم معروف بانون تاکیدخفیفه۔**

| | | |
|---|---|---|
| لِيَفْعَلَنْ | هغه یو سړی له پکار دی چه ضرور ؤکی | صیغه واحدمذکرغائب |
| لِيَفْعَلُنْ | هغه ټولو سړو له پکار دی چه ضرور ؤکی | صیغه جمع مذکرغائب |
| لِتَفْعَلَنْ | هغې یوی ښځے له پکار دی چه ضرور ؤکی | صیغه واحدمؤنث غائب |
| لِاَفْعَلَنْ | ماله پکار دی چه ضرور ؤکړم | صیغه واحد متکلم |
| لِنَفْعَلَنْ | مونږ له پکار دی چه ضرور ؤکړو | صیغه جمع متکلم |

گردان امرغائب متکلم مجهول بانون تاکید خفیفه۔

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لِيُفْعَلَنْ | لِيُفْعَلُنْ | لِتُفْعَلَنْ | لِأُفْعَلَنْ | لِنُفْعَلَنْ |

ترجمه- پکار ده چه اوکړےشی هغه یو سړے-

# اتویشتم سبق

دفعل نهی ګردانونه هم نور نه دی دمضارع ګردانونه د نهی هم دی – بس دومره تبدیلی ده چه دمضارع په شروع کښ لائے نهی راؤړه او په اخر د مضارع کښ هغه د نفی جحدبلم والا عمل اوکه- مضارع منفی او مضارع نهی کښ فرق دادےچه د مضارع منفی په اخر کښ پیښ وی او نون اعرابی اوحرف علت په اخر کښ باقی وی او د نهی په اخر کښ جزم وی او نون اعرابی اوحرف علت غورزیږی- اونون تاکید ثقیله او خفیفه څنګه چه په مضارع کښ رازی دغه شان نهی کښ هم رازی خو په شروع کښ لام تاکید نه رازی څکه چه نهی په شروع کښ د مخکښ نه لانهی موجود وی او دوه حرفه نه جمع کیږی-

**ګردان فعل نهی معروف-**

| | | |
|---|---|---|
| لَايَفْعَلْ | نه کوی هغه یو سړے | **صیغه واحدمذکرغائب فعل نهی معلوم** |
| لَايَفْعَلَا | نه کوی هغه دوه سړی | **صیغه تثنیه مذکرغائب فعل نهی معلوم** |
| لَايَفْعَلُوْا | نه کوی هغه ټول سړی | **صیغه جمع مذکرغائب فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلْ | نه کوی هغه یوه ښځه | **صیغه واحد مؤنث غائب فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلَا | نه کوی هغه دوه ښځے | **صیغه تثنیه مؤنث غائب فعل نهی معلوم** |
| لَايَفْعَلْنَ | نه کوی هغه ټولے ښځے | **صیغه جمع مؤنث غائب فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلْ | مه کوه ته یو سړے | **صیغه واحد مذکرحاضر فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلَا | مه کوئ تاسو دوه سړی | **صیغه تثنیه مذکر حاضر فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلُوْا | مه کوئ تاسو ټول سړی | **صیغه جمع مذکر حاضر فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلِیْ | مه کوه ته یوه ښځه | **صیغه واحد مؤنث حاضر فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلَا | مه کوئ تاسو دوه ښځے | **صیغه تثنیه مؤنث حاضر فعل نهی معلوم** |
| لَاتَفْعَلْنَ | مه کوئ تاسو ټولے ښځے | **صیغه جمع مؤنث حاضر فعل نهی معلوم** |

| | | |
|---|---|---|
| لَاَاَفْعَلْ | څه دِ اونه کړم | **صیغه واحد متکلم فعل نهی معلوم** |
| لَانَفْعَلْ | مونږ دِ اونه کړو | **صیغه جمع متکلم فعل نهی معلوم** |

گردان فعل نهی مجهول-

لَایُفْعَلْ، لَایُفْعَلَا، لَایُفْعَلُوْا اخره پورے- ؤو نه کړے شی هغه یو سړے-

گردان فعل نهی معروف بانون ثقیله-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَایَفْعَلَنَّ | لَا یَفْعَلَانِّ | لَا یَفْعَلُنَّ | لَا تَفْعَلَنَّ | لَا تَفْعَلَانِّ | لَا یَفْعَلْنَانِّ | لَا تَفْعَلَنَّ |
| لَا تَفْعَلَانِّ | لَا تَفْعَلُنَّ | لَا تَفْعَلِنَّ | لَا تَفْعَلَانِّ | لَا تَفْعَلْنَانِّ | لَا اَفْعَلَنَّ | لَا نَفْعَلَنَّ |

ترجمه- هرگز دِ نه کوی هغه یو سړے-

گردان فعل نهی مجهول بانون ثقیله-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَایُفْعَلَنَّ | لَا یُفْعَلَانِّ | لَا یُفْعَلُنَّ | لَا تُفْعَلَنَّ | لَا تُفْعَلَانِّ | لَا یُفْعَلْنَانِّ | **لَا تُفْعَلَنَّ** |
| **لَا تُفْعَلَانِّ** | لَا تُفْعَلُنَّ | لَا تُفْعَلِنَّ | لَا تُفْعَلَانِّ | لَا تُفْعَلْنَانِّ | لَا اُفْعَلَنَّ | **لَا نُفْعَلَنَّ** |

ترجمه- هرگز دِ ؤنه شی هغه یو سړے-

گردان فعل نهی معروف بانون خفیفه-

| | | |
|---|---|---|
| لَایَفْعَلَنْ | هرگز دی نه کوی هغه یو سړے | صیغه واحدمذکرغائب |
| لَایَفْعَلُنْ | هرگز دی نه کوی هغه ټول سړی | صیغه جمع مذکرغائب |
| لَاتَفْعَلَنْ | هرگز دی نه کوی هغه یوه ښځه | صیغه واحدمؤنث غائب |
| لَاتَفْعَلَنْ | هرگز مه کوه ته یو سړے | صیغه واحدمذکرحاضر |
| لَاتَفْعَلُنْ | هرگز مه کوئ تاسو ټول سړی | صیغه جمع مذکرحاضر |
| لَاتَفْعَلِنْ | هرگز مه کوه ته یوه ښځه | صیغه واحدمؤنث حاضر |
| لَاافْعَلَنْ | هرگز دی نه کوم څه | صیغه واحد متکلم |
| لَانَفْعَلَنْ | هرگز دی نه کوؤ مونږ | صیغه جمع متکلم |

گردان فعل نهی مجهول بانون خفیفه-

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لَایُفْعَلَنْ | لَایُفْعَلَنْ | لَاتفْعَلَنْ | لَاتُفْعَلَنْ | لَاتُفْعَلُنْ | لَاتُفْعَلِنْ | لَااُفْعَلَنْ | لَانُفْعَلَنْ |

ترجمه- هرگز دی نه کولےشی هغه یو سړے-

# یوکم دیرشم سبق

**فعل ماضی-**

د ماضی قسمونه شپږدی- ۱**- ماضی مطلق -۲- ماضی قریب- ۳- ماضی بعید-۴- ماضی استمراری -۵- ماضی احتمالی-۶- ماضی تمنائۍ**-

۱-ماضی مطلق- ماضی مطلق هغه ماضی ده چه د څه خبرے دلرے والی یا نزدےوالی د قید نه خالی وی- لکه فَعَلَ – جَلَسَ دماضی مطلق گردانونه هم دغه دی چه تیر شو-

۲-ماضی قریب- دا هغه ماضی ده چه په هغه کښ قید د قریب وی یعنی هغه کار اوس اوس تیره زمانه کښ شوے وی- لکه مونږ وایو فلانے اوس اوس مړ دے وخت ډیر نه دے شوے – د ماضی قریب گردان هم هغه دے خو صرف په اول کښ د قَدْ اضافه اوشی – قَدْفَعَلَ – قَدْ سَمِعَ – اخیره پورے - قَدْ فُعِلَ – قَدْ مَا فَعَلَ وغیره-

۳- ماضی بعید- دا هغه ماضی ده چه مخکښ زمانه کښ یو کار شوے وی– پخوانے زمانه –

ماضی مطلق کښ کَانَ لگولو سره ماضی بعید جوړیږی- کَانَ فَعَلَ- کَانَا فَعَلَا – کَانُوْا فَعَلُوْا

دغه شان اخیره پورے –

دد ے دپاره د کَانَ گردان ازده کړئ-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کَانَ | کَانَا | کَانُوْا | کَانَتْ | کَانَتَا | کُنَّ | کُنْتَ |
| کُنْتُمَا | کُنْتُمْ | کُنْتِ | کُنْتُمَا | کُنْتُنَّ | کُنْتُ | کُنَّا |

۴- ماضی استمراری- (ماضی ناتمام) دا هغه ماضی ده د کوم نه چه تیرے شوےزمانه کښ د

يو کار مسلسل کيدلو کول معلوم شي مضارع باندی کَانَ راشي ماضی استمراری جوړه شي- لکه ګردان د ماضی استمراری مثبت معروف-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| كَانَ يَفْعَلُ | كَانَا يَفْعَلَانِ | كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ | كَانَتْ تَفْعَلُ | كَانَتَا تَفْعَلَانِ | كُنَّ يَفْعَلْنَ | كُنْتَ تَفْعَلُ |
| كُنْتُمَا تَفْعَلَانِ | كُنْتُمْ تَفْعَلُوْنَ | كُنْتِ تَفْعَلِيْنَ | كُنْتُمَا تَفْعَلَانِ | كُنْتُنَّ تَفْعَلْنَ | كُنْتُ اَفْعَلُ | كُنَّا نَفْعَلُ |

دغه شانِ د ماضی استمراری مثبت مجهول ګردان-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| كَانَ يُفْعَلُ | كَانَا يُفْعَلَانِ | كَانُوْا يُفْعَلوْنَ | كَانَتْ تفعَلُ | كَانَتَا تُفْعَلَانِ | كُنَّ يُفعَلنَ | كُنْتَ تُفْعَلُ |
| كُنْتُمَا تُفْعَلَانِ | كُنْتُمْ تفْعَلوْنَ | كُنْتِ تفْعَلِيْنَ | كُنْتُمَا تُفْعَلَانِ | كُنْتُنَّ تفْعَلنَ | كُنْتُ اُفْعَلُ | كُنَّا نُفْعَلُ |

دغه شانِ د ماضی استمراری منفی معروف ګردان-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مَاكَانَ يَفْعَلُ | مَاكَانَا يَفْعَلَانِ | مَاكَانُوْا يَفْعَلُوْنَ | مَاكَانَتْ تَفْعَلُ | مَاكَانَتَا تَفْعَلَانِ | مَاكُنَّ يَفْعَلْنَ | مَاكُنْتَ تَفْعَلُ |
| مَاكُنْتُمَا تَفْعَلَانِ | مَاكُنْتُمْ تَفْعَلُوْنَ | مَاكُنْتِ تَفْعَلِيْنَ | مَاكُنْتُمَا تَفْعَلَانِ | مَاكُنْتُنَّ تَفْعَلْنَ | مَاكُنْتُ اَفْعَلُ | مَاكُنَّا نَفْعَلُ |

دغه شانِ د ماضی استمراری منفی مجهول ګردان-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مَاكَانَ يُفْعَلُ | مَاكَانَا يُفْعَلَانِ | مَاكَانُوْا يُفْعَلُوْنَ | مَاكَانَتْ تُفْعَلُ | مَاكَانَتَا تُفْعَلَانِ | مَاكُنَّ يُفْعَلْنَ | مَاكُنْتَ تُفْعَلُ |
| مَاكُنْتُمَا تُفْعَلَانِ | مَاكُنْتُمْ تُفْعَلُوْنَ | مَاكُنْتِ تَفْعَلِيْنَ | مَاكُنْتُمَا تَفْعَلَانِ | مَاكُنْتُنَّ تُفْعَلْنَ | مَاكُنْتُ اُفْعَلُ | مَاكُنَّا نُفْعَلُ |

۵- ماضی احتمالی (شکی)- کوم کار کښ چه شک وی تیره زمانه کښ ماضی مطلق باندی لَعَلَّمَا

راشي- ماضی احتمالی ترینه جوړه شي- لَعَلَّمَا فَعَلَ – لَعَلَّمَا فَعَلَا – لَعَلَّمَا فَعَلُوْا اخیره اپورے که معروف او که مجهول مثبت وی- او که منفی وی مخکښ ترینه لَعَلَّمَا لګوه لَعَلَّمَا مَا فَعَلَ وغیره-

**ګردان د ماضی احتمالی معروف مثبت-**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَعَلّمَافَعَلَ | لَعَلّمَافَعَلَا | لَعَلّمَافَعَلُوا | لَعَلّمَافَعَلَتْ | لَعَلّمَافَعَلَتَا | لَعَلّمَافَعَلْنَ | لَعَلّمَافَعَلْتَ |
| لَعَلّمَافَعَلْتُمَا | لَعَلّمَافَعَلْتُم | لَعَلّمَافَعَلْتِ | لَعَلّمَافَعَلْتُما | لَعَلّمَافَعَلْتُنَّ | لَعَلّمَافَعَلْتُ | لَعَلّمَافَعَلْنَا |

دغه شان د ګردان د ماضی احتمالی مجهول مثبت-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَعَلّمَافُعِلَ | لَعَلّمَافُعِلَا | لَعَلّمَافُعِلُوا | لَعَلّمَافُعِلَتْ | لَعَلّمَافُعِلَتَا | لَعَلّمَافُعِلْنَ | لَعَلّمَافُعِلْتَ |
| لَعَلّمَافُعِلْتُما | لَعَلّمَافُعِلْتُم | لَعَلّمَافُعِلْتِ | لَعَلّمَافُعِلْتُما | لَعَلّمَافُعِلْتُنَّ | لَعَلّمَافُعِلْتُ | لَعَلّمَافُعِلْنَا |

خو د ماضی احتمالی معروف او ماضی احتمالی مجهول منفی جوړولو کښ د لَعَلَّمَا نه وروستو

مَا لګولو باندی منفی جوړیږی- لکه ماضی احتمالی معروف منفی-

| | | |
|---|---|---|
| لَعَلَّمَا ما فَعَلَ | لَعَلَّمَا ما فَعَلَا | لَعَلَّمَا ما فَعَلُوا |

اخیره اپورے-

دغه شان ماضی احتمالی مجهول منفی-

| | | |
|---|---|---|
| لَعَلَّمَا مَا فُعَلَ | لَعَلَّمَا مَا فُعَلَا | لَعَلَّمَامَا فُعَلُوا |

اخیره اپورے-

۶- ماضی تمنائۍ- دا هغه ماضی ده چه د هغې نه تیره زمانه کښ دیو کار آرزو او ارمان ظاهر شی- ماضی مطلق باند لَیْتَمَا راشی ماضی تمنائۍ جوړیږی-

لکه ګردان د ماضی تمنائۍ معروف مثبت-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَیْتَمَا فَعَلَ | لَیْتَمَا فَعَلَا | لَیْتَمَا فَعَلُوا | لَیْتَمَا فَعَلَتْ | لَیْتَمَا فَعَلَتَا | لَیْتَمَا فَعَلْنَ | لَیْتَمَا فَعَلْتَ |
| لَیْتَمَا فَعَلْتُمَا | لَیْتَمَا فَعَلْتُم | لَیْتَمَا فَعَلْتِ | لَیْتَمَا فَعَلْتُما | لَیْتَمَا فَعَلْتُنَّ | لَیْتَمَا فَعَلْتُ | لَیْتَمَا فَعَلْنَا |

ترجمه- کاش چه کړےوے-

دغه شان ګردان د ماضی تمنائۍ مجهول مثبت-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَیْتَمَا فُعِلَ | لَیْتَمَا فُعِلَا | لَیْتَمَا فُعِلُوا | لَیْتَمَا فُعِلَتْ | لَیْتَمَا فُعِلَتَا | لَیْتَمَا فُعِلْنَ | لَیْتَمَا فُعِلْتَ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَيْتَمَا فُعِلْتُما | لَيْتَمَا فُعِلْتُم | لَيْتَمَا فُعِلْتِ | لَيْتَمَا فُعِلْتُما | لَيْتَمَا فُعِلْتُنَّ | لَيْتَمَا فُعِلْتُ | لَيْتَمَا فُعِلْنَا |

ترجمه- کاش چه هغه وے کړے- اخیره اپورے-

دغه شان ګردان د ماضی تمنائ معروف منفی-

| | | |
|---|---|---|
| لَيْتَمَامَا فَعَلَ | لَيْتَمَامَا فَعَلَا | لَيْتَمَامَا فَعَلُوا |

ترجمه- کاش چه هغه نوے کړے- اخیره اپورے-

دغه شان ګردان د ماضی تمنائ مجهول منفی-

| | | |
|---|---|---|
| لَيْتَمَامَافُعِلَ | لَيْتَمَامَافُعِلَا | لَيْتَمَامَا فُعِلُوا |

ترجمه- کاش چه هغه نوے کړے شوے- اخیره اپورے-

# دیرشم سبق

**د اسم فاعل بیان-** اسم فاعل هغه اسم دے چه کارکؤنکے خائ – لکه ضَارِبٌ وخونکے- کَاتِبٌ لیکونکے – ذَاكِرٌ ذکرکؤنکے – صَائِمٌ روژتی-

د جوړولو قاعده- چه کله ماضی درے حرفزی وی د اسم فاعل صیغه به د فاعل په وزن جوړیږی-

ګردان د اسم فاعل-

| | | |
|---|---|---|
| فَاعِلٌ | کؤونکے یو سړے | صیغه واحد مذکر |
| فَاعِلَانِ | کؤونکی دوه سړی | صیغه تثنیه مذکر |
| فَاعِلُوْنَ | کؤونکی ټول سړی | صیغه جمع مذکر |
| فَاعِلَةٌ | کؤونکے یوه ښځه | صیغه واحد مؤنث |
| فَاعِلَتَانِ | کؤونکی دوه ښځے | صیغه تثنیه مؤنث |
| فَاعِلَاتٌ | کؤونکی ټولی ښځے | صیغه جمع مؤنث |

ضَارِبٌ – كَاتِبٌ – سَاجِدٌ – رَاكِعٌ – نَائِمٌ - تَارِكٌ – صَادِرٌ – وَاعِدٌ – جَابِرٌ – وَافِرٌ – شَاتِمٌ – قَائِمٌ – قَاعِدٌ – نَاصِرٌ – كَاشِفٌ – وَالِدٌ – ګردان اوکئ-

# اسم مفعول

اسم مفعول هغه اسم دے چه هغه شی ښائئ چه په هغه باندی کار واقع شوے ئ – لکه مَضْرُوْبٌ وهلے شوے او مَكْتُوْبٌ ليکلے شوے-

د جوړولو قاعده- چه کله ماضی درے حرفزی وی نو د اسم مفعول صيغه واحد مذکر د مفعول په وزن رازی-

**ګردان د اسم مفعول-**

| | | |
|---|---|---|
| مَفْعُوْلٌ | کړے شوے هغه يو | صيغه واحد مذکر |
| مَفْعُوْلَانِ | کړے شوی هغوی دوه | صيغه تثنيه مذکر |
| مَفْعُوْلُوْنَ | کړے شوی هغه ټول | صيغه جمع مذکر |
| مَفْعُوْلَةٌ | کړے شوے هغه يوه | صيغه واحد مؤنث |
| مَفْعُوْلَتَانِ | کړے شوی هغے دواړه | صيغه تثنيه مؤنث |
| مَفْعُوْلَاتٌ | کړے شوی هغے ټولی | صيغه جمع مؤنث |

**د اسم ظرف بيان-**

اسم ظرف هغه اسم دے چه د کار ځائے يا وخت ښائئ- لکه مَكْتَبٌ د ليکلو ځائے- مَطْبَخٌ د پخلی ځائے – مَطْعَمٌ د خوراک ځائے - مَدْرَسَةٌ د درس ځائے-

د جوړولو قاعده- د ماضی درے حرفيزے نه د اسم ظرف دوه وزنونه دی مَفْعَلٌ- مَفْعِلٌ که د مضارع د عين په کلمه باندی پيښ وی يا زير وی نو اسم ظرف به مَفْعَلٌ رازی- لکه د يَنْصُرُ نه مَنْصَرٌ - يَفْتَحُ نه مَفْتَحٌ – يَسْجُدُ نه مَسْجَدٌ – يَعْبُدُ نه مَعْبَدٌ – يَشْرَبَ نه مَشْرَبٌ – يَطْبَخَ نه مَطْبَخٌ او د يَرْكُزُ نه مَرْكَزٌ وغيره-

او که د مضارع په عين بانديزيروی نو مَفْعِلٌ به رازی – لکه ديَضْرِبُ نه مَضْرِبٌ – يَنْزِلُ نه مَنْزِلٌ او د يَجْلِسُ نه مَجْلِسٌ-

خلاف قیاس مشهور مَسْجِدْ دے مَسْجَدْ نه وائ او مشهور مَجْلَسْ دے مَجْلِسْ ښوک نه وائ-

د اسم ظرف ګردان-

| | | |
|---|---|---|
| مَفْعِلٌ مَفْعَلٌ | د کار کولو یو ځاے یا یو وخت | صیغه واحد |
| مَفْعِلَانِ مَفْعَلَانِ | د کار کولو دوه ځایونه یا دوه وختونه | صیغه تثنیه |
| مَفَاعِلُ | د کار کولو ټول ځایونه یا ټول وختونه | صیغه جمع |

**داسم آله بیان-**

اسم آله هغه اسم دے چه دکارکولو اوزار، مشین یا آله خائ- لکه مِفْتَاحٌ کُنجی او مِکْنَسَةٌ جارو- د اسم آله درے وزنونه دی- مِفْعَلْ – مِفْعَلَةٌ – مِفْعَالٌ-

د اسم آله ګردانونه-

| | | |
|---|---|---|
| مِفْعَلٌ | دکارکولو یوه آله | صیغه واحد |
| مَفْعَلَانِ | دکارکولو دوه آلے | صیغه تثنیه |
| مَفَاعِلُ | دکارکولو ټولے آلے | صیغه جمع |
| مِفْعَلَةٌ | دکارکولو یوه آله | صیغه واحد |
| مِفْعَلَتَانِ | دکارکولو دوه آلے | صیغه تثنیه |
| مَفَاعِلٌ | دکارکولو ټولے آلے | صیغه جمع |
| مِفْعَالٌ | دکارکولو یوه آله | صیغه واحد |
| مِفْعَالَانِ | دکارکولو دوه آلے | صیغه تثنیه |
| مَفَاعِیْلُ | دکارکولو ټولے آلے | صیغه جمع |

مَفَاعِلٌ مشترک جمع داسم ظرف او اسم آله دواړوده-

# یو دیرشم سبق

**د اسم تفضیل بیان-**

اسم تفضیل هغه اسم دے چه د بل په مقابله کښ زیات والےخائ- لکه اَکْبَرُ – اَصْغَرُ -

د جوړولو قاعده- ماضي درےحرفيزی نه اسم تفضيل واحد مذکر اَفْعَلُ په وزن او واحد مؤنث د فُعْلٰی په وزن رازی- او په کوم ماضی کښ چه د دريؤحرفونونه زيات حرفونه وی نو د هغے اسم تفضيل نه رازی-

**ګردان د اسم تفضيل-**

| | | |
|---|---|---|
| أَفْعَلُ | زيات کوؤنکے يو سړے | صيغه واحد مذکر |
| أَفْعَلَانِ | زيات کوؤنکے دوه سړی | صيغه تثنيه مذکر |
| أَفْعَلُوْنَ | زيات کوؤنکے ټول سړی | صيغه جمع مذکر |
| أَفَاعِلُ | زيات کوؤنکے ټول سړی | صيغه جمع مذکر |
| فُعْلٰی | زيات کوؤنکے يوه ښځه | صيغه واحد مؤنث |
| فُعْلَيَانِ | زيات کوؤنکے دوه ښځے | صيغه تثنيه مؤنث |
| فُعْلَيَاتٌ | زيات کوؤنکے ټولے ښځے | صيغه جمع مؤنث |
| فُعَلٌ | زيات کوؤنکے ټولے ښځے | صيغه جمع مؤنث |

سوالات۔ درج ذيل نه داسم تفضيل ګردان وکړ!

اَسْمَعُ، اَنصَرُ،اَضْرَبُ،اَعْلَمُ، اَفْضَلُ، اَکْبَرُ، اَشْرَفُ۔

# دوه ديرشم سبق

وزن- د لفظونو تلَلَو (وزن کولو) دپاره علم الصرف ف- ع- ل تله مقرر کړيده چه ديته وزن وائی-

**فا کلمه** هغه حرف دے چه د ف په مقابله کښ واقع وی-

**عين کلمه** هغه حرف دے چه د ع په مقابله کښ واقع وی-

**لام کلمه** هغه حرف دے چه د ل په مقابله کښ واقع وی- لکه ضَرَبَ د فَعَلَ په وزن دے- ض د **ف** کلمه ،ر د **ع** کلمه او ب د **ل** کلمه- دغه شان سَمِعَ د فَعِلَ په وزن دے- س د **ف** کلمه ،م د **ع** کلمه او ع د **ل** کلمه-

**حروف اصلی-** هغه حروف دی چه په وزن کولو کښې ف- ع – ل مقابل وی- لکه نَصَرَ د فَعَلَ په وزن نو دی کښې ټول حروف اصلی دی- نون هم اصلی دے د ف مقابل دے- ص هم اصلی دے د ع مقابل دے او ر هم اصلی ده دل مقابل ده-

**حروف زائد-** هغه حروف دی چه په وزن کولو کښې ف- ع – ل مقابل نه وی- لکه أَكْرَمَ د أَفْعَلَ په وزن دے خو دی کښې أ زائد دے یا لکه اِسْتَغْفَرَ د اِسْتَفْعَلَ په وزن دے خو دی کښې اِس او ت زائد دی او غَفَرَ غ – ف – ر اصلی دی-

د حروف اصلی په اعتبار سره فعل په دوه قسمه دے – ثلاثی او رباعی-

ثلاثی- دا هغه فعل دے چه په هغې کښې اصلی حروف درےوی او دا پته به ئې د ماضی د اولنۍ صیغې نه لګی – لکه نَصَرَ – حَمِدَ او غَفَرَ –

رباعی- دا هغه فعل دے چه په هغې کښې اصلی حروف څلوروی- لکه دَحرَجَ- بَعْثَرَ او فَعْلَلَ په وزن-

او بیا د حروف اصلی او حروف زائد په اعتبار سره د ثلاثی او رباعی هر یو دوه دوه قسمه دی-

ثلاثی مجرد- هغه ثلاثی دے چه د ماضۍ صیغه واحد مذکر غائب کښې یو حرف هم زائد نه وی- لکه نَصَرَ- سَمِعَ او کَرُمَ-

ثلاثی مزیدٌ فیه- هغه ثلاثی دے چه د هغې د ماضۍ صیغه واحد مذکر غائب کښې څه حروف زائد هم وی- لکه اَکْرَمَ د أَفْعَلَ په وزن او اِجْتَنَبَ د اِفْتَعَلَ په وزن-

**رباعی مجرد-** هغه رباعی دے چه د ماضۍ صیغه واحد مذکر غائب کښې یو حرف هم زائد نه وی- لکه دَحرَجَ – بَعْثَرَ –

رباعی مزیدٌ فیه- هغه رباعی دے چه د هغې د ماضۍ صیغه واحد مذکر غائب کښې څه حروف زائد هم وی- لکه تَدَحرَجَ د تَفْعَلَلَ په وزن دے کښې ت زائده ده-

**بیا د ثلاثی مجرد دوه قسمه دی مُطَّرِد او شَاذ-**

مُطَّرِد- هغه ثلاثی مجرد دے چه استعمال ئې ډیر وی-

شَاذ - هغه ثلاثی مجرد دے چه استعمال ئې کم وی-

**الحاق-** په ثلاثی مجرد یو حرف دی دپاره سیوا کول چه د رباعی هَم وزن شی دیته الحاق وائې- لکه جَلَبَ نه جَلْبَبَ دا د دَحْرَجَ په وزن شو او دیته ملحق به رباعی وائې نو جَلْبَبَ ته ملحق وائې او دَحْرَجَ ته ملحق بهٖ وائې-

# درے دیرشم سبق

۱- ثلاثی مجرد مطرد- ددی پنځه بابه دی- نَصَرَ – ضَرَبَ – سَمِعَ – فَتَحَ – كَرُمَ-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | نَصَرَ يَنْصُرُ | په وزن د فَعَلَ يَفْعُلُ | اَلنَّصْرُ مدد کول |
| ۲ | ضَرَبَ يَضْرِبُ | په وزن د فَعَلَ يَفْعِلُ | اَلضَّرْبُ وهل |
| ۳ | سَمِعَ يَسْمَعُ | په وزن د فَعِلَ يَفْعَلُ | اَلسَّمْعُ اوریدل |
| ۴ | فَتَحَ يَفْتَحُ | په وزن د فَعَلَ يَفْعَلُ | اَلفَتْحُ کولا ؤل |
| ۵ | كَرُمَ يَكْرُمُ | په وزن د فَعُلَ يَفْعُلُ | اَلكَرَامَةُ بزرګ کیدل |

**۲- ثلاثی مجردشاذ-**

ددی دری بابه دی – حَسِبَ – فَضِلَ او كَادَ-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | حَسِبَ يَحْسِبُ | په وزن د فَعِلَ يَفْعِلُ | الحسب والحسبانُ ګمان کول |
| ۲ | فَضِلَ يَفْضُلُ | په وزن د فَعِلَ يَفْعُلُ | الفضلُ زیات کیدل |
| ۳ | كَادَ يَكَادُ كَوُدَ يَكْوَدُ | په وزن د فَعُلَ يَفْعَلُ | الكودوالكيدودةُ نزدے کیدل |

# خلور دیرشم سبق

۳- ثلاثی مزيدٌ فيه باهمزه وصل- ددی نهه بابونه دی-

اِجتِناب است ودیگر اِسْتِنْصَارُ     اِنفِطَار وِاحْمِرَار واِحمِيرَار

باز اِخْشِيْشَان است و اِجْلِوَّاذُ     در آخر اِثَّاقُلْ و اِطَّهُّرُ ازبردار

اجتناب دے او بل استنصار دے اِنفِطَار وِاحْمِرَار واِحمِيرَار

بیا اِخْشِيْشَان دے هم اِجلوّاذ  آخر د اثّاقُل و اِطَّهُّرُ شه په لار-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | باب اِفْتِعَال | لکه اجتناب | یچ کیدل |
| ۲ | باب اِسْتِفْعَال | لکه اَلْاِسْتِنْصَارُ | مدد طلب کول |
| ۳ | باب اِنْفِعَال | لکه اَلْاِنفَطَارُ | شلیدل /څرے کیدل |
| ۴ | باب اِفْعِلَال | لکه اَلْاِحْمِرَارُ | سرخ کیدل |
| ۵ | باب اِفْعِیْلَال | لکه اَلْاِحْمِیرارُ | سرخ کیدل |
| ۶ | باب اِفْعِیْعَال | لکه اَلْاِخْشِیْشانُ | سخت زِګ کیدل |
| ۷ | باب اِفْعِوَّال | لکه اَلْاِجْلِوَّاذُ | د اُښ منډه وهل |
| ۸ | باب اِفَّاعُل | لکه اَلْاِثَّاقُلْ | دروند کیدل |
| ۹ | باب اِفَّعُّلْ | لکه اَلْاِطَّهُّرُ | خه پاک کیدل |

# پنځه دیرشم سبق-

۴- ثلاثی مزیدٌ فیه بے همزه وصل – ددی پنځه بابه دی-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | باب اِفْعَال | اَلْاِکْرَام | عرت کول |
| ۲ | باب تَفْعِیْل | اَلتَّصْرِیْف | اړول |
| ۳ | باب تَفَعُّلْ | اَلتَّقَبُّلْ | قبلول |
| ۴ | باب مُفَاعَلة | اَلْمُقَاتَلَةُ | باهم مقابله کول |
| ۵ | باب تَفَاعُلْ | اَلتَّعَارُفْ | یو بل پیژندل |

۵- رباعی مجرد- دا یو باب دے- فَعْلَلَةٌ لکه دَحْرَجَةٌ –

۶- رباعی مزید فیه با همزه وصل- دا دوه بابه دی-

۱-باب اِفْعِنْلَال – لکه اَلْاِبرِنْشَاقُ ( خوشحالیدل)-

۲- باب اِفْعِلَّال – لکه اَلْاِقْشِعْرَارُ (ویخته اودریدل)

۷- رباعی مزید فیه بے همزه وصل- ددےیو باب دے تَفَعْلُلٌ-

# شپږدیرشم سبق

**<u>۸- ثلاثی مزید فیه ،ملحق برباعی مجرد</u>**- دد ے اووه بابه دی-

جَلْبَبَ، قَلنَسَ پس جَوْرَبَ داں

سَرْوَلَ، خَیعَلَ پس شَرْیَفَ خواں

هفتمین باب قَلْساة است بے گماں-

۱-باب فَعْلَلَةٌ لکه اَلْجَلْبَبَةٌ څادر یا قمیص اغوستل دغه وزن د رباعی مجرد هم دے فرق دادے چه رباعی مجرد کښ دواړه لامونه اصل دی او په دے باب کښ دوئم لام زائد دے-

۲- باب فَعْلَلَةٌ لکه اَلْقَلْنَسَةُ ټوپئ پسرول-

۳- باب فَوْعَلَة لکه اَلْجوْرَبَةُ ګورپا (جوراب)پخپوکول-

۴- باب فَعْوَلة لکه اَلسَّرْوَلَةُ پرتوګ اغوستل-

۵- باب فَيْعَلَةُ لکه اَلْخَيْعَلَةُ بے نستونړو قمیص اغوستل-

۶- باب فعْيَلَة لکه اَلشَّرْيَفَة لوئ شو ے فصل سرسر رودل یا ریبل-

۷- باب فَعْلَاة لکه اَلْقَلْسَاة ټوپئ پسرول-

# اووه دیرشم سبق

۹- ثلاثی مزید فیه ،ملحق به تدحرج- دد ے اته بابونه دی-

اَلتَّجَلْبُب ،تَقَلْنُس ، تَمَسْكُن ،تَعَفْرُت ، تَجَوْرُب تَسَرُوُل تَخَيْعُل ،تَقَلسٍ –

۱-باب تَفَعْلُل لکه اَلتَّجَلْبُبْ څادر یا قمیص اغوستل- مخکښ جلببه تیرشوهغه اغوستؤل ؤو دا اغوستل دے-

۲- باب تَفَعْنُل لکه اَلتَّقَلْنُسُ ټوپۍ پسرول پخپله- مخکښ قلنسه تیر شو هغه بل ته پسرول-

۳- باب تَمَفْعُل لکه اَلتَّمَسْکُنُ مسکین غریب کیدل-

۴- باب تَفَعلُة لکه اَلتَّعَفْرُةُ (بهوت) پیرے جوړیدل-

۵- باب تَفَوْعُل لکه اَلتَّجَوْرُبُ ګورپا(جورابه) اغوستل-

۶- باب تَفَعْوُل لکه اَلتَّسَرْوُلُ پرتوګ اغوستل-

۷- باب تَفَیْعُل لکه اَلتَّخَیْعُلُ بےنستونړو قمیص اغوستل-

۸- باب تَفَعْلٍ لکه تَقَلْسٍ ټوپۍ اغوستل-

**۱۰- ثلاثي مزید فیه ،ملحق به اِحْرَنْجَمَ- دد ے دوه بابه دی-**

۱-باب اِفْعِنْلَال لکه اَلْاِقْعِنْسَاسٌ سینه راوتل او ګیډه دننه ننوتل-

۲- باب اِفْعِنْلَاءٍ لکه اَلْاِسْلِنْقَاءُ  ستونی ستغ سملاستل-

قَلْسَاةٌ اصل کښ قَلْسَیَةٌ ؤو- ی متحرک ما قبل فتحه وښبدل شوه په الف سره-

تَقَلْسٍ اصل کښ تَقَلْسُيٌ ؤواو تَفْعْلٍ هم اصل کښ تَفَعْلُيٌ ؤو- ی ما قبل کسره غواړی نو تَقَلّسِيٌ  تَفَعْلِيٌ شو- ضمه په ی ثقیله وه لرے خو کړه تَقَلْسِیْنٌ پاتے شو- اجتماع راغله دی ساکن او نون تنوین ساکن کوم چه په یٌ کښ ؤو نو ی ساکن حذف کړه او نْ د تنوین هو سِینْ له ورکو نو تَقَلْسٍ شو-

اِفْعَنْلَلَ اِقْعَنْسَسَ او رباعی مزید فیه با همزه وصل اِبْرَنْشَقَ یو شان دی خو فرق صرف دادے چه اِبْرَنْشَقَ کښ دوه حروف زائد دی- همزه وصل اونون برشق اصلی دے یعنی دوئم لام اصلی دے- او اِقْعَنْسَسَ کښ در ے حروف زائد دی-۱-همزه وصل -۲- نون -۳- اخر ے س او اصلی قَعِسَ د ے-

# اته دیرشم سبق

**د هفت اقسام-** د هفت اقسامو اؤوه قسمونه دی- **١- صحیح -٢- مهموز- ٣- معتل فا(مثال) -۴- معتل عین(اجوف) - ۵- معتل لام (ناقص)- ۶- لفیف مفروق، مقرون – ٧- مضاعف ثالثی ورباعی-**

شعر- صحیح است ومثال است ومضاعف    لفیف و ناقص ومهموز واجوف

**١-صحیح**- دا هغه کلمه ده چه حروف اصلی ئے د همزه ،حرف علت نه او دوه حرف یوشان کیدلو نه خالی وی- لکه ضَرَبَ ، بَعْثَرَ ، رَجُلٌ ، جَعْفَرٌ- دی کښ همزه هم نشته، حرف علت هم نشته او دوه یو شان هم نشته

**٢- مهموز-** دا هغه کلمه ده چه په حروفواصلی کښ ئۓ همزه راغلےوی- لکه أَمَرَ دیته مهموزالفاء وائۓ – سَأَلَ دیته مهموزالعین وائی – قَرَأَ دیته مهموزاللام وائی-

**٣- معتل فا**- دا هغه کلمه ده چه حروف اصلی کښ ئی د فاء کلمه په ځائ حرف علت وی- لکه وَعَدَ دیته معتل الفاء یا مثال وائی یا لکه وَرْدٌ-

**۴- معتل عین-** دا هغه کلمه ده چه د عین کلمه په ځاۓ ئۓ حرف علت وی- لکه قَالَ ، لَیْلٌ دیته معتل العین یا اجوف وائۓ-

**۵- معتل لام-** دا هغه کلمه ده چه د لام کلمه په ځاۓ ئۓ حرف علت وی- لکه رّمی، ظَبیٌ- دیته معتل لام یا ناقص ویئل شی-

**۶- لفیف-** دا هغه کلمه ده چه دوه حروف علت په کښ ئۓ- او ددی دوه قسمه دی-

**لفیف مفروق**- داهغه کلمه ده چه دوه حروف علت په کښ وی خو جداجدا ئۓ- لکه وَلْیٍ، وَحْیٌ-

**لفیف مقرون-** داهغه کلمه ده چه دوه حروف علت په کښ وی خو یو ځاۓ وی- لکه طَوٰی ، یَوْمٌ-

**٧- مضاعف**- دا هغه کلمه ده چه یو حرف پکښ دوه پیرے راغلے ئۓ-

مضاعف ثلاثی لکه مَدَّ ، سَبَبٌ –

مضاعف رباعی لکه زَلْزَلَةٌ ، وَسْوَسَ-

# یوکم خلویښتم سبق

**د اسمائے مشتقا تو بیان-** دا اسم درے قسمه دے-۱- مصدر -۲- مشتق -۳- جامد-

**اسم مصدر-** دا هغه اسم دے چه د هغے نه نور افعال او اسمائے مشتقه جوړیږی- لکه ضَرْبٌ نه ضَرَبَ – یَضْرِبُ – ضَارِبٌ – مَضْرُوْبٌ وغیره کلمات جوړیوی نو ضَرْبٌ مصدر شو مصدر اسم ظرف دے ځائے د راوتلو-

**۲- اسم مشتق**- دا هغه اسم دے چه د مصدر نه راؤوزی – لکه ضَارِبٌ – مَضْروبٌ وغیره- اشتقاق چولو ته وائ چولی شوی اسمونه یعنی ډکے – لرگے ئ چولے دے دړی ئ تری جدا کړی

دی- دهغ شان مصدر ئ چولے دے دا کلمات ترے راوستلی شوی-

**۳- اسم مشتق-** دا هغه اسم دے چه نه پخپله د څه شی نه جوړ وی او نه یو لفظ د ده نه جوړوی- لکه رَجُلٌ – فَرَسٌ وغیره-

طالبان بخیل ته جامد وائ شوم دے اشتقاق ترینه نه کیږی- کوټلے لرگے چول گران وی دړه تری نه جدا کیدل مشکل وی- فلانے گټه ده یعنی شوم دے څه تری جدا کیږی نه-

د اسم مشتق د فعل سره جور تعلق دے- دے ته ضمیمه د فعل وائ نو ځکه د افعال نه بعد داسم مشتق بیان کولے شی-

مشهور اسمائے مشتقه اته دی- ۱- اسم فاعل -۲- اسم مفعول -۳- اسم ظرف -۴- اسم آله -۵- اسم تفضیل -۶- اسم مبالغه -۷- صفت مشبه -۸- اسم مصدر-

**د اسم فاعل بیان-**

۱-اسم فاعل- دا هغه اسم مشتق د ے چه هغه ذات خائ چه د هغه نه کوم فعل صادر شوے ئ –یا په هغه پورے چه کوم فعل قائم وی-

لکه ضَارِبٌ هغه کس خائ چه د هغه ضَرْبٌ وهل صادر(راوتی)ئ- او جَالِسٌ هغه کس خائ چه د هغه پورے کیناستل قائم وی-

**د اسم فاعل د جوړولو قاعده-**

۱-ثلاثی مجرد بابونو نه اسم فاعل د فَاعِلٌ په وزن د ے-

۲- د کَرُمَ بَاب نه اسم فاعل د فَعِيْلٌ په وزن دے- کَرِيْمٌ –

۳- مزید فیه او رباعی د ټولو بابونونه اسم فاعل هم ددغه باب د مضارع نه جوړ دے- طریقه ئ دا ده علامت د مضارع حذف که یعنی اوغورزوه او د هغے په ځاے م مضموم راؤړه او آخر نه مخکښ حرف له کسره ورکه – که کسره نه وه نو د لام کلمه تنوین ورکه نو اسم فاعل واحد مذکر به جوړ شی-

لکه يَجْتَنِبُ نه مُجْتَنِبٌ – يُقَاتِلُ نه مُقَاتِلٌ – يَسْتَنْصِرُ نه مُسْتَنْصِرٌ- يَسْتَغْفِرُ نه مُسْتَغْفِرٌ-

ګردانونه ئ دادی -

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | فَاعِلٌ | فَا عِلَانِ | فَاعِلُوْنَ |

اخر پورے-

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | فَعِيْلٌ | فَعِيْلَانِ | فَعِيْلُوْنَ | فَعِيْلَةٌ | فَعِيْلَتَانِ | فَعِيْلَاتٌ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | مُجْتَنِبٌ | مُجْتَنِبَانِ | مُجْتَنِبُوْنَ | مُجْتَنِبَةٌ | مُجْتَنِبَتَانِ | مُجْتَنِبَاتٌ |

غائب حاضر متکلم فرق په اسم فاعل کښ نشته دا فرق به دضمیر په ذریعه کولے شی- لکه هُوَضَارِبٌ – اَنْتَ ضَارِبٌ – اَنَا ضَارِبٌ-

**سوالات-**

س۱-لاندنی افعالو نه اسم فاعل جوړ که او ګردان ئ اوکه-

| | |
|---|---|
| مَنَعَ  يَمْنَعُ  مُنْعًا  مَانِعٌ | كَبُرَ  يَكْبُرُ  كِبْرًا  وَكُبْرًا  كَبِيْرٌ لوي مرتبې والا کيدل |
| أَمَنَ يَأْمَنُ أَمَانَةً  مُوءمِنٌ | تَقَبَّلَ  يَتَقَبَّلَ  تَقَبُّلاً  قبولول |
| اِسْتَنْصَرَ  يَسْتَنْصِرَ اِسْتِنْصَارً  مدد کول | اِجْتَنِبَ  يَجْتَنِبُ  اِجْتِنَابًا  بچ کيدل |
| أَكْرَمَ  يُكْرِمُ  اِكْرَامًا  عزت کول | دَحْرَجَ  يُدَحْرِجُ  دَحْرَجَةً ارغړول |

**د اسم مفعول بيان-**

۲- اسم مفعول- دا هغه اسم مشتق دے چه هغه څوک خائ‍ۍ  چه په چا فعل واقع شوےئ – لکه مَضْرُوْبٌ وهلے شوے هغه څوک خائ‍ۍ چه په چا وهل واقع شوی دی- اسم مفعول دجوړولو قاعده-

۱-ثلاثی مجرد د هر متعدی باب نه د اسم مفعول صيغه واحد مذکر مَفْعُوْلٌ په وزن رازی-

۲- مزيد فيه او رباعی د هر متعدی باب نه اسم مفعول د دغه باب د مضارع مجهول نه جوړيږی- طريقه ئ‍ۍ داده- چه علامت  د مضارع به حذف کړے د هغه په ځاے به م مضموم  راوړی او داخر نه مخکښ حرف له به فتحه ورکړی که فتحه نه وی او د لام کلمه تنوين ورکه نو اسم مفعول وړومبۍ صيغه به جوړه شی- لکه يُکْرَمُ نه مُکْرَمٌ عزت کړےشوے—-يُجْتَنَبُ

نه مُجْتَنَبٌ بچاؤ شوے- يُسْتَنْصَرُ نه مُسْتَنْصَرٌ مدد طلب کړے شوے-

**<u>فائده</u>**-اسم مفعول صرف د فعل متعدی نه جوړيږی- د فعل لازم نه اسم مفعول نه وی- فعل متعدی هغه فعل دے چه په فاعل نه تماميږی خو د مفعول تقاضه کوی- لازمی فعل په فاعل تمام شی لکه جَلَسَ ،  قَعَدَ ، ذَهَبَ

**<u>فائده</u>**- اسم مفعول کښ هم د غائب، حاضر، متکلم فرق د ضميرونو په ذريعه وی - لکه

| | | |
|---|---|---|
| هُوَ مَضْرُوْبٌ | اَنْت مَضْرُوْبٌ | اَنَا مَضْرُوْبٌ |
| هُمَا مَضْرُوْبَانِ | اَنْتُمَا مَضْرُوْبَانِ | نَحْنُ مَضْرُوْبَانِ  ومَضْرُوْبُوْنَ |

| | | |
|---|---|---|
| هُمْ مَضْرُوْبُوْنَ | اَنْتُمْ مَضْرُوْبُوْنَ | نَحْنُ مَضْرُوْبُوْنَ |
| هِيَ مَضْرُوْبَهٌ | اَنْتِ مَضْرُوْبَهٌ | أَنَا مَضْرُوْبَهٌ |
| هُمَا مَضْرُوْبَتَانِ | اَنْتُمَا مَضْرُوْبَتَانِ | نَحْنُ مَضْرُوْبَتَانِ |
| هُنَّ مَضْرُوْبَاتٌ | أَنْتُنَّ مَضْرُوْبَاتٌ | نَحْنُ مَضْرُوْبَاتٌ |

**اسم مفعول ګردان-**

۱-مَفْعُوْلٌ – مَفْعُوْلَانِ – مَفْعُوْلُوْنَ – اخره اپورے-

۲- مُجْتَنَبٌ- مُجْتَنَبَانِ- مُجْتَنَبُوْنَ- مُجْتَنَبَهٌ- مُجْتَنَبَتَانِ- مُجْتَنَبَاتٌ-

**سوالات-**

س۱-افعالِ ذیل یاد کړئ، اسم مفعول تری جوړ کړئ او د معنی سره ئې ګردان اوکړئ-

| | |
|---|---|
| غَسَلَ يَغْسِلُ غَسْلًا وَغُسْلًا وينځل | كَذَبَ يَكْذِبُ كِذْبًا دروغ ويئل |
| قَتَلَ يَقْتُلُ قَتْلًا وژل فَتَلَ يَفْتُلُ فَتْلًا ؤدل | غَلَبَ يَغْلِبُ غَلْبًا غالب کیدل |
| فَصَلَ يَفْصِلُ فَصْلًا جدا کول | فَصَّلَ يُفَصِّلُ تَفْصِيْلًا جدا جدا کول |
| كَسَّرَ يُكَسِّرُ تَكْسِيْرًا ټکړے ټکړے کول | كَذَّبَ يُكَذِّبُ تَكْذِيْبًا دروغژن ګڼړل |

س۲- صيغې او معنی اوخایه-

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُكْرَمٌ | مَقْتُوْلَهٌ | مَشْهُوْدَاتٌ | مَنْصُوْرٌ |
| مَظْلُوْمٌ | مُسْتَنْصَرَاتٌ | مَطْلُوْبَانِ | مَغْلُوْبُوْنَ |

**داسم ظرف بیان-**

**۳- اسم ظرف-** دا هغه اسم مشتق دےچه د يو کار ځاے يا وخت خائ- لکه مَكْتَبٌ د ليکلو ځاے ډسک يا تپايئ ديته ظرف مکان وايئ- مَوْعِدٌ نيټه ديته ظرف زمان وايئ-

**د اسم ظرف د جوړولو قاعده-**

۱-ثلاثی مجرد نه د اسم ظرف د جوړولو طريقه تيره شويده- چه وزن يې مَفْعَلٌ يا مَفْعِلٌ دے- اول چه دمضارع عين کلمه مفتوح يا مضموم وی او دويم وزن چه دمضارِع عين کلمه مکسور وی- مګرمثال نه هميشه مَفْعِلٌ رازی-او د ناقص نه او

مضاعف نه مَفْعَلٌ رازی- لکه يَنْصُرُ نه مَنْصَرٌ د مدد کولو ځاي- يَفْتَحُ نه مَفْتَحٌ د کولاؤلو ځاي- يَجْلِسُ نه مَجْلِسٌ د کيناستلو ځاي- يَوْجَلُ نه مَوْجِلُ د يرے او خوف ځاي- يَرْمِيْ نه مَرْمًى د ويشتلو ځاي-يَمُدُّ نه مَمَّدٌ-

۲- د ثلاثي مجرد نه علاوه اسم ظرف د نورو بابونونه د اسم مفعول په طريقه دے- لکه مُجْتَنَبٌ اسم مفعول هم دے او اسم ظرف هم دے-

**د اسم ظرف ګردان-**

۱-يَدْخُلُ نه مُدْخَلٌ- مُدْخَلَانِ – مُدْخَلُوْنَ-

۲- مَفْعِلٌ – مَفْعِلَانِ- مَفَاعِلُ-

**سوالات-**

س۱-افعالِ ذيل ياد کړئ، اسم ظرف ترې جوړ کړئ او د معنی سره ئ ګردان اوکړئ-

| | |
|---|---|
| حَفِظَ يَحْفَظُ حِفْظًا زباني يادول | فَهِمَ يَفْهَمُ فَهْمًا پوهيدل |
| أَكْرَمَ يُكْرِمُ إِكْرَامًا عزت کول | أَفْهَمَ يُفْهِمُ إِفْهَامًا پوهه کول |
| جَهِلَ يَجْهَلُ جَهْلًا جټ کيدل | عَزَلَ يَعْزِلُ عَزْلًا جدا کول |
| وَجِلَ يَوْجَلُ وَجْلًا يريدل | تَقَبَّلَ يَتَقَبَّلَ تَقَبُّلاً قبولول |

س۲- صيغے او معنی اوخايه-

| | | | |
|---|---|---|---|
| مَعْلَمٌ | مَسْمَعَانِ | مَقَاتِلُ | مَحْذَرٌ |

**داسم آله بيان-**

۴- اسم آله- دا هغه اسم مشتق دے چه د کار کولو آله او اوزار خائ- لکه مِفْتَاحٌ کنجي وغيره-

**د اسم آله د جوړولو قاعده-**

۱-ثلاثي مجرد نه د اسم آله درے وزنه دی- لکه مِفْعَلٌ- مِفْعَلَةٌ- مِفْعَالٌ-

۲- د ثلاثي مجرد نه علاوه د نورو بابونونه اسم آله نه جوړيږي که چرے د اسم آله معنی ادا کولو ضرورت وی نو دغه باب د مصدر په شروع کښ مَا بهٖ راؤړی- لکه مَابِهِ الْاِجْتِنَابُ د بچکيدلو آله-

د اسم آله ګردانونه-

۱- مِفْعَلٌ- مِفْعَلَانِ- مَفَاعِلُ-

۲- مِفْعَلَةٌ- مِفْعَلَتَانِ- مَفَاعِلُ –

۳- مِفْعَالٌ – مِفْعَالَانِ- مَفَاعِيْلُ-

**سوالات-**

س۱-افعالِ ذيل ياد کړئ، اسم آله ترى جوړ کړئ او د معنی سره ئې ګردان اوکړئ-

| | |
|---|---|
| صَبَغَ يَصْبِغُ صَبْغًا رنګ کول | سَلَخَ يَسْلُخُ سَلْخًا څرمن راخکل |
| اِقْتَرَبَ يَقْتَرِبُ اِقْتِرَابًا نزدے کيدل | اِسْتَمْتَعَ يَسْتَمْتِعُ اِسْتِمْتَاعًا فائده اوچتول |
| خَافَ يُخَافُ خَوْفًا يريدل | حَمَلَ يَحْمِلُ حَمْلًا اوچتول |

س۲- صيغې او معنی اوخايه-

| | | | |
|---|---|---|---|
| مِحْفَظٌ | مِكْتَبٌ | مَضَارِبُ | مَشَاهِيْدُ |
| مِنْصَرَةٌ | مِرْوَحَتَانِ | مَفَاتِيْحُ | مِسْلَخٌ |

**داسم تفضيل بيان-**

**۵- اسم تفضيل-** دا هغه اسم مشتق دے چه د بل په نسبت معنی فاعلی کښ زيادتی خائۍ- معنی فاعلی معنی مصدری ته وائۍ لکه ضَارِبٌ (وخونکے)او أَضْرَبُ (زيات وخونکے) دواړوکښ ضَرْبٌ (وخل) معنی ده- البته اسم فاعل مطلق معنی مصدری باندی دلالت کۍ او اسم تفضيل د بل په نسبت معنی مصدری په زيات والی دلالت کۍ- معنی فاعلی ته معنی حدثي او معنی وصفی هم وائۍ-

أَكْبَرُ (لوی) أَفْضَلُ (غوره) په هغه کس باندی دلالت کئ چه په هغه کښ د بل په نسبت لوئ او غوره والے زیات وی- اسم تفضیل ته أَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ هم وائ-

**د اسم تفضیل د جوړولو قاعده-**

۱- اسم تفضیل صرف د ثلاثی مجرد نه جوړیږی په دی شرط چه په هغے کښ رنګ،عیب او حلیه په معنی نه وی- اسم تفضیل واحد مذکر وزن اَفْعَلُ دےاو د واحد مؤنث وزن ئ فُعْلٰی دے- اومذکر جمع مکسر اَفَاعِلُ په وزن رازی او د مؤنث جمع مکسر فُعَلٌ په وزن او د تثنیه او جمع سالم د پاره به د هغے علامات لګولے کیږی-

۲- چه د کوموبابونونه اسم تفضیل نه رازی او د اسم تفضیل معنی ادا کولو اراده وی نو اَشَدُّ- اَکْبَرُ- اَزْيَدُ وغیره راؤړه د هغے نه وروستو د دغه باب مصدر منصوب راؤړےشی د کرُم باب نه چه د اسم تفضیل معنی ظاهر کول مقصود وی- لکه اَشَدُّ سَوَادًا – اَکْثَرُ حُمْرَةً – اَزْيَدُ اِکْرَامًا- اَکْبَرُاِسْتِخْرَاجًا- اَکْثَرُاِسْتِغْفَارًا-

فائده- اسم تفضیل کله د معنی مفعولی په زیات والی هم دلالت کئ- لکه اَشْهَرُ د زیات

مشهور په معنی سره – اَشْغَلُ د زیات مشغول په معنی سره-

فائده- اسم تفضیل کله د بل شی د لحاظ کولو نه بغیر فی نفسه معنی وصفی په زیات والی باندی هم دلالت کئ- لکه صفات باری تعالٰی اَعْلَمُ – اَکْبَرُ- اَرْحَمُ –

**د اسم تفضیل ګردانونه-**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اَفْعَلُ | اَفْعَلَانِ | اَفْعَلُوْنَ | اَفَاعِلُ | فُعْلٰی | فُعْلَيَانِ | فُعْلَيَاتٌ | فُعَلٌ |

**سوالات-**

س۱-افعالِ ذیل یاد کړئ، اسم آله تری جوړ کړئ او د معنی سره ئ ګردان اوکړئ-

| | |
|---|---|
| طَالَ يَطُوْلُ طُوْلاً اوږدیدل | نَالَ يَنَالُ نَيْلًا حاصلول |
| بَاعَ يَبِيْعُ بَيْعًا خرڅول | کَثُرَ يَکْثُرُ کَثْرَةً ډیریدل |

| | |
|---|---|
| حَسُنَ يَحْسُنُ حُسْنًا خکلے کیدل | لَطَفَ يَلْطُفُ لُطْفًا مهربانی کول |
| اِحْتَمَلَ يَحْتَمِلُ اِحْتِمَالًا برداشت کول | اِسْتَمَعَ يَسْتَمِعُ اِسْتِمَاعًا غوږ کیخودل |
| ثَقُلَ يَثْقُلُ ثِقْلًا دروند کیدل | طَهُرَ يَطْهُرُ طُهْرًا وَطَهَارَةً پاکیدل |

**س۲- صیغې او معنی اوخایه-**

| | | | |
|---|---|---|---|
| سُمْعٰى | أَضَارِبُ | أَسْمَعَانِ | ضُرْبٰى |
| أَعْلَمُوْنَ | أَنَاصِرُ | كُرْمَيَاتٌ | سُعَدٌ |

**د اسم مبالغه بیان-**

۴- اسم مبالغه- دا هغه اسم مشتق دے چه د دے نه فی نفسه معنیٰ فاعلی وصفی زیاتیدل معلوم شی- لکه ضَرَّابٌ (ډیر وخونکے) په هغه کس دلالت کوی چه معنی مصدری ضَرْبٌ کښ زیات والے اوموندل شی- په اسم مبالغه او په اسم تفضیل کښ فرق دا دے چه اسم تفضیل کښ معنی فاعلی د بل په نسبت زیاته وی او داسم مبالغه معنی وصفی فی نفسه د بل د نسبت د لحاظ نه بغیر زیاته وی- دا صرف د ثلاثی مجرد نه جوړیږی او دد ے اوزان سماعی دی یعنی د دی د جوړولو څه قاعده نشته خو صرف د اهل لسان نه په اوریدلو موقوف دی-

**یوځو ډیر استعمالیدونکی اوزان د اسم مبالغه دادی-**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | فَعَّالٌ لکه عَلَّامٌ | ډیرو معلومات والا |
| ۲ | فَعَّالَةٌ لکه عَلَّامَةٌ | ډیرو معلومات والا |
| ۳ | فَعِيْلٌ لکه عَلِيْمٌ | ډیرو معلومات والا |
| ۴ | فَعِّيْلٌ لکه صَدِيْقٌ | ډیر زیات رشتینے ډیر تصدیق والا |
| ۵ | فَعُّوْلٌ لکه قَيُّوْمٌ | ډیر سنهبالؤنکے ډیره نګرانۍ والا |
| ۶ | فُعُّوْلٌ لکه قُدُّوسٌ | ډیر پاکیزه |
| ۷ | مِفْعَالٌ لکه مِنعَامٌ | ډیر انعام والا |
| ۸ | مِفْعِيْلٌ لکه مِنْطِيْقٌ | خبرلوس ،خلَوَر |

| | | |
|---|---|---|
| ۹ | فَاعُوْلٌ لکه فَارُوْقٌ | ډیر فرق کؤنکے بین الحق ولباطل |
| ۱۰ | فَعُوْلٌ لکه أَکُوْلٌ | ډیر خوراکی |

**د صفت مشبه بیان-**

۷- د مشبه معنی ده تشبیه ورکړے شوے- صفت مشبه د اسم فاعل سره تشبیه ورکړے شوے ده- دواړو کښ فرق دا دے چه اسم فاعل کښ معنی مصدری عارضی طور وی اوپه صفت مشبه کښ دائمی طورباندی وی او صفت مشبه همیشه د لازمی فعل نه وی او د اسم فاعل لازمی او متعدی دواړو نه رازی لکه جَالِسٌ او أٰكِلٌ-

پس سَامِعٌ او سَمِيْعٌ کښ فرق دا دے چه سَامِعٌ اسم غاعل په داسی ذات دلالت کوی چه بالفصل اوریدو سره موصوف وی دد ے وروستو مفعول هم راتلے شی – لکه سَامِعٌ كَلَامَکَ-

او سَمِيْعٌ صفت مشبه په داسی ذات دلالت کوی چه د اوریدو صفت سره بطوردوام موصوف وی او د څه شی سره ئې تعلق ملحوظ نه وی- پس سَمِيْعٌ كَلَامَکَ نه شی ویئلے-

نو صفت مشبه هغه اسم مشتق دے چه هغه ذات خائې چه په هغه کښ معنی مصدری دائمی موندلے شی- لکه شَرِيْفٌ ښه سړے- حَسَنٌ ښکلے -

**صفت مشبه همیشه لازمی وی-** اګر چه د فعل متعدی نه جوړ شی- د صفت مشبه د جوړولو څه قاعده نشته د دے ټول اوزان سماعی دی یو څو قاعدے درجه ذیل دی مګر هغه هم سماعی دی-

۱-ماضی مکسورالعین نه صفت مشبه فَعِلٌ په وزن د ے لکه فَرِحٌ (خوشحاله ) په دے شرط چه په دے کښ د رنګ، عیب، حلیه معنی نه وی ګنی بیا به صفت مشبه د أَفْعَلُ په وزن رازی- او دا قاعده کلیه د سماعی نه ده- او د دے مؤنث به د فَعَلَا په وزن رازی- لکه أَحْمَرُ – حَمْرَآءُ – اَعْوَرُ(کانا سړے) – عَوْرَآءُ (کانئ ښځه)- د فَعَلَاء همزه په تثنیه کښ او په جمع کښ په واؤ بدلیږی- لکه حَمْرَاوَانِ حَمْرَاوَاتٌ ویئل شی-

۲- ماضی مضموم العین نه صفت مشبه د فَعِيْلٌ په وزن دے- لکه کَرُمَ نه کَرِيْمٌ-

٣- ماضی مفتوح العین نه صفت مشبه د فَعَلٌ په وزن دے- لکه حَقَّ نه حَقٌّ په اصل کښې حقِقٌ ؤو-

**يو څو سماعی اوزان دا هم دی-**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | فَعْلٌ لکه صَعْبٌ ګران | ٦ | فَعُلٌ لکه جُنُبٌ ناپاک |
| ٢ | فِعْلٌ لکه صِفْرٌ خالی | ٧ | فَعِيْلٌ لکه شَرِيْفٌ شائسته |
| ٣ | فُعْلٌ لکه صُلْبٌ سخت | ٨ | فَاعِلٌ لکه جَاهِلٌ نادان |
| ۴ | فَعَلٌ لکه حَسَنٌ ښکلے | ٩ | فَعَالٌ لکه شُجَاعٌ بهادر |
| ۵ | فَعِلٌ لکه خَشِنٌ زګ | ١٠ | فَعْلَانُ لکه عَطْشَانُ تږے سړے |

فَعْلَانُ مؤنث فَعْلٰی دے- لکه عَطْشَانُ نه مؤنث عَطْشٰی تږې ښځه-

**د مصدر بيان-**

**<u>٨- مصدر-</u>** دا هغه اسم دے چه د يو کار په کيدويا کولو دلالت کوی- فارسی کښې د دے په اخر کښې دَن يا تَن رازی، اردو کښې نا رازی، پښتو کښې لام رازی- لکه اَلضَّرْبُ (زدن ، مارنا ،وهل) اَلْقَتْلُ (کشتن ، مار ڈالنا ، وژل)-

**د ثلاثی مجرد د مصادر څه قاعده نشته ټول اوزان ئې سماعی دی- يو څو ډير استعمالدونکی اوزان دادی-**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | فَعْلٌ لکه قَتْلٌ | ٢ | فِعْلٌ لکه فِسْقٌ | ٣ | فُعْلٌ لکه شُغْلٌ | ۴ | فَعْلَةٌ لکه رَحْمَةٌ | ۵ | فِعْلَةٌ لکه نِشْدَةٌ قسم ورکول |
| ٦ | فُعْلَةٌ لکه کُدْرَةٌ | ٧ | فَعَلٌ لکه طَلَبٌ | ٨ | فَعِلٌ لکه خَنِقٌ په مرئ زور کول | ٩ | فَعَلَةٌ لکه غَلَبَةٌ | ١٠ | فَعِلَةٌ لکه سَرِقَةٌ غلا کول |

**سوالات-**

س١-د اسم څو قسمه دی او څه څه دی؟

س٢- اسمائے مشتقه څو دی او کوم کوم دی؟

س٣- افعالو پسے اسمائے مشتقه ولی بيان شو؟

س۴- د اسم فاعل او اسم مفعول تعریف اوکه؟

س۵- دے کښ به د غائب ، حاضر او متکلم فرق څنګه کوے؟

س۶- د اسم فاعل او اسم مفعول د جوړولو قاعدے څه دی؟

س۷- مزید فیه ابواب اسم فاعل او اسم مفعول کښ څه فرق دے؟

س۸- د اسم ظرف تعریف اوکه ؟ مع مثال-

س۹- د اسم ظرف اوزان څه دی؟

س۱۰- ظرف زمان او مکان چاته وائۍ؟

س۱۱- د اسم آله تعریف اوکه؟ مع مثال-

س۱۲- د اسم آله اوزان څه دی؟ د هر یو ګردان اوکه-

س۱۳- د کوم ابواب نه اسم آله نه رازی نو د اسم آله معنی به څنګه ادا کۀ؟

س۱۴- د اسم تفضیل تعریف مع مثال اوکه: اسم تفضیل د کومو بابونو نه جوړیږی-
د اسم تفضیل ګردان اوکه ؟

س۱۵- د کومو ابواب نه چه اسم تفضیل نه رازی نو څنګ به ئۀ ادا کۀ؟

س۱۶- د اسم مبالغه تعریف اوکه او د اسم تفضیل نه ئۀ فرق څه دے؟

س۱۷- د اسم مبالغه مشهور اوزان ذکر که؟

س۱۸- صفت مشبه تعریف مع مثال بیان که؟

س۱۹- د مصدر تعریف مع مثال بیان که؟

س۲۰- د مصدر کثیرالاستعمال اوزان څه دی؟

# ثلوبښتم سبق

**د بابونو بیان-**

باب- ماضی او مضارع د عین کلمه حرکت د اختلاف نه مختلف وزنونه جوړیږی- دیته بابونه وائۍ- د فعل دوه قسمه دی- ۱- ثلاثی او ۲- رباعی فعل خماسی نه شی کیدے او بیا د هر یو دوه دوه قسمونه دی- مجرد او مزید فیه نو ټول ثلور قسمونه شو-

۱-**ثلاثی مجرد-** لکه نَصَرَ او دَخَلَ-

۲- **ثلاثی مزید فیه** لکه أَدْخَلَ-

۳- **رباعی مجرد-** دَحْرَجَ-

۴- **رباعی مزید فیه** تَدَحْرَجَ-

زائد حروف به د ماضی د ړومبۍ صیغې نه پته لګی – که زائد وی نو مزید فیه او که نه وی نو مجرد –

د ثلاثی مجرد دوه قسمه دی- مطرد یعنی کثیرالاستعمال او شاذ یعنی قلیل الاستعمال-

د ثلاثی مجرد مطرد پنځه بابه دی- ۱نَصَرَیَنْصُرُ- ۲ ضَرَبَ یَضْرِبُ- ۳ سَمِعَ یَسْمَعُ- ۴ فَتَحَ یَفْتَحُ- ۵ کَرُمَ یَکْرُمُ-

**د ثلاثی مجرد شاذ درے بابه دی-** ۱ حَسِبَ یَحْسِبُ- ۲ فَضِلَ یَفْضُلُ-۳ کَادَ یَکَادُیا فَعُلَ یَفْعَلُ-

ثلاثی مجرد مطرد پنځه بابه-

**باب اول- فَعَلَ یَفْعُلُ** ماضی مفتوح العین اومضارع مضموم العین لکه أَلنَّصْرُ وَالنُّصْرَةُ مدد کول أَلطَّلَبُ – أَلْقَتْلُ – أَلدُّخُولُ- اَلْخُرُوْجُ- اَلتَّرْکُ- اَلْفَتْلُ-

صرف صغیر- نَصَرَیَنْصُرُ نَصْرًا فَهُوَ نَاصِرٌ وَنُصِرَ یُنْصَرُ نَصْرًا فَهُوَمَنْصُوْرٌ الامرُ مِنْهُ : اُنْصُرْ وَالنَّهْیُ عَنْهُ : لَا تَنْصُرْ، اَلظَّرْفُ مِنْهُ : مَنْصَرٌ مَنْصَرَانِ مَنَاصِرُ وَالْآلَةُ مِنْهُ : مِنْصَرٌ مِنْصَرَانِ مَنَاصِرُ وَمِنْصَرَةٌ مِنْصَرَتَانِ مَنَاصِرُ وَمِنْصَارٌ مِنْصَارَانِ مَنَاصِیْرُ أَفْعَلُ التَّفْضِیْلِ مِنْهُ : اَنْصَرُ اَنْصَرَانِ أَنْصَرُوْنَ أَنَاصِرُ وَ نُصْرٰی نُصْرَیَانِ نُصْرَیَاتٌ نُصَرٌ دغه شان ددی نور مثالونه لکه طَلَبَ یَطْلُبُ طَلَبًا فَهُوَ طَالِبٌ اخر اپورے-

په صرف صغیر مصدر دوه پیرے راغئ- وړومبے مصدر معلوم دوئم ته مصدرمجهول وائئ- معنی کښې ئې فرق دے لفظ کښې ئې نشته- مصدر معلوم ترجمه کول اومصد مجهول کولے کیدل دی-

د نورو بابونو صرف صغیر هم دغه شان دے- فرق به کله امر کښې او د ظرف صیغه

کښې رازی- لکه دلته امر اُنْصُرْ دے- ضَرَبَ او سَمِعَ باب کښې به امر اِضْرِبْ او اِسْمَعْ وی او ظرف به ئې مَفْعِلٌ وی او دلته مَفْعَلٌ

**دویم باب- فَعَلَ یَفْعِلُ** ماضی مفتوح العین اومضارع مکسورالعین- أَلضَّرْبُ وَالضَّرْبَةُ یا لکه اَلْغَسْلُ وَالْغُسْلُ او غَلَبَ یَغْلِبُ غَلْبًا- غَسَلَ یَغْسِلُ غَسْلًا- کَذَبَ یَکْذِبُ کِذْبًا- ظَلَمَ یَظْلِمُ ظُلْمًا- فَصَلَ یَفْصِلُ فَصْلًا- جَلَسَ یَجْلِسُ جُلُوْسًا- نَزَلَ یَنْزِلُ نُزُوْلًا- عَدَلَ یَعْدِلُ عَدْلًا اخر اپورے-

صرف صغیر- ضَرَبَ یَضْرِبُ ضَرْبًا فَهُوَضَارِبٌ وَضُرِبَ یُضْرَبُ ضَرْبًا فَهُوَ مَضْرُوْبٌ اَلاَمْرُ مِنْهُ : أِضْرِبْ وَالنَّهْیُ عَنْهُ : لَا تَضْرِبْ، اَلظَّرْفُ مِنْهُ : مَضْرِبٌ مَضْرِبَانِ مَضَارِبُ وَالْآلَةُ مِنْهُ : مِضْرَبٌ مِضْرَبَانِ مَضَارِبُ وَمِضْرَبَةٌ مِضْرَبَتَانِ مَضَارِبُ وَمِضْرَابٌ مِضْرَابَانِ مَضَارِیْبُ أَفْعَلُ التَّفْضِیْلِ مِنْهُ : اَضْرَبُ اَضْرَبَانِ اَضْرَبُوْنَ اَضَارِبُ وَ ضُرْبٰی ضُرْبَیَانِ ضُرْبَیَاتٌ ضُرَبٌ-

**باب دریم- فَعِلَ یَفْعَلُ** ماضی مکسورالعین اومضارع مفتوح العین- لکه اَلسَّمْعُ وَالسَّمَاعُ یا لکه اَلْحِفْظُ - حَفِظَ یَحْفَظُ حِفْظًا- یا شَهِدَ یَشْهَدُ شَهَادَةً- یا لکه فَهِمَ یَفْهَمَ فَهْمًا- یا لکه حَمِدَ یَحْمَدُ حَمْدًا- عَلِمَ یَعْلَمُ عِلْمًا- جَهِلَ یَجْهَلُ جَهْلًا- سَلِمَ یَسْلَمُ سَلْمًا- ضَحِکَ یَضْحَکُ ضِحْکًا-بَخِلَ یَبْخَلُ بُخْلًا- حَزِنَ یَحْزَنُ حُزْنًا- شَرِبَ یَشْرَبُ شُرْبًا- دا ټول د بابِ سَمِعَ نه دی-

صرف صغیر- سَمِعَ یَسْمَعُ سَمْعًافَھُوَسَامِعٌ سُمِعَ یُسْمَعُ سَمْعًافَھُوَ مَسْمُوْعٌ الامرُ مِنْہُ : اِسْمَعْ وَالنَّھیُ عَنْہُ : لَا تَسْمَعْ، اَلظَّرْفُ مِنْہُ : مَسْمَعٌ مَسْمَعَانِ مَسَامِعُ والْآلَۃُ مِنْہُ : مِسْمَعٌ مِسْمَعَانِ مَسَامِعُ وَ: مِسْمَعَۃٌ مِسْمَعَتَانِ مَسَامِعُ وَمِسْمَاعٌ مِسْمَاعَانِ مَسَامِیْعُ أَفْعَلُ التَّفْضِیْلِ مِنْہُ : اَسْمَعُ اَسْمَعَانِ اَسْمَعُوْنَ اَسَامِعُ وَسُمْعٰی سُمْعَیَانِ سُمْعَیَاتٌ سُمَعٌ-

دد ے باب خصوصیت دادے چه اکثر لازم رازی او دد ے باب نه اکثر هغه افعال رازی چه رنج، خوشی، بیماری،رن ګ ، عیب یا جسمانی نقص باندی دلالت کوی-

فائده- باب نَصَرَ- ضَرَبَ – سَمِعَ امّهات الابواب دی- اکثر افعال د دی دریو بابونونه رازی-

**باب څلورم- فَعَلَ یَفْعَلُ** ماضی اومضارع دواړه مفتوح العین- لکه فَتَحَ یَفْتَحُ فَتْحًا- مَنَعَ یَمْنَعُ مَنعًا- صَبَغَ یَصْبَغُ صَبْغًا- سَلَخَ یَسْلَخُ سَلْخًا- جَعَلَ یَجْعَلُ جَعْلًا- ګرزول- رَهَنَ یَرْهَنُ رَهنًا ګانړه کول- اَلْجَحْدُ جَحَدَ یَجْحَدُ جَحدًا- انکار کول- جَهَدَ یَجهَدُ جَهدًا- کوشش کول- جَهَرَ یَجْهَرُ جَهْرًا- ظَهَرَ یَظْهَرُ ظَهْرًا-

صرف صغیر- فَتَحَ یَفْتَحُ فَتْحًا فَھُوَفَاتِحٌ فُتِحَ یُفْتَحُ فَتْحًا فَھُوَمَفْتُوْحٌ اَلاَمْرُ مِنْہُ : اِفْتَحْ وَالنَّھیُ عَنْہُ : لَا تَفْتَحْ، اَلظَّرْفُ مِنْہُ : مَفْتَحٌ مَفْتَحَانِ مَفَاتِحُ وَالْآلَۃُ مِنْہُ : مِفْتَحٌ مِفْتَحَانِ مَفَاتِحُ وَمِفْتَحَۃٌ مِفْتَحْتَانِ مَفَاتِحُ وَ مِفْتَاحٌ مِفْتَاحَانِ مَفَاتِیْحُ أَفْعَلُ التَّفْضِیْلِ مِنْہُ : اَفْتَحُ اَفْتَحَانِ اَفْتَحُوْنَ اَفَاتِحُ وَفُتْحٰی فُتْحَیَانِ فُتْحَیَاتٌ فُتَحٌ-

د دے باب خصوصیت دے چه د دے عین یا لام کلمه حرف حلقی وی- حروف حلقی شپږ دی أ ھ – ع ح –غ خ - رَکَنَ یَرْکَنُ-اَبیٰ یَأْبیٰ هم د دے باب نه راغلی دی اګر چی حرف حلقی پکښ نشته-

**پنځم باب- کَرُمَ یَکْرُمُ-** فَعُلَ یَفْعُلُ ماضی اومضارع دواړه مضموم العین- لکه قَرُبَ یَقْرُبُ – بَعُدَ یَبْعُدُ دا دوه قَرُبَ یَقْرُبُ- بَعِدَ یَبْعِدُ هم راغلی دی- کَثُرَ یَکْثُرُ – حَسُنَ یَحْسُنُ – لَطَفَ یَلْطُفُ لَطَافَۃٌ پاکیدل کَبُرَ یَکْبُرُ کُبْرًا-

صرف صغیر- کَرَمَ یَکْرُمُ کَرَمًاوَ کَرَامَۃً فَھُوَکَرِیْمٌ اَلاَمْرُ مِنْہُ : اُکْرُمْ، وَالنَّھیُ عَنْہُ : لَاتَکْرُمْ، اَلظَّرْفُ

مِنْهُ : مَكْرَمٌ مَكْرَمَانِ مَكَارِمُ والاٰلة مِنْهُ : مِكْرَمٌ مِكْرَمَانِ مَكَارِمُ وَمِكْرَمَةٌ مِكْرَمَتَانِ مَكَارِمُ وَمِكْرَامٌ مِكْرَامَانِ مَكَارِيْمُ أَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ مِنْهُ : اَكْرَمُ اَكْرَمَانِ اَكْرَمُوْنَ اَكَارِمُ وَ كُرْمٰى كُرْمَيَانِ كُرْمَيَاتٌ كُرَمٌ-

دا باب لازم دے مجهول ئۍ نه رازی او اسم مفعول ئۍ هم نه رازی-

**د ثلاثی مجرد شاذ درے بابونه-**

**<u>اول باب- فَعِلَ يَفْعِلُ</u>** ماضی اومضارع دواړه مكسورالعين- لكه اَلْحِسْبَانِ گمان كول-

صرف صغير- حَسِبَ يَحْسِبُ حِسْبَانًا فَهُوَحَاسِبٌ وَحُسِبَ يُحْسَبُ حِسْبَانًا فَهُوَمَحْسُوْبٌ الامرُ مِنْهُ : اِحْسِبْ، وَالنَّهِىُ عَنْهُ : لَا تَحْسِبْ، اَلظَّرْفُ مِنْهُ : مَحْسِبٌ مَحْسِبَانِ مَحَاسِبُ والاٰلة مِنْهُ : مِحْسِبٌ مِحْسِبَانِ مَحَاسِبُ وَمِحسَبَةٌ مِحْسَبَتَانِ مَحَاسِبُ وَ مِحْسَابٌ مِحْسَابَانِ مَحَاسِيْبُ أَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ مِنْهُ : اَحْسَبُ اَحْسَبَانِ اَحْسَبُوْنَ اَحَاسِبُ وَحُسْبٰى حُسْبَيَانِ حُسْبَيَاتٌ حُسَبٌ-

**<u>دويم باب- فَعِلَ يَفْعُلُ</u>** ماضی مكسور العين او مضارع مضموم العين – لكه اَلْفَضْلُ زياتيدل-

صرف صغير- فَضِلَ يَفْضُلُ فَضْلًا فَهُوَفَاضِلٌ وَ فُضِلَ يُفْضَلُ فَضْلًا فَهُوَمَفْضُوْلٌ الامرُ مِنْهُ : اُفْضُلْ، وَالنَّهِىُ عَنْهُ : لَا تَفْضُلْ، اَلظَّرْفُ مِنْهُ : مَفْضَلٌ مَفْضَلَانِ مَفَاضِلُ والاٰلةُ مِنْهُ : مِفْضَلٌ مِفْضَلَانِ مَفَاضِلُ وَ مِفْضَلَةٌ مِفْضَلَتَانِ مَفَاضِلُ وَمِفْضَالٌ مِفْضَالَانِ مَفَاضِيْلُ أَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ مِنْهُ : اَفْضَلُ اَفْضَلَانِ اَفْضَلُوْنَ اَفَاضِلُ وَ فُضْلٰى فُضْلَبَانِ فُضْلَيَاتٌ فُضَلٌ-

**<u>دريم باب- فَعُلَ يَفْعَلُ</u>** ماضی مضموم العين او مضارع مفتوح العين- لكه كَادَ يَكَادُ اصل كښ كَوُدَ يَكْوُدُ-

دے ټولو صیغو کښ د یَوْعِدُ نه یَعِدُ په شان تعلیل شوے دے- د لَنْ په وجه پنځه صیغې منصوب ویئلے شی- یَعِدَ، تَعِدَ، تَعِدَ، اَعِدَ او نَعِدَ او د اوؤه صیغو نه د لَنْ په وجه نون اعرابی اوغورزیدو،څلوروارہ تثنیه او یَعِدونَ او تَعِدونَ دوه جمع مذکر غائب او حاضر نه او اوؤم د تَعِدینَ نه واحد مؤنث حاضر نه او دوه صیغې یَفْعِلْنَ یَعِدْنَ او تَفعِلْنَ تَعِدْنَ کښې نون فاعلی نون د جمع مؤنث باقی پاتی شوے دے دا دوه صیغې فعل مضارع کښې مبنی دی لَنْ پکښې

څه لفظی تبدیلی په آخر کښې نده کړی۔

**<u>نفی تاکید بلَنْ در فعل مضارع مجهول:</u>**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَنْ یوعَدَ | لَنْ یوعَدَا | لَنْ یُّوعَدوا | لَنْ توعَدَ | لَنْ توعَدَا | لَنْ یوعَدْنَ | لَنْ توعَدَ |
| لَنْ توعَدَا | لَنْ توعَدُوا | لَنْ توعَدِی | لَنْ توعَدَا | لَنْ توعَدْنَ | لَنْ اُوْعَدَ | لَنْ نُوْعَدَ |

**<u>نفی جحد بلَمْ درفعل مضارع معروف:</u>**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَمْ یَعِدْ | لَمْ یَعِدَا | لَمْ یَعِدُوا | لَمْ تَعِدْ | لَمْ تَعِدَا | لَمْ یَعِدْنَ | لَمْ تَعِدْ |
| لَمْ تَعِدَا | لَمْ تَعِدُوا | لَمْ تَعِدِی | لَمْ تَعِدَا | لَمْ تَعِدْنَ | لَمْ اَعِدْ | لَمْ نَعِدْ |

دلته هم ټولو صیغو کښې د یَعِدُ پشان تعلیل شوے دے او د ټولو صیغو ترجمه د ما وَعَدَ فعل ماضی منفی معلوم ترجمه ده۔

دلَمْ په وجه پنځه صیغو کښې جزم راغلے دے لَمْ یَعِدْ، لَمْ تَعِدْ، لَمْ تَعِدْ، لَمْ اَعِدْ، لَمْ نَعِدْ۔

اوؤه صیغو نه د لَمْ په وجه نون اعرابی اوغورزیدو،څلوروارہ تثنیه او یَعِدونَ او تَعِدونَ دوه جمع مذکر غائب او حاضر نه او اوؤم د تَعِدینَ نه واحد مؤنث حاضر نه او دوه صیغې یَفْعِلْنَ یَعِدْنَ او تَفعِلْنَ تَعِدْنَ کښې نون فاعلی نون د جمع مؤنث باقی پاتی شوے دے دا دوه صیغې فعل مضارع کښې مبنی دی لَمْ پکښې څه لفظی تبدیلی په آخر کښې نده کړی۔

**<u>نفی جحد بلم فعل مضارع مجهول۔</u>**لَمْ یُوعَدْ، لَمْ یُوعَدا، لَمْ یُوعَدُوا الخ د لَمْ یُضرَبْ پشان۔

**لام تاکید بانون تاکید ثقیله درفعل مستقبل معروف۔**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَیَعِدَنَّ | لَیَعِدَانِّ | لَیَعِدُنَّ | لَتَعِدَنَّ |
| لَتَعِدَانِّ | لَیَعِدْنَانِّ | لَتَعِدِنَّ | لَتَعِدَانِّ |
| لَتَعِدُنَّ | لَتَعِدِنَّ | لَتَعِدَانِّ | لَتَعِدْنَانِّ |
| | لَاَعِدَنَّ | لَنَعِدَنَّ | |

**لام تاکید بانون تاکید ثقیله درفعل مستقبل مجهول۔**

لَیُوعَدَنَّ ، لَیُوعَدَانِّ، لَیُوعَدُنَّ :الخ د لَیُضْرَبَنَّ پشان۔

لام تاکید بانون تاکید خفیفه درفعل مستقبل معروف۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَیَعِدَنْ | لَیَعِدُنْ | لَتَعِدَنْ | لَتَعِدَنْ |
| لَتَعِدُنْ | لَتَعِدِنْ | لَاَعِدَنْ | لَنَعِدَنْ |

**لام تاکید بانون تاکید خفیفه درفعل مستقبل مجهول۔**

لَیُوعدَنْ  لَیُوعَدُنْ الخ دلَیُضْرَبَنْ پشان۔

**امر حاضر معروف**

| | | |
|---|---|---|
| عِدْ | عِدَا | عِدُوا |
| عِدِی | عِدَا | عِدْنَ |

عِدْ د تَعِدُ نه جوړدے حرف مضارعت لرے شو اول حرف متحرک وو د همزه وصل ضرورت نه وو او آخر مجزوم شو۔ عِدْ شو۔

**امرغائب و متکلم :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِیَعِدْ | لِیَعِدَا | لِیَعِدُوا | لِتَعِدْ |
| لِتَعِدَا | لِیَعِدْنَ | لِاَعِدْ | لِنَعِدْ |

**امر مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لِیُوعَدْ | لِیُوعَدَا | لِیُوعَدُوا |

| | | |
|---|---|---|
| لِتُوعَدْ | لِتُوعَدَا | لِيُوعَدْنَ |
| لِتُوعَدْ | لِتُوعَدَا | لِتُوعَدُوا |
| لِتُوعَدِی | لِتُوعَدَا | لِتُوعَدْنَ |
| لِأُوعَدْ | لِنُوعَدْ | |

فائده:لام امر ہمیشہ مکسور وی ۔

**امر حاضر معروف بانون ثقیله :**

| | | |
|---|---|---|
| عِدَنَّ | عِدَانِّ | عِدُنَّ |
| عِدِنَّ | عِدَانِّ | عِدْنَانِّ |

**امرغائب و متکلم بانون ثقیله:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِيَعِدَنَّ | لِيَعِدَانِّ | لِيَعِدُنَّ | لِتَعِدَنَّ |
| لِتَعِدَانِّ | لِيَعِدْنَانِّ | لِأَعِدَنَّ | لِنَعِدَنَّ |

**امر مجهول بانون ثقیله :**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُوعَدَنَّ | لِيُوعَدَانِّ | لِيُوعَدُنَّ |
| لِتُوعَدَنَّ | لِتُوعَدَانِّ | لِيُوعَدْنَانِّ |
| لِتُوعَدَنَّ | لِتُوعَدَانِّ | لِتُوعَدُنَّ |
| لِتُوعَدِنَّ | لِتُوعَدَانِّ | لِتُوعَدْنانِّ |
| لِأُوعَدَنَّ | لِنُوعَدَنَّ | |

**امر حاضر معروف بانون خفیفه:**

| | | |
|---|---|---|
| عِدَنْ | عِدُنْ | عِدِنْ |

**امرغائب و متکلم بانون خفیفه:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِيَعِدَنْ | | لِيَعِدُنْ | لِتَعِدَنْ |
| | | لِأَعِدَنْ | لِنَعِدَنْ |

**امر مجهول بانون خفیفه :**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُوعَدَنْ | | لِيُوعَدُنْ |
| لِتُوعَدَنْ | | |

| | | |
|---|---|---|
| لِتُوعَدَنْ | | لِتُوعَدُنْ |
| لِتُوعَدِنْ | | |
| لِأُوعَدَنْ | لِنُوعَدَنْ | |

**نهی معروف:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَا يَعِدْ | لَا يَعِدَا | لَا يَعِدُوا | لَا تَعِدْ | لَا تَعِدَا | لَا يَعِدْنَ |
| لَا تَعِدْ | لَا تَعِدَا | لَا تَعِدُوا | لَا تَعِدِی | لَا تَعِدَا | لَاتَعِدْنَ |
| | | لَا اَعِدْ | لَانَعِدْ | | |

په مثل د لَمْ يَعِدْ الخ۔

**نهی مجهول:**

لايُوعَدْ لا يُوعَدَا لا يُوعَدوا الخ لا يُضْرَبْ په مثل۔

**نهی معروف بانون ثقیله :**

لا يَعِدَنَّ لا يَعِدانِّ لا يَعِدُنَّ الخ اخیره پورے ۔

**نهی مجهول بانون ثقیله :**

لايُوعَدَنَّ لا يُوعَدَا نِّ لا يُوعَدُنَّ الخ۔

**نهی معروف بانون خفیفه :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَايَعِدَنْ | لايَعِدُنْ | لَاتَعِدَنْ | لَاتَعِدَنْ |
| لَاتَعِدُنْ | لَاتَعِدِنْ | لَااَعِدَنْ | لَانَعِدَنْ |

**نهی مجهول بانون خفیفه :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَايُوعدَنْ | لَايُوعَدُنْ | لا تُوعَدَنْ | لا تُوعَدَنْ |
| لا تُوعَدُنْ | لا تُوعَدِنْ | لا اُوعَدَنْ | لا نُوعَدَنْ |

**اسم فاعل :**

| | | |
|---|---|---|
| وَاعِدٌ | وَاعِدانِ | وَاعِدُونَ |
| وَاعِدَةٌ | وَاعِدَتانِ | وَاعِدَاتٌ |

**اسم مفعول :**

| | | |
|---|---|---|
| مَوعُودٌ | مَوعُودَانِ | مَوعُودُونَ |
| مَوعُودَةٌ | مَوعُودَتانِ | مَوعُودَاتٌ |

**اسم ظرف:**

| | | |
|---|---|---|
| مَوْعِدٌ | مَوْعِدَانِ | مَوَاعِدُ |

**اسم ٱله :**

| | | |
|---|---|---|
| مِيْعَدٌ | مِيْعَدَانِ | مَواعِدُ |
| مِيْعَدَةٌ | مِيْعَدَتانِ | مَوَاعَدُ |
| مِيعادٌ | مِيعادَانِ | مَواعيْدُ |

**اسم تفضيل :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَوْعَدُ | اَوْعَدَانِ | اَوْعَدُونَ | اَوَاعِدُ |
| وُعْدىٰ | وُعْديانِ | وُعْدياتٌ | وُعَدٌ |

**فائده:** اَوْعَدُونَ جمع مذکر سالم ده اَوَاعِدُ جمع مکسر ده ـ

وُعْدياتٌ جمع مؤنث سالم ده او وُعَدٌ جمع مکسر ده ـ

**تمرين:**

افعال ذيل نه ګردان وکه !

1ـ وَثَبَ يَثِبُ وَثبًا ووَثبَة ټوپ وهل ،دانګل ـ

2ـ وَثِقَ يَثِقُ وثوقًا وثقة اعتماد کول بهروسه کول ـ

3ـ وَجَدَ يَجِدُ وجدًا ووِجدانًا موندل حاصلول۔

4ـ وَرَدَ يَرِدُ وَردًا ووُرُودًا راتلل۔

5ـ وَصَفَ يَصِفُ وصفًا وصفةً ديو شی حالت بيانول تعريف کول ـ

6ـ وَجَبَ يَجِبُ وُجُوبًا لازم کيدل۔

7-وَضَحَ يَضِحُ وُضُوحًا   واضح کیدل۔

8-وَعَظَ يَعِظُ وَعْظًا وَ عِظَةً  نصیحت کول ،انجام مخے ته کول ۔

9-وَقَفَ يَقِفُ وَقْفًا و وُ قُوفًا    اودریدل ،بس کول ۔

10-وَلَجَ يَلِجُ وُلُوجًا   داخل کیدل دننه کیدل ۔

مثال واوی  ازباب سَمِعَ يَسمَعُ : الوَجْلُ  يَره راتلل

صرف صغير:

وَجِلَ يَوْجَلُ وَجْلاً، فَهُوَوَاجِلٌ، وَوُجِلَ بِهٖ يُوْجَلُ بِهٖ وَجْلاً، فَذَاکَ مَوْجُوْلٌ بِهٖ، لَمْ يَوْجَلْ لَمْ يُوْجَلْ بِهٖ، لَايَوْجَلُ لَايُوْجَلُ بِهٖ، لَنْ يَّوْجَلَ لَنْ يُّوْجَلَ بِهٖ، لَيَوْجَلَنَّ لَيُوْجَلَنَّ بِهٖ، لَيَوْجَلَنْ لَيُوْجَلَنْ بِهٖ۔

الامرمنه:اِيْجَلْ لِيُوْجَلْ بِکَ، لِيَوْجَلْ لِيُوْجَلْ بِهٖ۔

والنهی عنه:لاتَوْجَلْ لاتُوْجَلْ بِکَ، لايَوْجَلْ لايُوْجَلْ بِهٖ۔

والظرف منه:مَوْجِلٌ مَوْجِلانِ مَوَاجِلُ وَمُوَيْجِلٌ۔

والاٰلة منه:مِيْجَلٌ مِيْجَلانِ مَوَاجِلُ وَمُوَيْجِلٌ، مِيْجَلَةٌ مِيْجَلَتَانِ مَوَاجِلُ وَمُوَيْجِلَةٌ، مِيْجَالٌ مِيْجَالانِ مَوَاجِيْلُ وَمُوَيْجِيْلٌ وَمُوَيْجِيْلَةٌ۔

افعل التفضيل المذكرمنه:اَوْجَلُ اَوْجَلانِ اَوْجَلُوْنَ اَوَاجِلُ وَاُوَيْجِلٌ۔

والمؤنث منه:وُجْلٰى وُجْلَيَانِ وُجْلَيَاتٌ وُجَلٌ وَوُجَيْلٰى۔

فعل التعجب منه:مَااَوْجَلَهٗ، وَاَوْجِلْ بِهٖ، وَوَجُلَ۔

يَوجَلُ کښي د يَوْ عِدُ پشان تعليل ندے شوے يعنی واو ندے غورزيدلے ،علامت د مضارع اگر چې مفتوح دے خو عين كلمه مكسوره نده او عين يا لسم حرف حلقی هم ندی ۔

سوال: الوجلُ خو لازم دے د لازم خو مجهول نه رازی دلته مجهول هم ذكر شو ؟

جواب: دا خبره صحیح ده خو ګردان ددی دپاره ذکر شو چی ګردان کښی خلل رانشي ، او بله داچه کله د باء په ذریعه متعدی کولے شی نو بیا هلته مجهول رازی لکه ذُهِبَ بِهٖ نو دلته به وُجِلَ بِهٖ وائی ۔

صرف کبیر:

وَجِلَ وَجِلَا وَجِلُوا وَجِلَتْ الخ سَمِعَ په طرز۔

يَوْجَلُ يَوْجَلَانِ يَوْجَلُونَ الخ يَسْمَعُ په طرز۔

وُجِلَ وُجِلَا وُجِلُوا وُجِلَتْ الخ سُمِعَ په طرز۔

يُوْجَلُ يُوْجَلَانِ يُوْجَلُونَ الخ يُسْمَعُ په طرز۔

په یوه صیغه کښی تعلیلی تبدیلی نده شوی ۔

امر حاضر معروف:

اِيْجَلْ اِيْجَلَا اِيْجَلُوا اِيْجَلِي اِيْجَلَا اِيْجَلْنَ۔

امر دتَوْجَلُ نه جوړدے اِوْجَلْ وو خو وئیل شی اِيجَلْ ۔ځکه دا قائده تیره شوے ده چی واو ساکن غیر مدغم دے او ماقبل مکسور نو بدل شو په یاء باندی دغه شان تعلیل اسم اٰله کښ هم شوے دے ۔

اسم اٰله :

مِيْجَلٌ مِيْجَلانِ مَوَاجِلُ وَمُوَيْجِلٌ، مِيْجَلَةٌ مِيْجَلَتَانِ مَوَاجِلُ وَمُوَيْجِلَةٌ، مِيْجَالٌ مِيْجَالانِ مَوَاجِيْلُ وَمُوَيْجِيْلٌ وَمُوَيْجِيْلَةٌ۔

تمرین:

افعال ذیل ګردان ؤکه!

1۔وَسِعَ يَسَعُ سعةً فراخه کیدل۔

2۔وَجِعَ يَوجَعُ وَجَعًا تکلیف کیدل ۔

3-وَبِقَ يَوْبَقُ وَبَقًا هلاكيدل۔

4-وَلِعَ يَولَعُ وَلَعًا  دلداده كيدل،ز ړه وركول،عاشق كيدل۔

5-وَسِخَ يَوسَخُ وَسَخًا  خيرنيدل۔

**فائده:** يَوجَعُ يَولَعُ يَوسَخُ دى كښى اګر چى لام كلمه حرف حلقى دے خو بيا هم مضارع نه واو ندے غورزيدلے ځكه چى دا درے افعال د قاعدے نه مستثنیٰ دى ۔

دد ے افعالو امر : اِيسَغْ،اِيجَعْ،اِيبَقْ، اِيلَعْ ،اِيسَغْ۔

**مثال واوى ازباب فَتَحَ يَفتَحُ الوهبُ والهِبَةُ وركول بَخَل۔صرف صغير:**

وَهَبَ يَهَبُ هِبَةً، فَهُوَوَاهِبٌ، وَوُهِبَ يُوْهَبُ هِبَةً، فَذَاکَ مَوْهُوْبٌ، لَمْ يَهَبْ لَمْ يُوْهَبْ، لَايَهَبُ لَايُوْهَبُ، لَنْ يَّهَبَ لَنْ يُّوْهَبَ، لَيَهَبَنَّ لَيُوْهَبَنَّ، لَيَهَبَنْ لَيُوْهَبَنْ۔

الامرمنه:هَبْ لِتُوْهَبْ، لِيَهَبْ لِيُوْهَبْ۔

والنهى عنه:لاتَهَبْ لاتُوْهَبْ، لايَهَبْ لايُوْهَبْ۔

والظرف منه:مَوْهَبٌ مَوْهَبَانِ مَوَاهِبُ وَمُوَيْهِبٌ۔

والاٰلة منه:مِيْهَبٌ مِيْهَبَانِ مَوَاهِبُ وَمُوَيْهِبٌ، مِيْهَبَةٌ مِيْهَبَتَانِ مَوَاهِبُ وَمُوَيْهِبَةٌ، مِيْهَابٌ مِيْهَابَانِ مَوَاهِيْبُ وَمُوَيْهِيْبٌ وَمُوَيْهِيْبَةٌ۔

افعل التفضيل المذكر منه:اَوْهَبُ اَوْهَبَانِ اَوْهَبُوْنَ اَوَاهِبُ وَاُوَيْهِبٌ۔

والمؤنث منه:وُهْبٰى وُهْبَيَانِ وُهْبَيَاتٌ وُهَبٌ وَوُهَيْبٰى۔

فعل التعجب منه:مَااَوْهَبَه،، وَاَوْهِبْ بِهٖ، وَوَهُبَ۔

ددى فعل ماضى د صحيح پشان ده هيڅ تبديلى پکښى نده شوى ،

او په مضارع كښى يَهَبُ يَوهَبُ وو ۔واو د علامت مضارع مفتوح او دداسى فعل د فتحے درميان راغې چى د هغې عين كلمه حرف حلقى ده ،نو عين اوغورزيدو د مضارع معروف باقى صيغو كښى هم داسى تعليل شوے دے،

او مضارع مجهول يُوهَبُ د صحيح په مثل ده۔

او امر حاضر معروف هَبْ د تَهَبُ نه جوړ دے ،علامت مضارع حذف كه او آخر ساكن كه هَبْ شو ۔

او اسم أله مِيهَب مِوْ هَب وو د ميعد په مثل تعليل پكښى شوے دے۔

**صرف كبير: ماضى معروف مثبت:**

| | | |
|---|---|---|
| وَهَبَ | وَهَبَا | وَهَبُوا |
| وَهَبَتْ | وَهَبَتَا | وَهَبْنَ |
| وَهَبْتَ | وَهَبْتُما | وَهَبْتُم |
| وَهَبْتِ | وَهَبْتُما | وَهَبْتُنَّ |
| وَهَبْتُ | وَهَبْنَا | |

ماضى مجهول: وُهِبَ وُهِبَا وُهِبُوا الخ (يعنى د آخيره پورى)مثل فُتِحَ۔

**مضارع معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| يَهَبُ | يَهَبَانِ | يَهَبُونَ |
| تَهَبُ | تَهَبَانِ | يَهَبْنَ |
| تَهَبُ | تَهَبَانِ | تَهَبُونَ |
| تَهَبِينَ | تَهَبَانِ | تَهَبْنَ |
| اَهَبُ | نَهَبُ | |

مضارع مجهول:

يُوهَبُ يُوهَبَانَ يُوهَبُونَ الخ يُفْتَحُ پشان۔

**نفى تاكيد بلن درفعل مستقبل معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَنْ يَهَبَ | لَنْ يَهَبَا | لَنْ يَهَبُوا |
| لَنْ تَهَبَ | لَنْ تَهَبَا | لَنْ يَهَبْنَ |
| لَنْ تَهَبَ | لَنْ تَهَبَا | لَنْ تَهَبُوا |
| لَنْ تَهَبِى | لَنْ تَهَبَا | لَنْ تَهَبْنَ |

| | | |
|---|---|---|
| لَنْ اَهَبَ | لَنْ نَهَبَ | |

**نفی تاکید بلن درفعل مستقبل مجهول : لَنْ یُوهَبَ، لَنْ یُوهَبَا، لَنْ یُوهَبُوا الخ لَنْ یُفْتَحَ پشان۔**

**نفی جحد بلم معروف :**

| | | |
|---|---|---|
| لَمْ یَهَبْ | لَمْ یَهَبَا | لَمْ یَهَبُو |
| لَمْ تَهَبْ | لَمْ تَهَبَا | لَمْ یَهَبْنَ |
| لَمْ تَهَبْ | لَمْ تَهَبَا | لَمْ تَهَبُو |
| لَمْ تَهَبِی | لَمْ تَهَبَا | لَمْ تَهَبْنَ |
| لَمْ اَهَبْ | لَمْ نَهَبْ | |

**نفی جحد بلم مجهول:**

لَمْ یُوهَبْ، لَمْ یُوهَبَا، لَمْ یُوهَبُو الخ لَمْ یُفْتَحْ پشان۔

**لام تاکید بانون تاکید ثقیله:**

| | | |
|---|---|---|
| لَیَهَبَنَّ | لَیَهَبَانِّ | لَیَهَبُنَّ |
| لَتَهَبَنَّ | لَتَهَبَانِّ | لَیَهَبْنَانِّ |
| لَتَهَبَنَّ | لَتَهَبَانِّ | لَتَهَبُنَّ |
| لَتَهَبِنَّ | لَتَهَبَانِّ | لَتَهَبْنَانِّ |
| لَاَهَبَنَّ | لَنَهَبَنَّ | |

**لام تاکید بانون تاکید خفیفه:**

| | | |
|---|---|---|
| لَیُوهَبَنَّ | لَیُوهَبَانِّ | لَیُوهَبُنَّ |
| لَتُوهَبَنَّ | لَتُوهَبَانِّ | لَیُوهَبْنَانِّ |
| لَتُوهَبَنَّ | لَتُوهَبَانِّ | لَتُوهَبُنَّ |
| لَتُوهَبِنَّ | لَتُوهَبَانِّ | لَتُوهَبْنَانِّ |
| لَاُوهَبَنَّ | لَنُوهَبَنَّ | |

**لام تاکید بانون تاکید خفیفه معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَیَهَبَنْ | | لَیَهَبُنْ |

| | | |
|---|---|---|
| لَتَهَبَنْ | | |
| لَتَهَبَنْ | | لَتَهَبُنْ |
| لَتَهَبِنْ | | |
| لَأَهَبَنْ | لَنَهَبَنْ | |

**لام تاکید بانون تاکید خفیفه مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَیُوهَبَنْ | | لَیُوهَبُنْ |
| لَتُوهَبَنْ | | |
| لَتُوهَبَنْ | | لَتُوهَبُنْ |
| لَتُوهَبِنْ | | |
| لَأُوهَبَنْ | لَنُوهَبَنْ | |

**امر حاضر معروف:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هَبْ | هَبَا | هَبُوا | هَبِی | هَبَا | هَبْنَ |

**امر غائب و متکلم معروف:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِیَهَبْ | لِیَهَبَا | لِیَهَبُوا | لِتَهَبْ |
| لِتَهَبَا | لِیَهَبْنَ | لِأَهَبْ | لِنَهَبْ |

لِیَهَبْ اصل کښې یَوهَبْ وو او هَبْ اصل کښې تَهَبُ وو د یَهَبُ پشان تعلیل پکښې شوے دے۔

**امر مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لِیُوهَبْ | لِیُوهَبَا | لِیُوهَبُوا |
| لِتُوهَبْ | لِتُوهَبَا | لِیُوهَبْنَ |
| لِتُوهَبْ | لِتُوهَبَا | لِتُوهَبُوا |
| لِتُوهَبِی | لِتُوهَبا | لِتُوهَبْنَ |
| لِأُوهَبْ | لِنُوهَبْ | |

**امر حاضر معروف بانون ثقیله:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هَبَنَّ | هَبَانِّ | هَبُنَّ | هَبِنَّ | هَبَانِّ | هَبْنَانِّ |

امر غائب و متکلم معروف بانون ثقیله:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِيَهَبَنَّ | لِيَهَبَانِّ | لِيَهَبُنَّ | لِتَهَبَنَّ |
| لِتَهَبَانِّ | لِيَهَبْنَانِّ | لِاَهَبَنَّ | لِنَهَبَنَّ |

**امر مجهول بانون ثقیله:**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُوهَبَنَّ | لِيُوهَبَانِّ | لِيُوهَبُنَّ |
| لِتُوهَبَنَّ | لِتُوهَبَانِّ | لِيُوهَبْنانِّ |
| لِتُوهَبَنَّ | لِتُوهَبَانِّ | لِتُوهَبُنَّ |
| لِتُوهَبِنَّ | لِتُوهَبانِّ | لِتُوهَبْنَانِّ |
| لِاُوهَبَنَّ | لِنُوهَبَنَّ | |

**امر حاضر معروف بانون خفیفه:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هَبَنْ | | هَبُنْ | هَبِنْ | | |

**امر غائب و متکلم معروف بانون خفیفه:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِيَهَبَنْ | | لِيَهَبُنْ | لِتَهَبَنْ |
| | | لِاَهَبَنْ | لِنَهَبَنْ |

**امر مجهول بانون خفیفه:**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُوهَبَنْ | | لِيُوهَبُنْ |
| لِتُوهَبَنْ | | |
| لِتُوهَبَنْ | | لِتُوهَبُنْ |
| لِتُوهَبِنْ | | |
| لِاُوهَبَنْ | لِنُوهَبَنْ | |

**نہی حاضر معروف:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لاتهَبْ | لاتهَبَا | لاتهَبُوا | لاتهَبی | لاتهَبَا | لاتهَبْنَ |

**نہی غائب و متکلم معروف:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| لايَهَبْ | لايَهَبَا | لايَهَبُوا | لاتَهَبْ |
| لاتَهَبَا | لايَهَبْنَ | لااَهَبْ | لانَهَبْ |

## نہی مجہول:

| | | |
|---|---|---|
| لایُوهَبْ | لایُوهَبَا | لایُوهَبُوا |
| لاتُوهَبْ | لاتُوهَبَا | لایُوهَبْنَ |
| لاتُوهَبْ | لاتُوهَبَا | لاتُوهَبُوا |
| لاتُوهَبِی | لاتُوهَبا | لاتُوهَبْنَ |
| لاأُوهَبْ | لانُوهَبْ | |

## نہی حاضر معروف بانون ثقیلہ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لاتهَبَنَّ | لاتهَبَانِّ | لاتهَبُنَّ | لاتهَبِنَّ | لاتهَبَانِّ | لاتهَبْنَانِّ |

## نہی غائب و متکلم معروف بانون ثقیلہ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لایَهَبَنَّ | لایَهَبَانِّ | لایَهَبُنَّ | لاتَهَبَنَّ |
| لاتَهَبَانِّ | لایَهَبْنَانِّ | لاآهَبنَّ | لانَهَبَنَّ |

## نہی مجہول بانون ثقیلہ:

| | | |
|---|---|---|
| لایُوهَبَنَّ | لایُوهَبَانِّ | لایُوهَبُنَّ |
| لاتُوهَبَنَّ | لاتُوهَبَانِّ | لایُوهَبْنَانِّ |
| لاتُوهَبَنَّ | لاتُوهَبَانِّ | لاتُوهَبُنَّ |
| لاتُوهَبِنَّ | لاتُوهَبانِّ | لاتُوهَبْنَانِّ |
| لاأُوهَبَنَّ | لانُوهَبَنَّ | |

## نہی حاضر معروف بانون خفیفہ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لاتهَبَنْ | | لاتهَبُنْ | لاتهَبِنْ | | |

## نہی غائب و متکلم معروف بانون خفیفہ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لایَهَبَنْ | | لایَهَبُنْ | لاتَهَبَنْ |
| | | لاآهَبنْ | لانَهَبَنْ |

## نہی مجہول بانون خفیفہ:

| | | |
|---|---|---|
| لایُوهَبَنْ | | لایُوهَبُنْ |
| لاتُوهَبَنْ | | |

| | | |
|---|---|---|
| لاتُوهَبْ | | لاتُوهَبُنْ |
| لاتُوهَبِنْ | | |
| لاأُوهَبَنْ | لانُوهَبَنْ | |

**اسم فاعل:**

| | | |
|---|---|---|
| وَاهِبٌ | وَاهِبَانِ | وَاهِبُونَ |
| وَاهِبَةٌ | وَاهِبَتانِ | وَاهِبَاتٌ |

**اسم مفعول:**

| | | |
|---|---|---|
| مَوْهُوبٌ | مَوْهُوبَانِ | مَوْهُوبُونَ |
| مَوْهُوبَةٌ | مَوْهُوبَتانِ | مَوْهُوبَاتٌ |

**اسم تفضيل:**

افعل التفضيل المذكر :اَوْهَبُ اَوْهَبَانِ اَوْهَبُوْنَ اَوَاهِبُ وَاُوَيْهِبٌ۔

والمؤنث :وُهْبٰى وُهْبَيَانِ وُهْبَيَاتٌ وُهَبٌ وَوُهَيْبٰى۔

**تمرين:**

افعال ذيل نه مختلف گردانونه وكه:

1۔وَضعَ يَضَعُ وضعًا كيخودل۔

2۔وَدَعَ يَدَعُ دَعَةً پريخودل۔

3۔وقَعَ يقَعُ وقعًا و وقوعًا واقع كيدل۔

4۔وَلَغَ يَلَغُ ولوغًا ددرنده ځناور ځتل۔

**مثال واوى از باب كرُمَ يكرُمُ الوسمُ والوسامةُ خوبصورت كيدل :**

صرف صغير:

وَسُمَ يَوْسُمُ وَسْمًا، فَهُوَ وَاسِمٌ، وَوُسِمَ يُوْسَمُ وَسْمًا، فَذَاکَ مَوْسُوْمٌ، لَمْ يَوْسُمْ لَمْ يُوْسَمْ، لايَوْسُمُ لايُوْسَمُ، لَنْ يَّوْسُمَ لَنْ يُّوْسَمَ، لَيَوْسُمَنَّ لَيُوْسَمَنَّ، لَيَوْسُمَنْ لَيُوْسَمَنْ۔

الامرمنه:اُوْسُمْ لِتُوْسَمْ، لِيَوْسُمْ لِيُوْسَمْ۔

والنهی عنه:لاتَوْسُمْ لاتُوْسَمْ، لايَوْسُمْ لايُوْسَمْ۔

والظرف منه:مَوْسِمٌ مَوْسِمَانِ مَوَاسِمُ وَمُوَيْسِمٌ۔

والاٰلة منه:مِيْسَمٌ مِيْسَمَانِ مَوَاسِمُ وَمُوَيْسِمٌ، مِيْسَمَةٌ مِيْسَمَتَانِ مَوَاسِمُ وَمُوَيْسِمَةٌ، مِيْسَامٌ مِيْسَامَانِ مَوَاسِيْمُ وَمُوَيْسِيْمٌ۔

افعل التفضيل المذکر منه:اَوْسَمُ اَوْسَمَانِ اَوْسَمُوْنَ اَوَاسِمُ وَاُوَيْسِمٌ۔

والمؤنث منه:وُسْمٰی وُسْمَيَانِ وُسْمَيَاتٌ وُسَمٌ وَوُسَيْمٰی۔

فعل التعجب منه:مَااَوْسَمَه،، وَاَوْسِمْ بِهٖ، وَوَسُمَ۔

ددی صرف کبير د کَرُمَ په مثل دے تعليل پکښی نشته ۔

مِيْسَمٌ اصلًا مِوْسَمٌ وو واو ساکن غير مدغم ما قبل مکسور وو نو واو په ياء بدل شو۔

تمرين:

درج ذيل افعالو نه ګردانونه وکه!

1۔وَثُقَ يَوثُقُ وثاقَةً پائيدار ،مضبوط کيدل۔

2۔وَشُکَ يَوشُکُ وشگا ووشاکةً نزدے کيدل۔

**مثال واوی ازباب حَسِبَ يَحسَبُ الورمُ ( سوجنا) پړسيدل۔**

صرف صغير:

وَرِمَ يَرِمُ وَرْمًا، فَهُوَ وَارِمٌ، وَوُرِمَ بِهٖ يُوْرَمُ بِهٖ وَرْمًا، فَذَاکَ مَوْرُوْمٌ بِهٖ، لَمْ يَرِمْ لَمْ يُوْرَمْ بِهٖ، لايَرِمُ لايُوْرَمُ بِهٖ، لَنْ يَّرِمَ لَنْ يُّوْرَمَ بِهٖ، لَيَرِمَنَّ لَيُوْرَمَنَّ به، لِيَرِمَنْ لَيُوْرَمَنْ۔

الامرمنه:رِمْ لِتُوْرَمْ بِکَ، لِيَرِمْ لِيُوْرَمْ بِهٖ۔

والنهی عنه:لاتَرِمْ لاتُوْرَمْ بِکَ، لايَرِمْ لايُوْرَمْ بِهٖ۔

والظرف منه:مَوْرِمٌ مَوْرِمَانِ مَوَارِمُ وَمُوَيْرِمٌ۔

والاٰلة منه:مِيْرَمٌ مِيْرَمَانِ مَوَارِمُ وَمُوَيْرِمٌ، مِيْرَمَةٌ مِيْرَمَتَانِ مَوَارِمُ وَمُوَيْرِمَةٌ، مِيْرَامٌ مِيْرَامَانِ مَوَارِيْمُ وَمُوَيْرِيْمٌ۔

افعل التفضيل المذكر منه:اَوْرَمُ اَوْرَمَانِ اَوْرَمُوْنَ اَوَارِمُ وَاُوَيْرِمٌ۔

والمؤنث منه:وُرْمٰى وُرْمَيَانِ وُرْمَيَاتٌ وُرَمٌ وَوُرَيْمٰى۔

فعل التعجب منه:مَااَوْرَمَه،، وَاَوْرِمْ بِهٖ، وَوَرُمَ۔

ددی باب صرف کبیر د وَعَدَ يَعِدُ په مثل دے ، ګردان کولو په وخت د عین کلمے د حرکت خیال ساته!۔

يَرِمُ په اصل کښی يورِمُ وو واو ساکن درميان علامت مضارع مفتوح او عین کلمه مکسور

واقع شو نو واو حذف شو ۔

رِمْ د تَرِمُ نه جوړدے علامت مضارع حذف که او آخر ساکن که رِمْ شو۔

مِيْرَمٌ اصلًا مِوْرَمٌ وو واو ساکن غير مدغم ماقبل مکسور وو واو په ياء بدل شو۔

تمرين:

**<u>درج ذيل افعالو نه ګردانونه وکه!</u>**

1۔وَبِقَ يَبِقُ وبقًا هلاکيدل۔

2۔وَثِقَ يثِقُ ثِقَةً په چا باور کول۔

3۔وَرِثَ يَرِثُ وِرثًا وارث کيدل۔

4۔وَرِعَ يَرِعُ ورعًا پرهيز کول۔

# ثلاثی مزید فیه

## 1۔صرف صغیر ثلاثی مزید فیه مثال واوی از باب اِفْعَالٌ۔ جیسے: اِیْعَادٌ (یرول)

اَوْعَدَ یُوْعِدُ اِیْعَادًا، فَہُوَ مُوْعِدٌ، وَاُوْعِدَ یُوْعَدُ اِیْعَادًا، فَذَاکَ مُوْعَدٌ، لَمْ یُوْعِدْ لَمْ یُوْعَدْ، لایُوْعِدُ لایُوْعَدُ، لَنْ یُّوْعِدَ لَنْ یُّوْعَدَ، لَیُوْعِدَنَّ لَیُوْعَدَنَّ، لَیُوْعِدَنْ لَیُوْعَدَنْ۔

الامرمنه:اَوْعِدْ لِتُوْعَدْ، لِیُوْعِدْ لِیُوْعَدْ۔

و النہی عنه:لاتُوْعِدْ لاتُوْعَدْ، لایُوْعِدْ لایُوْعَدْ۔

الظرف منه:مُوْعَدٌ مُوْعَدَانِ مُوْعَدَاتٌ۔ والاٰلة منه:مَابِہٖ الْاِیْعَادُ۔

افعل التفضیل منه:اَشَدُّ اِیْعَاداً۔

فعل التعجب منه: مَااَشَدَّ اِیْعَاداً، وَاَشْدِدْ بِاِیْعَادِہٖ۔

اِیعاد اصلًا اِوعاد وو ،واو ساکن غیر مدغم ماقبل مکسور وو واو په یاء سره بدل شو،باقی تعلیل ندے شوے۔

## 2۔باب تفعیل ۔التوحیدُ د یو والی عقیده ساتل۔

صرف صغیر:

وَحَّدَ یُوَحِّدَ تَوحِیدًا فهو مُوَحِّدٌ و وُحِّدَ یُوَحَّدُ تَوحِیدًا مُوَحَّدٌ

الامرُ منهُ وَحِّدْ والنهی عنهُ لاتُوَحِّدْ والظرف منهُ مُوَحَّدٌ والاٰلة منهُ ما بهٖ التوحیدُ

اسم التفضیل منهُ ما اشَدُّ توحیدًا۔

## 3۔باب تفاعُل التوافقُ (باهم متفق کیدل)

صرف صغیر: توافَقَ یَتوافَقُ تَوافُقًا فهو مُتَوافِقٌ و تُووفِقَ یُتَوافَقُ تَوافُقًا فذاک مُتَوافَقٌ

الامرُ منهُ تَوافَقْ النهی عنهُ لا تَوافَقْ الظرف منهُ مُتَوافَقٌ۔

**4۔باب مفاعله المواظبةُ (پابندی کول)**

وَاظَبَ يُواظِبُ مُواظبةً فهو مُواظِبٌ و وُوظِبَ يُواظَبُ مواظبةً فذاکَ مُواظَبٌ

الامرُ منهُ وَاظِبْ النهی عنهُ لا تُواظِبْ والظرف منهُ مُواظَبٌ۔

ددی بابونو گردانونه د صحیح په مثل دی ۔

**5۔باب افتعال الاتِّقاد (د اور بليدل) الوقدُ وُقُودًا۔**

اِتَّقَدَ يَتَّقِدُ اِتَّقادًا فهو مُتَّقِدٌ و اُتُّقِدَ يُتَّقَدُ اِتِّقادًا فذاک مُتَّقَدٌ

الامرُ منهُ اِتَّقِدْ والنهی عنهُ لا تَتَّقِدْ والظرف منهُ مُتَّقَدٌ۔

والاٰلة منهُ مابهٖ الاِتَّقادُ افعل التفضيل ما اشَدُّ اِتَّقادًا۔

اِتَّقاد اصلًا اِوْتقاد وو واو په تاء بدل شوه او تاء په تاء کښې مدغم شوه۔

قاعده : کله چې واو د فاء د افتعال په مقام راشی نو په تاء بدليږی ۔

**6۔باب استفعال الاستيجابُ (د يو شی مستحق کيدل) اصلًا الاستِوجاب مجرد وَجَبَ۔**

صرف صغير:

اِسْتَوْجَبَ يَسْتَوْجِبُ استيجابًا فهو مُسْتَوجِبٌ و اُستُوجِبَ يُستَوجَبُ استيجابًا فذاک مُسْتَوجَبٌ

الامرُ منهُ اِسْتَوْجِبْ والنهی عنهُ لاتَسْتَوْجِبْ الظرف منهُ مُسْتَوجَبٌ والاٰلةُ منهُ ما بهٖ الاستيجاب افعلُ التفضيل ما اَشَدُّ استيجابًا۔

دی باب کښي هيڅ تعليل ندے شوے سوا د مصدر نه استيجابًا اصلًا اِستِوجابًا وو واو ساکن غير مدغم ما قبل کسره ده ۔واو بدل شو په ياء باندی۔

**7۔باب تفَعُّل التَّوقُّد (اور بليدل)**

صرف صغير:

تَوَقَّدَ یَتَوَقَّدُ تَوَقُّدًا فهو مُتَوَقِّدٌ و تُوُقِّدَ یُتَوَقَّدُ تَوَقُّدًا فهو مُتَوَقَّدٌ

الامرُ منهُ تَوَقَّدْ والنهی عنهُ لاتَتَوَقَّدْ الظرف منهُ مُتَوَقَّدٌ والاٰلة منهُ مابهٖ التَوَقُّد افعل التفضیل اشَدُّ تَوَقُّدًا ۔

درج ذیل نه ګردانونه وکړٔ!

| | |
|---|---|
| 1۔اوجَزَ ایجازًا بلیغ اختصار کول۔ | 2۔اوقَدَ ایقادًا اور بلوَل۔ |
| 2۔ودَّعَ تودیعًا رخصت کول۔ | 4۔ورَّثَ توریثًا وارث کیدل۔ |
| 5۔تواتَرَ تواتُرًا پرله پسے کول۔ | 6۔تَوَا صَلَ تَواصُلًا یو بل سره میلاویدل۔ |
| 7۔وافَقَ مُوافَقَةً مَحبت کول۔ | 8 ۔واعَدَ مُواعَدَةً وعده کول۔ |
| 9۔اِتَّعَظَ اِتِّعاظًا نصیحت کول۔ | 10۔اِتَّفَقَ اِتِّفاقًا اتفاق کول۔ |
| 11۔اِسْتَوعَبَ استِیعابًا را ګیرول۔ | 12۔اِستَوهَبَ اِستیهابًا بخشش غوختل۔ |
| 13۔تَوَسَّخَ تَوَسُّخًا خیرن کیدل۔ | 14۔تَوَجَّدَ تَوَجُّدًا غم ګین کیدل۔ |

# د مثال یایی بیان

مثال یایی صرف د څلورو بابونو نه رازی ۔1۔ضربَ 2۔سمِعَ 3۔فَتحَ 4۔کَرُمَ

**1۔مثال یایی ازباب ضرب الیسرُ ۔جواری کول۔**

صرف صغیر: یَسَرَ یَیْسِرُ یُسْرًا، فَهُوَ یَاسِرٌ، وَیُسِرَبِهٖ یُوْسَرُبِهٖ یُسْرًا، فَذٰاکَ مَیْسُوْرٌ بِهٖ، لَمْ یَیْسِرْ لَمْ یُوْسَرْبِهٖ، لایَیْسِرُ لایُوْسَرُبِهٖ، لَنْ یَّیْسِرَ لَنْ یُّوْسَرَبِهٖ، لَیَیْسِرَنَّ لَیُوْسَرَنَّ بِهٖ، لَیَیْسِرَنْ لَیُوْسَرَنْ بِهٖ۔

الامرمنه:اِیْسِرْ لِتُوْسَرْ بِکَ، لِیَیْسِرْ لِیُوْسَرْ بِهٖ۔

والنهی عنه:لاتَیْسِرْ لاتُوْسَرْبِک

والظرف منهُ مَیسِرٌ والاٰلةُ منهُ مِیسَرٌ و میسرة و میسارٌ و اسم التفضیل منهُ اَیسَرُ اَیسَرَانِ اَیسَرُونَ ایاسِرُ والمؤنث منهُ یُسریٰ یُسریانِ یُسریاتٌ یُسَرٌ ۔

دی باب کښی تعلیل ندے شوے۔

## مثال یاپی ازباب سمِعَ یسمَعُ الیُبسُ و الیبوسةُ وچیدل۔

صرف صغیر: ددی باب مجهول مستعمل ندے او لکه د سمِعَ یسمعُ پشان دے تعلیل پکښی ندے شوے۔

یَبِسَ یَیْبَسُ یُبسًا و یبوسةً الامرُ منهُ اِیبَسْ والنهی عنهُ لا تَیْبَسْ الظرف منهُ مَیبَسٌ والاٰلة منهُ مِیبَسٌ مِیبَسةٌ و مِیبَاسٌ اسم التفضیل اَیبَسُ ولمؤنث منهُ یُبْسیٰ۔

**مثال یاپی ازباب فَتَحَ یَفتَحُ الیَنعُ میوه پخیدل چی د شوکَولو قابله شی ۔**

صرف صغیر:

یَنَعَ یَیْنَعُ ینعًا فهو یانِعٌ و یُنِعَ یُونَعُ ینعًا فذاک مَینُوعٌ ،اِینَعْ ،لا تَینَعْ ،مَینَعٌ ،مِینَعٌ مِینَعَةٌ مِینَاعٌ، اَینَعُ یُنعیٰ۔

**مثال یاپی ازباب کَرُمَ یَکرُمُ الیَقْظُ ویخیدل(د خوب نه پاسیدل)**

یَقُظَ یَیْقُظُ یُقْظاً، فَهُوَ یَقِیظٌ، وَیُقِظَ بِهٖ یُوْقَظُ بِهٖ یُقْظاً، فَذَاکَ مَیْقُوْظٌ بِهٖ، لَمْ یَیْقُظْ لَمْ یُوْقَظْ بِهٖ، لایَیْقُظُ لایُوْقَظُ بِهٖ، لَنْ یَّیْقُظَ لَنْ یُّوْقَظَ بِهٖ، لَیَیْقُظَنَّ لَیُوْقَظَنَّ بِهٖ، لَیَیْقُظَنْ لَیُوْقَظَنْ بِهٖ۔

الامر منه:اُوْقُظْ لِتُوْقَظْ بِکَ، لِیَیْقُظْ لِیُوْقَظْ بِهٖ۔

والنهی عنه:لاتَیْقُظْ لاتُوْقَظْ بِکَ، لایَیْقُظْ لایُوْقَظْ بِهٖ۔

الظرف منه:مَیْقِظٌ مَیْقِظَانِ مَیَاقِظُ وَمُیَیْقِظٌ۔

والاٰلة منه:مِیْقَظٌ مِیْقَظَانِ مَیَاقِظُ وَمُیَیْقِظٌ، مِیْقَظَةٌ مِیْقَظَتَانِ مَیَاقِظُ وَمُیَیْقِظَةٌ، مِیْقَاظٌ مِیْقَاظَانِ مَیَاقِیْظُ وَمُیَیْقِیْظٌ۔

افعل التفضیل المذکر منه:اَیْقَظُ اَیْقَظَانِ اَیْقَظُوْنَ اَیَاقِظُ وَاُیَیْقِظٌ۔

والمؤنث منه:يُقْظىٰ يُقْظَيَانِ يُقْظَيَاتٌ يُقَظٌ وَيُقَيْظى۔

فعل التعجب منه:مَاآَيْقَظَه،، وَآيْقِظْ بِهٖ، وَيَقُظَ۔

اُوْقُظْ اصلًا اُيْقُظ وو ياء ساكن غير مدغم ما قبل مضموم بدل شوه په واو باندى ۔

# مثال يائي از ابواب ثلاثي مزيدٌ فيهٖ

**1۔ مثال يائي ازباب افعال الايسارُ مالداره كيدل۔**

صرف صغير:

آيْسَرَ يُوسِرُ ايسارًا فهو مُوسِرٌ و اُوسِرَ يُوسَرُ ايسارًا فهو مُوسَرٌ

الامرُ منهُ آيْسِرْ والنهىُ عنهُ لا تُوسِرْ الظرف منهُ مُوسَرٌ ولاٰلةُ منهُ ما بهٖ الايسار

اسم التفضيل اشَدُّ ايسارًا۔

يُوسِرُ يُوسَرُ اصلًا يُيسِرُ او يُيسَرُ وو خو يا ساكن ماقبل مضموم ياء په واو بدل شوه دا تعليل په نورو مشتقاتو كښې هم دے لكه نفى تاكيد وغيره۔

**2۔باب تفعيل التيسيرُ اسانول۔**

صرف صغير:

يَسَّرَ يُيَسِّرُ تَيسِيْرًا، فَهُوَمُيَسِّرٌ، وَيُسِّرَ يُيَسَّرُ تَيسِيْرًا، فَذَاكَ مُيَسَّرٌ، لَمْ يُيَسِّرْ لَمْ يُيَسَّرْ،لايُيَسِّرُلايُيَسَّرُ، لَنْ يُّيَسِّرَ لَنْ يُّيَسَّرَ، لَيُيَسِّرَنَّ لَيُيَسَّرَنَّ، لَيُيَسِّرَنْ لَيُيَسَّرَنْ۔

الامرمنه:يَسِّرْ لِتُيَسَّرْ، لِيُيَسِّرْ لِيُيَسَّرْ۔

والنهى عنه:لاتُيَسِّرْ لاتُيَسَّرْ، لايُيَسِّرْ لايُيَسَّرْ۔

الظرف منه:مُيَسَّرٌ مُيَسَّرَانِ مُيَسَّرَاتٌ۔والاٰلة منه:مَابِهٖ التَّيْسِيْرُ۔

افعل التفضيل منه:اَشَدُّ تَيْسِيْراً۔

فعل التعجب: مَااَشَدَّ تَيْسِيْراً، وَاَشْدِدْ بِتَيْسِيْرِهٖ۔

**3۔ صرف صغیر ثلاثی مزید فیه مثال یائی از باب اِفْتِعَالٌ: اِتِّسَار (آسان کیدل)**

اِتَّسَرَ یَتَّسِرُ اِتِّسَاراً، فَهُوَ مُتَّسِرٌ، وَاُتُّسِرَبِهٖ یُتَّسَرُبِهٖ اِتِّسَاراً، فَذَاکَ مُتَّسَرٌبِهٖ، لَمْ یَتَّسِرْ لَمْ یُتَّسَرْبِهٖ، لایَتَّسِرُ لایُتَّسَرُبِهٖ، لَنْ یَّتَّسِرَ لَنْ یُّتَّسَرَبِهٖ،

لَیَتَّسِرَنَّ لَیُتَّسَرَنَّ بِهٖ، لَیَتَّسِرَنْ لَیُتَّسَرَنْ بِهٖ۔

الامرمنه:اِتَّسِرْ لِیُتَّسَرْبِکَ، لِیَتَّسِرْ لِیُتَّسَرْبِهٖ۔

والنهی عنه:لاتَتَّسِرْ لایُتَّسَرْبِکَ، لایَتَّسِرْ لایُتَّسَرْبِهٖ۔

والظرف منه:مُتَّسَرٌ مُتَّسَرَانِ مُتَّسَرَاتٌ۔والاٰلة منه:مَابِهٖ الْاِتِّسَارُ۔

افعل التفضیل منه: اَشَدُّ اِتِّسَاراً۔

فعل التعجب: مَااَشَدَّ اِتِّسَاراً، وَاَشْدِدْ بِاِتِّسَارِهٖ۔

اِتَّسَرَ اصلًا اِیْتَسَرَ دے یاء د باب افتعال فاء کلمه کښی راغله نو په تاء بدله شوه۔بیا د تاء ادغام په تاء کښی وشو۔

**4۔ صرف صغیر ثلاثی مزیدفیه مثال یائی از باب اِسْتِفْعَالٌ: اِسْتِیْسَارٌ (آسانی طلب کول)**

اِسْتَیْسَرَ یَسْتَیْسِرُ اِسْتِیْسَارًا، فَهُوَ مُسْتَیْسِرٌ، وَاُسْتُوْسِرَ یُسْتَیْسَرُ اِسْتِیْسَارًا، فَذَاکَ مُسْتَیْسَرٌ، لَمْ یَسْتَیْسِرْ لَمْ یُسْتَیْسَرْ، لایَسْتَیْسِرُ لایُسْتَیْسَرُ، لَنْ یَّسْتَیْسِرَ لَنْ یُّسْتَیْسَرَ، لَیَسْتَیْسِرَنَّ لَیُسْتَیْسَرَنَّ، لَیَسْتَیْسِرَنْ لَیُسْتَیْسَرَنْ۔

الامرمنه:اِسْتَیْسِرْ لِتُسْتَیْسَرْ، لِیَسْتَیْسِرْ لِیُسْتَیْسَرْ۔

والنهی عنه:لاتَسْتَیْسِرْ لاتُسْتَیْسَرْ، لایَسْتَیْسِرْ لایُسْتَیْسَرْ۔

والظرف منه:مُسْتَیْسَرٌ مُسْتَیْسَرَانِ مُسْتَیْسَرَاتٌ۔ والاٰلة منه:مَابِهٖ الْاِسْتِیْسَارُ۔

افعل التفضیل منه:اَشَدُّ اِسْتِیْسَاراً۔

فعل التعجب منه: مَااَشَدَّ اِسْتِیْسَاراً، وَاَشْدِدْ بِاِسْتِیْسَارِهٖ۔

اُسْتُوْسِرَ اصلًا اُستُيْسِرَ وو یاء ساکن غیر مدغم ماقبل ضمه وه په واو بدل شوه۔

**5۔باب تَفَعُّل تَیَسُّرٌ اسان کیدل۔**

تَیَسَّرَ یَتَیَسَّرُ تَیَسُّرًا فهو مُتَیَسِّرٌ و تُیُسِّرَ یُتَیَسَّرُ تَیَسُّرًا فهو مُتَیَسَّرٌ الامر منهُ تَیَسَّرَ والنهی عنهُ لاتَتَیَسَّرَ الظرف منهُ مُتَیَسَّرٌ۔

تمرین :

افعال ذیل نه ګردان وکه!

1۔ اَیقَظَ ائقاظًا بیدارول۔

2۔تَیَقَّظَ تَیَقُّظًا بیداریدل۔

3۔تَیَمَّمَ تَیَمُّمًا تیمم کول۔

4۔اِسْتَیسَرَ اِستِیسارًا آسانیدل۔

د مثال بحث ختم شو ۔

# د اجوف بیان

اجوف یعنی معتل العین چی په عین کلمه کښی یی حرف علت راغلے وی :اجوف یایی او اجوف واوی ۔اجوف الفی اصلی نشته۔

اجوف په لغت کښی ډډْ والی ته وایی او ددی نه هم کله کله د مینځ حرف اوغورزیږی نو کلمهډډه پاتی شی۔

**داجوف د تعلیل قاعدے:**

<u>**قاعده 1۔:**</u> کوم واو او یاء چی متحرک وی او ماقبل تری فتحه وی نو په الف سره به دغه واو او یاء بدلیږی ۔لکه: قَوَلَ نه قَالَ او بَیَعَ نه بَاعَ خو که واو یا ساکن وی نو هغه به نه بدلیږی۔لکه :یَوْمٌ لَیْلٌ، قومٌ، بَیعٌ

دغه شان که دواړه متحرک وی خو ماقبل تری فتحه نوی نو بیا به هم نه بدلیږی۔ لکه :صُوَرٌ۔

او ددی قاعدے جاری کیدو دپاره نهه شرطونه دی په علم الصیغه کښی به راشی ۔

**قاعده 2۔** کچرے د ثلاثی مجرد عین کلمه واو وی او دغه واو په الف بدل شی او بیا د اجتماع ساکنین د وجے نه حذف شی او ماقبل یې مکسور العین نه وی نو فاء کلمے له به ضمه ورکولے شی لکه: قَوَلْنَ نه قُلْنَ شو۔

او که ماضی مکسور العین وی نو فاء کلمے له به کسره ورکولے شی لکه: خَوِفْنَ نه خِفْنَ۔

قَوَلْنَ کښی واو متحرک ماقبل فتحه په الف سره بدل شو قَالْنَ شو بیا الف د التقاء ساکنین د وجے حذف شو قَلْنَ شو بیا قاف له ضمه ورکړه چی دلالت وکی په حذف د واو نو قُلْنَ شو۔

خَوِفْنَ واو متحرک ماقبل مفتوح واو په الف باندی بدل شو خَافْنَ شو بیا الف د التقاء ساکنین د وجے حذف شو نو خَفْنَ شو بیا خ له کسره ورکړه چی دلالت وکی چی عین کلمه مکسور وه نو خِفْنَ شو،

**قاعده 3:** کچرے ثلاثی مجرد عین کلمه یاء وی او په الف سره بدل وی او الف د التقاء ساکنین د وجے حذف شی نو فاء کلمے له به کسره ورکولے شی لکه: بَيَعْنَ نه بِعْنَ۔

دلته یاء متحرک ما قبل مفتوح بدل شوه په الف بَاعْنَ شو،بیا الف د التقاء ساکنین د وجے نه حذف شو بَعْنَ شو ،بیا یې باء له کسره ورکړه چی دلالت وکی په حذف د یاء باندی بِعْنَ شو۔

**قاعده 4:** اجوف واوی او یایی که چرے د ماضی مجهول عین کلمه کښی واو یا یاء وی مکسور وی او ماضی معروف کښی تعلیل شوے وی نو د دواړو کسره ماقبل له ورکولے شی یعنی د ماقبل حرکت لرے کولو نه بعد بیا په اجوف واوی کښی واو په یاء باندی بدلوی لکه: قُوِلَ نه قِيْلَ او اجوف یایی کښی یاء قائم وی لکه: بُيِعَ نه بِيْعَ۔

**قاعده 5:** په واو کلمه کښې  واو یا یاء متحرک وی او ماقبل حرف صحیح ساکن وی نو د واو او یاء حرکت ماقبل له ورکوی لکه: یَقْوُلُ  نه یَقُولُ،یَبْیِعُ نه یَبِیْعُ۔

**قاعده 6:** کچرے واو او یاء مفتوح وی او ماقبل حرف صحیح ساکن وی نو د هغې فتحه ماقبل له ورکې او دا په الف سره بدل کی ۔یُقْوَلُ نه یُقَالُ ۔یُبْیَعُ نه یُبَاعُ۔

**قاعده 7:** کوم واو او یاء چې د الف زائده یعنې د اسم فاعل د الف نه روستو راشی نو دی واو او یاء لره به په همزه سره بدلوی۔لکه: بَایِعٌ نه بائِعٌ  او قاوِلٌ نه قَائِلٌ۔

**قاعده 8:** مصدر کښې واو د کسرے نه بعد راشی او د هغې په فعل کښې تعلیل شوے وی ۔نو داواو په یاء سره بدلوی لکه: د قَامَ مصدر  قِوَامًا نه قِیَامًا وئیل۔

**قاعده 9:** د باب افعال یا استفعال په عین کلمه کښې کچرے واو یا یاء وی نو په مصدر کښې دا په الف سره بدل کړی او الف حذف کړی او ددی په بدل کښې په آخر کښې د تاء زیادت وکړی۔لکه: اِقوَامٌ نه اِقامَةٌ  او اِستِقْوامٌ نه  اِستِقَامةٌ ۔

**نوټ:** یاد ساتل پکار دی کله کله د یو لفظ په تعلیل کښې متعددے قاعدے هم جمع کیږی مثلًا: مَبِیعٌ  اصلًا  مَبْیُوعٌ وو۔

پدی کښې یٓ متحرک او ماقبل ساکن وؤ نو د یٓ حرکت ئُ ماقبل له ورکو اوس دوه ساکنان جمع شو مَبُیْوْعٌ  بیا یٓ حذف شو نو بیا  مَبُوعٌ شو ۔

بیا د بٓ  ضمه ئې په کسرے سره بدل کړه تاکه په حذف یاء باندی دلالت وکی  نو مَبِوْعٌ شو۔

بیا واو ساکن ماقبل مکسور شو نو واو په یاء سره بدل شو مَبِیعٌ شو ۔

**د اجوف واوی بیان**

اجوف واوی ثلاثی مجرد د دریو بابونو نه رازی ،نَصَرَ ،ضَرَبَ ، سَمِعَ۔

**اجوف واوی ازباب نصر :القولُ  وئیل ۔**

صرف صغیر (وړوکے گردان)

قَالَ يَقُولُ قَولًا فهو قَائِلٌ و قِيلَ يُقَالُ قَولًا فذاکَ مَقُولٌ الامر منهُ قُلْ والنهی عنهُ لاتَقُلْ الظرف منهُ مَقَالٌ والاٰلةُ منهُ مِقْوَلٌ مِقْوَلَةٌ مِقْوالٌ اسم التفضیل اَقْوَلُ والمؤنث منهُ قُولیٰ۔

صرف کبیر:

قَالَ قَالَا قَالُوا قَالَتْ قَالَتَا قُلْنَ قُلْتَ قُلْتُما قُلْتُم قُلْتِ قُلْتُما قُلْتُنَّ قُلْتُ قُلْنا۔

قال په اصل کښې قَوَلَ بروزن نَصَرَ وؤ ،واو ما قبل مفتوح وو بدل شو په الف باندی د قالَتا پورے دغه تعلیل شوے دے۔

قُلْنَ په اصل کښې قَوَلْنَ وو بروزن نَصرنَ واؤ ماقبل مفتوح بدل شو په الف سره قَالْنَ شو الف التقاء ساکنین د وجے نه حذف شو نو قَلْنَ شو ،بیا ئی فتحه په ضمه سره بدل کړو تاکه په واو محذوف باندی دلالت وکی قُلْنَ شو ،

هم دغه تعلیل د قُلْنا پورے شویدے۔

<u>**ماضی مثبت مجهول:**</u>

قِیلَ قِیلا قِیلُوا قِیلَتْ قِیلَتا قُلْنَ قُلْتَ قُلْتُما قُلْتُم قُلْتِ قُلْتُما قُلْتُنَّ قُلْتُ قُلْنا۔

قِیلَ په اصل کښې قُوِلَ وؤ بروزن نُصِرَ دواو کسره نقل که ماقبل له ئی ورکه د ماقبل دحرکت لرے کولو نه بعد قِوْلَ شو ، اُس واو ساکن ماقبل مکسور شو نو واو په یاء بدل شو قِیْلَ شو ۔

هم دغه تعلیل د قِیْلَتا پورے دے۔

قُلْنَ په اصل کښې قُوِلْنَ وؤ د نْصِرْنَ په وزن دواو کسره نقل که ماقبل له ئی ورکه د ماقبل دحرکت لرے کولو نه بعد قِوْلْنَ شو ۔

بیا واو ساکن ماقبل کسره په وجه واو په یاء بدل شو قِیْلْنَ شو بیا دوه ساکنه جمع شول نو یاء حذف شو قِلْنَ شو ۔

بیا ئی د قَ کسره په ضمه سره بدل کړو تاکه په واو محذوف باندی دلالت وکی قُلْنَ شو ، هم دغه تعلیل د قُلْنا پورے شویدے۔

(او په دی دوؤ ګردانونو کښی د قُلْنَ نه تر آخره پوری د معرف او مجهول صیغے ظاهرًا یوشان دی د ما ضی مثبت معروف او مجهول په شروع کښی ما لګوه او د منفی ګردانونه تری وکه!۔

## مضارع مثبت معروف:

| | | |
|---|---|---|
| یَقُوْلُ | یَقُوْلانِ | یَقُوْلُونَ |
| تَقُوْل | تَقُوْلانِ | یَقُلْنَ |
| تَقُوْلُ | تَقُوْلانِ | تَقُوْلونَ |
| تَقُوْلِینَ | تَقُوْلانِ | تَقُلْنَ |
| اَقُوْلُ | نَقُــــــوْلُ | |

یَقُولُ په اصل کښی یَقْوُلُ وؤ بروزن یَنْصُرُ واو متحرک ما قبل حرف صحیح ساکن نو د واو حرکت ماقبل له ورکو یَقُولُ شو ،

دا تعلیل د دوؤ(یَقُلْنَ ، تَقُلْنَ )صیغو نه علاوه په ټولو صیغو کښی دے ۔

یَقُلْنَ په اصل کښی یَقْوُلْنَ بروزن یَنْصُرْنَ وؤ ،واو متحرک ما قبل حرف صحیح ساکن نو د واو حرکت ماقبل له ورکو،یَقُوْلْنَ شو دوه ساکنان جمع شو واو حذف شو یَقُلْنَ پاتی شو ۔هم دغه تعلیل په تَقُلْنَ کښی دے۔

## مضارع مثبت مجهول:

| | | |
|---|---|---|
| یُقَالُ | یُقَالانِ | یُقَالُونَ |
| تُقَالُ | تُقَالانِ | یُقَلْنَ |
| تُقَالُ | تُقَالانِ | تُقَالُونَ |
| تُقَالِینَ | تُقَالانِ | تُقَلْنَ |
| اُقَالُ | نُقَالُ | |

**یُقَالُ** په اصل کښی یُقْوَلُ وو بروزن یُنْصَرُ واو متحرک ما قبل حرف صحیح ساکن نو د واو حرکت ماقبل له ورکو یُقَوْلُ شو نو بله قاعده مخامخ شوه ،چی واو اصلاً متحرک وو او ماقبل ئې متحرک شو نو واو په الف سره بدل شو یُقَالُ شو هم دغه

تعلیل د دوؤ صیغو(یُقَلْنَ،تُقَلْنَ) نه علاوه په ټولو کښې شوے دے۔ **یُقَلْنَ** په اصل کښې یُقْوَلنَ وو ، واو متحرک ما قبل حرف صحیح ساکن نو د واو حرکت ماقبل له ورکو ، نو بله قاعده مخامخ شوه ،چی واو اصلاً متحرک وو او ماقبل ئی متحرک شو نو واو په الف سره بدل شو نو یُقالْنَ شو ،

دوه ساکنین جمع شول نو الف وغرزیدو یُقَلْنَ شو ،هم دغه تعلیل په تُقَلْنَ کښې شوے دے۔

## نفی تاکید بلَن معروف :

| | | |
|---|---|---|
| لَنْ یَقُوْلَ | لَنْ یَقُوْلا | لَنْ یَقُوْلُوا |
| لَنْ تَقُوْلَ | لَنْ تَقُوْلا | لَنْ یَقُلْنَ |
| لَنْ تَقُوْلَ | لَنْ تَقُوْلا | لَنْ تَقُوْلوا |
| لَنْ تَقُوْلِی | لَنْ تَقُوْلا | لَنْ تَقُلْنَ |
| لَنْ اَقُوْلَ | لَنْ نَقُـــــــــوْلَ | |

## نفی تاکید بلَن مجهول:

| | | |
|---|---|---|
| لَنْ یُقَالَ | لَنْ یُقَالا | لَنْ یُقَالُوا |
| لَنْ تُقَالَ | لَنْ تُقَالا | لَنْ یُقَلْنَ |
| لَنْ تُقَالَ | لَنْ تُقَالا | لَنْ تُقَالُوا |
| لَنْ تُقَالی | لَنْ تُقَالا | لَنْ تُقَلْنَ |
| لَنْ اُقَالَ | لَنْ نُقَالَ | |

پدی دوؤ ګردانونو کښې د مضارع معروف او مجهول پشان تعلیل شوے دے ـد لَنْ عمل یاد ساتۍ!۔

## نفی جحد بَلَمْ معروف:

| | | |
|---|---|---|
| لَمْ یَقُلْ | لَمْ یَقُوْلا | لَمْ یَقُوْلُو |
| لَمْ تَقُلْ | لَمْ تَقُوْلا | لَمْ یَقُلْنَ |
| لَمْ تَقُلْ | لَمْ تَقُوْلا | لَمْ تَقُوْلوا |
| لَمْ تَقُوْلِی | لَمْ تَقُوْلا | لَمْ تَقُلْنَ |
| لَمْ اَقُلْ | لَمْ نَقُـــــــلْ | |

په کومو صیغو کښې چې د عین کلمه نه واو حذف شوے دے په هغوی کښې د يَقُلْنَ پشان تعلیل شوے دے او په کومو صیغو کښې چې واو موجود دے په هغوی کښې د يَقُولُ په مثل تعلیل شوے دے۔

**نفی جحد بَلَمْ مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَمْ يُقَلْ | لَمْ يُقَالا | لَمْ يُقَالُوا |
| لَمْ تُقَلْ | لَمْ تُقَالا | لَمْ يُقَلْنَ |
| لَمْ تُقَلْ | لَمْ تُقَالا | لَمْ تُقَالُوا |
| لَمْ تُقَالِى | لَمْ تُقَالا | لَمْ تُقَلْنَ |
| لَمْ أُقَلْ | لَمْ نُقَلْ | |

په کومو صیغو کښې چې الف حذف شوے دے په هغوی کښې د يُقَلنَ پشان تعلیل شوے دے،

او په کومو صیغو کښې چې الف موجود دے په هغوی کښې د يُقَالُ په مثل تعلیل شوے دے

**لام تاکید بانون تاکید ثقیله معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَيَقُوْلَنَّ | لَيَقُوْلانِّ | لَيَقُوْلُنَّ |
| لَتَقُوْلَنَّ | لَتَقُوْلانِّ | لَيَقُلْنَانِّ |
| لَتَقُوْلَنَّ | لَتَقُوْلانِّ | لَتَقُوْلُنَّ |
| لَتَقُوْلِنَّ | لَتَقُوْلانِّ | لَتَقُلْنَانِّ |
| لَأَقُوْلَنَّ | لَنَقُــــــــوْلَنَّ | |

**لام تاکید بانون تاکید ثقیله مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَيُقَالَنَّ | لَيُقَالانِّ | لَيُقَالُنَّ |
| لَتُقَالَنَّ | لَتُقَالانِّ | لَيُقَلْنَانِّ |
| لَتُقَالَنَّ | لَتُقَالانِّ | لَتُقَالُنَّ |
| لَتُقَالِنَّ | لَتُقَالانِّ | لَتُقَلْنَانِّ |
| لَأُقَالَنَّ | لَنُقَالَنَّ | |

**لام تاکید بانون تاکید خفیفه معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَيَقُوْلَنْ | | لَيَقُوْلُنْ |
| لَتَقُوْلَنْ | | |
| لَتَقُوْلَنْ | | لَتَقُوْلُنْ |
| لَتَقُوْلِنْ | | |
| لَاَقُوْلَنْ | لَنَقُـــــــوْلَنْ | |

**لامِ تاکید بانون تاکید خفیفه مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَيُقَالَنْ | | لَيُقَالُنْ |
| لَتُقَالَنْ | | |
| لَتُقَالَنْ | | لَتُقَالُنْ |
| لَتُقَالِنْ | | |
| لَاُقَالَنْ | لَنُقَالَنْ | |

**امر معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لِيَقُلْ | لِيَقُوْلا | لِيَقُوْلُو |
| لِتَقُلْ | لِتَقُوْلا | لِيَقُلْنَ |
| قُلْ | قُوْلا | قُوْلوا |
| قُوْلِی | قُوْلا | قُلْنَ |
| لِاَقُلْ | لِنَقُـــــــلْ | |

په کومو صیغو کښی چی د عین کلمه نه واو حذف شوے دے په هغوی کښی د يَقُلْنَ پشان تعلیل شوے دے او په کومو صیغو کښی چی واو موجود دے په هغوی کښی د يَقُولُ په مثل تعلیل شوے دے۔

قُلْ په اصل کښی اُقْوُلْ وو د اُنْصُرْ پشان د يَقُلْنَ په مثل تعلیل نه بعد قّ کلمه متحرک شوه نو د همزه وصل ضرورت رانغے۔

**امر مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُقَلْ | لِيُقَالا | لِيُقَالُوا |
| لِتُقَلْ | لِتُقَالا | لِيُقَلْنَ |
| لِتُقَلْ | لِتُقَالا | لِتُقَالُوا |

| | | |
|---|---|---|
| لِتُقَالی | لِتُقَالا | لِتُقَلْنَ |
| لِأُقَلْ | لِنُقَلْ | |

په کومو صیغو کښې چې الف حذف شوے دے په هغوی کښې د یُقَلنَ پشان تعلیل شوے دے ،

او په کومو صیغو کښې چې الف موجود دے په هغوی کښې د یُقَالُ په مثل تعلیل شوے دے

**امر معروف بانون ثقیله:**

| | | |
|---|---|---|
| لِیَقُوْلَنَّ | لِیقُوْلانِّ | لِیَقُوْلُونَّ |
| لِتَقُوْلَنَّ | لِتَقُوْلانِّ | لِیَقُلْنَانِّ |
| قُوْلَنَّ | قُوْلانِّ | قُوْلُنَّ |
| قُوْلِنَّ | قُوْلانِّ | قُلْنَانِّ |
| لِاَقُوْلَنَّ | لِنَقُـــــــــوْلَنَّ | |

فائده: قُولَنَّ اصل کښې اُقْوُلَنَّ وؤ د یَقُولُ په مثل تعلیل سره دهمزه وصل ضرورت پاتې نه شو

قُلنانِّ په اصل کښې قُوْلنانِّ وو واو د اجتماع ساکنین د وجې نه حذف شو۔

**امر مجهول بانون ثقیله :**

| | | |
|---|---|---|
| لِیُقَالَنَّ | لِیُقَالانِّ | لِیُقَالُنَّ |
| لِتُقَالَنَّ | لِتُقَالانِّ | لِیُقَلْنَانِّ |
| لِتُقَالَنَّ | لِتُقَالانِّ | لِتُقَالُنَّ |
| لِتُقَالِنَّ | لِتُقَالانِّ | لِتُقَلْنَانِّ |
| لِأُقَالَنَّ | لِنُقَالَنَّ | |

**امر معروف بانون خفیفه:**

| | | |
|---|---|---|
| لِیَقُوْلَنْ | | لِیَقُوْلُنْ |
| لِتَقُوْلَنْ | | |
| قُوْلَنْ | | قُوْلُنْ |

| | | |
|---|---|---|
| قُوْلنْ | | |
| لِاَقُوْلَنْ | لِنَقُــــــــوْلَنْ | |

**امر مجهول بانون خفيفه:**

| | | |
|---|---|---|
| لِيُقَالَنْ | | لِيُقَالُنْ |
| لِتُقَالَنْ | | |
| لِتُقَالَنْ | | لِتُقَالُنْ |
| لِتُقَالِنْ | | |
| لِأُقَالَنْ | لِنُقَالَنْ | |

**نهی معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَايَقُلْ | لَا يَقُوْلا | لَا يَقُوْلُو |
| لَا تَقُلْ | لَا تَقُوْلا | لَايَقُلْنَ |
| لَا تَقُلْ | لَا تَقُوْلا | لَاتَقُوْلوا |
| لَاتَقُوْلِى | لَاتَقُوْلا | لَا تَقُلْنَ |
| لَا اَقُلْ | لَا نَقُــــــــلْ | |

پدی کښې د نفی جحد بلم په مثل تعلیل شوے دے۔

**نهی مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَا يُقَلْ | لَا يُقَالا | لَا يُقَالُوا |
| لَا تُقَلْ | لَا تُقَالا | لَايُقَلْنَ |
| لَا تُقَلْ | لَاتُقَالا | لَا تُقَالُوا |
| لَا تُقَالِى | لَا تُقَالا | لَا تُقَلْنَ |
| لَاأُقَلْ | لَا نُقَلْ | |

**نهی بانون تاکید ثقیله معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَايَقُوْلَنَّ | لَايَقُوْلانِّ | لَايَقُوْلُنَّ |
| لَاتَقُوْلنَّ | لَاتَقُوْلانِّ | لَايَقُلْنَانِّ |
| لَاتَقُوْلَنَّ | لَاتَقُوْلانِّ | لَاتَقُوْلُنَّ |
| لَاتَقُوْلِنَّ | لاتَقُوْلانِّ | لَاتَقُلْنَانِّ |

| | | |
|---|---|---|
| لَااَقُوْلَنَّ | لَانَقُــــــوْلَنَّ | |

پدی گردان کښی د لام بانون ثقیله معروف په مثل تعلیل شوے دے۔

**نهی بانون تاکید ثقیله مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَایُقَالَنَّ | لَایُقَالانِّ | لَایُقَالُنَّ |
| لَاتُقَالَنَّ | لَاتُقَالانِّ | لَایُقَلْنَانِّ |
| لَاتُقَالَنَّ | لاتُقَالانِّ | لَاتُقَالُنَّ |
| لَاتُقَالِنَّ | لَاتُقَالانِّ | لَاتُقَلْنَانِّ |
| لَااُقَالَنَّ | لَانُقَالَنَّ | |

**نهی بانون تاکید خفیفه معروف:**

| | | |
|---|---|---|
| لَایَقُوْلَنْ | | لَایَقُوْلُنْ |
| لَاتَقُوْلَنْ | | |
| لَاتَقُوْلَنْ | | لَاتَقُوْلُنْ |
| لَاتَقُوْلِنْ | | |
| لَااَقُوْلَنْ | لَانَقُــــــوْلَنْ | |

**نهی بانون تاکید خفیفه مجهول:**

| | | |
|---|---|---|
| لَایُقَالَنْ | | لَایُقَالُنْ |
| لَاتُقَالَنْ | | |
| لَاتُقَالَنْ | | لَاتُقَالُنْ |
| لَاتُقَالِنْ | | |
| لَااُقَالَنْ | لَانُقَالَنْ | |

**اسم فاعل :**

| | | |
|---|---|---|
| قَائِلٌ | قائِلانِ | قائِلونَ |
| قَائِلَةٌ | قائِلتانِ | قائِلاتٌ |

قائِلٌ اصل کښی قاوِلٌ وو ،واو د الف زائد نه بعد راغے په همزه بدل شو ۔

**اسم مفعول :**

| | | |
|---|---|---|
| مَقُولٌ | مَقُولانِ | مَقُولونَ |
| مَقُولَةٌ | مَقُولَتانِ | مَقُولَاتٌ |

مَقُولٌ اصل کښې مَقْوُولٌ وو ،د يَقولُ پشان تعليل پکښې وشو بيادوه ساکنان جمع شول دے وجے نه يو واو حذف شو ۔

**اسم آله:**

| | | |
|---|---|---|
| مِقْوَلٌ | مِقْوَلانِ | مَقَاوِلُ |
| مِقْوَلةٌ | مِقْوَلَتانِ | مَقَاوِلُ |
| مِقْوالٌ | مِقوالانِ | مَقاوِيلُ |

**اسم تفضيل :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَقْوَلُ | اَقْوَلانِ | اَقْوَلُونَ | اَقاوِلُ |
| قُولٰى | قُولَيانِ | قُولَياتٌ | قُوَلٌ |

**تمرين:**

درج ذيل مصادرو نه گردانونه وکئ!

1: البولُ بول کول: بائِلٌ بُلْ لاتَبُلْ۔۔

2:التوبةُ توبه کول تائبٌ تُبْ لاتَتُبْ

3:الجُوعُ وږي کيدل جائعٌ جُعْ لاتَجُعْ

4: الذوقُ څکنه کول ذائقٌ ذُقْ لاتذُقْ

5: العودُ واپس کيدل عائدٌ عُدْ لاتَعُد

6: القيامُ ودريدل قائمٌ قُمْ لاتَقُم ۔

**اجوف واوى د باب نصرَ نه ختم شو ،وس اجوف واوى د باب ضربَ نه شروع کيږى ۔**

**طَاحَ يَطِيحُ ضَرَ بَ يضرِبُ:**

طَاحَ د الطوح نه ماضی ده طَوَحَ وو واؤ متحرک ماقبل مفتوح واؤ په الف سره بدل شو د قالَ پشان۔

طَاحَ يَطِيحُ طوحًا فهو طائحٌ و طِيحَ يُطاحُ طوحًا فهو مطوحٌ الامر منهُ طِحْ

والنهیُ عنهُ لاتَطِحْ والظرف منهٗ مَطِيحٌ مَطيحانِ مطاوِحُ والاٰلةُ منهُ مِطْوَحٌ مِطوَحانِ مَطاوِحُ مِطوحةٌ مِطوَحتانِ مَطاوِحُ مِطواحٌ مِطواحانِ مَطاوِيحُ۔

اسم التفضيل منهُ اَطْوَحُ اطوَحانِ اطاوِحُ و المؤنث منهُ طُوحیٰ طوحيانِ طُوحياتٌ طُوَحٌ۔

يَطِيحُ اصل کښې يَطْوِحُ وؤ د يضربُ په وزن باندی واو متحرک ما قبل حرف صحيح ساکن نو د واو حرکت ماقبل له ورکو ،نو وس واو ساکن ماقبل مکسور شو واو په ياء سره بدل شو ۔

طائحٌ : در اصل طاوِحٌ وو ، واو د الف زائد نه بعد راغې په همزه بدل شو ۔

طِيحَ: دراصل طُوِحَ وو بروزن ضُرِبَ دواو کسره نقل که ماقبل له ئی ورکه د ماقبل دحرکت لرے کولو نه بعد طِوحَ شو ، اُس واو ساکن ماقبل مکسور شو نو واو په ياء بدل شو ۔

مطوحٌ: دراصل مَطوُوحٌ وؤ بروزن مضروبٌ ړومبے واو متحرک ماقبل حرف صحيح ساکن حرکت دواو ماقبل له ورکو نو وس دوه ساکنان جمع شول نو يو واو حذف شو ۔

طِحْ: دراصل اطْوَحْ بروزن اِضْرِبْ وو ،د واو حرکت ماقبل له ورکو نو وس دوه ساکنه جمع شول واو حذف شو او دهمزه وصل ضرورت پاتی نشو هغه هم حذف شو طِحْ شو۔

لَا تَطِحْ : دراصل لا تَطوِح وؤ بروزنِ لا تَضْرِبْ واو حرکت ماقبل له ورکو بيا دوه ساکنان جمع شول واو حذف شو۔

مَطِيحٌ: دراصل مَطوِحٌ وو بروزنِ مَضْرِبٌ په دی کښې د يَطِيحُ په مثل تعليل شوے دے۔

صرف کبیر:

## ماضی مثبت معروف:

| | | |
|---|---|---|
| طَاحَ | طَاحَا | طَاحُوا |
| طَاحَتْ | طَاحَتا | طُحْنَ |
| طُحْتَ | طُحْتُما | طُحْتُم |
| طُحْتِ | طُحْتُما | طُحْتُنَّ |
| طُحْتُ | طُحْنا | |

طَاحَ د الطوح نه ماضی ده طَوَحَ وو واؤ متحرک ماقبل مفتوح واؤ په الف سره بدل شو د قالَ پشان۔

طُحْنَ دراصل طَوَحْنَ وو بروزن ضَرَبْنَ وؤ، واو متحرک ماقبل مفتوح واو په الف بدل شو ،بیا دوی ساکنه جمع شول ،اکف حذف شو طؔ له ئی ضمه ورکه چی دلالت وکی د واو په حذف باندی هم دغه تعلیل تر آخره پورے دے۔

## ماضی مجهول:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| طِیحَ | طِیحَا | طِیحُوا | طِیحَتْ | طِیحَتَا | طُحْنَ | طُحْتَ |
| طُحْتُما | طُحْتُم | طُحْتِ | طُحْتُما | طُحْتُنَّ | طُحْتُ | طُحْنا |

پدی گردانکښی هم د قِیلَ او قُلنَ پشان تعلیل شوے دے۔ دلته هم طُحنَ نه تر آخره پورے د معروف او مجهول صیغے یو شان دی۔

## مضارع مثبت معروف:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| یَطِیحُ | یَطیحانِ | یَطیحونَ | تَطِیحُ | تَطِیحَانَ | یَطِحنَ | تَطِیحُ |
| تَطِیحَانِ | تَطِیحُونَ | تَطِیحِینَ | تَطِیحانِ | تَطِحنَ | اَطِیحُ | نَطِیحُ |

یَطِحنَ دراصل یَطْوِحنَ وو بروزن یضرِبنَ دواو حرکت ما قبل ته ورکو او بیا واو په یؔ سره بدل شو بیا د اجتماع ساکنین د وجے نه یؔ حذف شوه۔

## مضارع مجهول :

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| یُطَاحُ | یُطَاحَانِ | یُطَاحُونَ | تُطَاحُ | تُطَاحَانِ | یُطَحنَ | تُطَاحُ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
